# سوله

# د اسلام له نظره


جان محمد زاهدي احمدزی

[illegible]



CPAU

انجمن همکاری برای صلح و همبستگی


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتاب ځانګړ تیاوی

د کتاب نوم : سوله د اسلام له نظره

محقق : استاد زاهدی احمدزی

کمپیوټر دیزاینر : میرویس رامکی

ناشر : د سولې او پیوستون له پاره د همکاری ټولنه

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ جلد

د چاپ تاریخ : ۱٤۲۱ ق - ۱۳۷۹ ش - ۲۰۰۰ م

لومړی چاپ

چاپ : د صبور د اسلامي خپرونو مرکز، ګل حاجی پلازه ۱۲۲

تیلفون ۸٤۳۳۸۲

د دې کتاب ټول حقوق د سولې او پیوستون له پاره د همکاری ټولنه پوری اړه لری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوله د اسلام له نظره

محققین : استاد زاهدی احمدزی او
عبدالواحد نهضت فراهی

د سولې او پیوستون له پاره د همکاری ټولنه
۱٤۲۱ق - ۱۳۷۹ش

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالـــــی

ټولو هغو و ګډو ، ټولنو او انجمنو نو ته چې د بشري ټولنی له پاره د سوله ئیز ژوند کولو هاند کوی ، له جنګ څخه کرکه کوی ، ترهه ګر کری غندی او د بشری وینی درناوی کوی او د ځمکی د اعمار له پاره سوله او امن ضروری ګنی .

د سولی او یووالی د پاره د هڅو کولو انجمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

عنوان — مخ

سريزه........................................ ۱

## لمړی برخه

## تعريف لغوی

اصطلاحی........................................ ۳
د سولی شرعی حکم........................................ ۵
دسولی ډولونه........................................ ۶
د مسلمانانو او کفارو ترمنځ صلحه........................................ ۷
شرطونه........................................ ۱۱
لومړی شرط ، دويم شرط ، دريم شرط........................................ ۱۳
څلورم........................................ ۱٤
پنځم........................................ ۱٥
شپږم........................................ ۱۷
اووم شرط

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوان — مخ

دویمډول دمیړه او میرمن ترمنځ سوله.................... ۱۹
په وصیت کې سوله.................... ۲۶
په پر هارونو کې سوله.................... ۲۸
په مالي حقوقو کې.................... ۳۱
ددغې سولې ډولونه، ۱- صلح مع اقرار.................... ۳۲-۳۳
۲- صلح مع انکار، ۳- صلح مع سکوت
د دوو مسلمانو جنګياليو دلو ترمنځ د اوربند سوله کول.................... ۳۶

## دوهمه برخه

## احکام او مسائل

د صلحې احکام.................... ۵۱
د سولې ديني ارزښت.................... ۵۵
سوله کول د الله تعالی حکم دی.................... ٦٤
د حضرت حسن او حضرت معاويه ترمنځ سوله.................... ٦٦
سوله کول غوره عمل.................... ۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوان — مخ

سوله ئیز ژوند او اسلام........................ ۷۷
د مدینې میثاق........................ ۷۸

## دریمه برخه

## د سوله ئیز ژوند کولو تعریف

د نبوی احادیثو په رڼا کې سوله ئیز ژوند........................ ۸۵
ټولنیز عدالت........................ ۹۱
اسلام او د بشر حقوق........................ ۹۹
په اسلام کې مدنی او اقتصادی حقوق........................ ۱۰٦
اقتصادی حقوق........................ ۱۰۹
د انتقام په پرتله عفوه........................ ۱۱٦
د انتقام په مقابل که د عفوی په باره کې نبوی سیرت........................ ۱۲۰
امنیت مصئونیت راولی........................ ۱۲٤
پای........................ ۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرلیک

د سولې په نامه کتاب د اسلام د مقدس دین له نظره لومړنی څېړنیز، تحقیقي اثر ده چې د سولې او پېوستون لپاره د همکارۍ د ټولنې له خوا چاپ شوی. دا کتاب د دوو نومیالیو او مشهورو دیني عالمانو د هلو ځلو نتیجه ده چې په دوو ملي ژبو، پښتو او دري خپور شویدی. د یادونې وړ ده چې دا کتاب مخکې له دې چې چاپ شي د یو دري ورځنی ورکشاپ په لړ کې د افغاني پوهانو له خوا تر غور او څېړنې لاندې ونیول شو او هر اړخیز بحثونه پرې ترسره شول او د قبول وړ وګرځېد.

د دې کتاب په رابطه له مختلفو باوري منابعو څخه ګټه اخیستل شوې ده، دا کتاب مونږ ته دا راښيي چې د اسلام دین په دوامداره او پرله پسې توګه د لانجو د حل او د سولې کولو لارښونه کوي. په بل عبارت له دغه تحقیقي اثر څخه ثابتیږي چې د اسلام مبارک دین د سولې او برابرۍ دین دی چې د هر ډول قهر او غصې په کنترول ټینګار کوي. د اسلام دین خپل پیراوان سولې، مینې، ربښتینولۍ او ورورګلوۍ ته رابولي.

که د اسلام د دین بنسټ او اساس ته نظر وشي په ښکاره توګه به دا معلومه شي چې د اسلام دین د سولې او عدالت پر ستنو ولاړ دی. له بده مرغه په دې هکله د مسلمانانو غرضي تبلیغات او ځیني عملونه د اسلام د احکامو څخه توپیر او مخالفت لري.

د اسلام پاک دین نه یوازې دا چې خپلو پیروانو ته د سولې لارښوونه کوي بلکې امر کوي چې د نورو ادیانو له پیروانو سره هم په سوله او صمیمیت کې ګذاره وکړي.

لکه څنګه چې د راشده خلیفه ګانو په وخت کې اسلام د لویو ولسي نظامونو په جمله کې حسابیده په دغه دوره کې اسلام د ولسواکی نظام واقعي ښکارندوی ؤ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونان د وخت ولسوالکۍ ټولنیز عدالت، د عربو، عجمو، تور او سپین، غلام او آزاد، ناتوان او توانمند ترمنځ د اسلامي اساساتو مطابق په سوله ایزه توګه تطبیقیده. ځو له بده مرغه هغه په ولسي ستنو ولاړ اسلامي نظام چې د راشده خلیفه ګانو په وخت کې موجود وو. د امویانو په (۹۰) کلنه دوره او وروسته بیا د عباسیانو په دوره کې په اصلي حالت پاتې نه شو او له خپل مسیر څخه واوښت، چاروا کو له اسلامي اساساتو او له سوله ایزو اصولو څخه ډیره لږه ګټه اخیستله او ددې پرځای یې خپلو هدفونو او غرضونو ته د رسیدو په خاطر د دکتاتوري نظامونو د لارو، چارو او طریقو څخه کار واخیست. دا ښکاره او روښانه ده چې داسي عملونه د وخت د یو زمامدار کارؤ په داسي حال کې چې اسلام پخپله د بلنې، سولې او ولسواکۍ لار او طریقه ده.

د سولې او پیوستون له پاره د همکارۍ ټولنه هیله منده ده چې د دغه څېړنیز اثر په لوستلو سره به د سوله ایزو ارمانونو په تطبیق کې مثبت پرمختګ رامنځ ته شي او د خلکو د ذهنیتونو په روښانه کولو کې به مؤثر او ګټور ثابت شي او د قهر آمیزه پېښو په مقابل کې به مثبت بدلون راشي.

مونږ هیله مند یو چې دغه باارزښته کتاب به د داسي یوې ټولنې د جوړیدو په لاره کې چې د تبعیض، تعصب، بیلوالي او توپیر څخه خلاصه وي رغنده او په زړه پورې کردار ترسره کړای شي.

په ډیر درناوي

د سولې او پیوستون له پاره د همکارۍ ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مراجع

په دغه کتاب «سوله د اسلام له نظره» کی له دغولاندی ماخذونه څخه استفاده شوی ده.

۱ - قران کریم



| تفاسیر: | مصنف | متوفی |
|---|---|---|
| ۲ - تفسیر قرطبی | امام محمد بن احمد قرطبی | ٦٧١ هـ |
| ۳ - تفسیر ماوردی | امام ابوالحسن علی بن حبیب ماوردی | ٤٥٠ هـ |
| ٤ - تفسیرالمحرر الوجیز | امام عبدالحق بن غالب بن عطیه اندلسی | ٥٤٦ هـ |
| ٥ - تفسیر ابن کثیر | حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمروبن کثیر | ٧٧٤ هـ |
| ٦ - تفسیر موضح الفرقان | علامه محمود الحسن د یوبندی | ۱۳۳۹ هـ |
| ۷ - تفسیر مجمع البیان | علامه طبرسی - فضل بن حسن | ٥۳۸ هـ |
| ۸ - تفسیر معارف القرآن | مولانا مفتی محمد شفیع | ۱۳۹٦ هـ - ۱۹۷٦ هـ |
| ۹ - تفسیر جصاص | علامه احمد بن علی رازی جصاص | ۳۷۰ هـ |
| ۱۰ - تفسیر تفهیم القران | مولانا سید ابوالاعلی مودودی | ۱۳۹۹ هـ |
| ۱۱ - تفسیر بیان القران | حکیم الامة مولانا اشرف علی تهانوی | ۱۳٦۲ هـ |
| ۱۲ - تفسیر سراج المنیر | علامه محمد شربینی الخطیب | ۹۷۷ هـ |
| ۱۳ - تفسیر مدارک | امام عبدالله بن احمد نسفی | ۷۰۱ هـ |
| ۱٤ - تفسیر روح المعانی | شهاب الدین سید محمد الوسی مفتی بغداد | ۱۲۷۰ هـ |
| ۱٥ - تفسیر کبیر | علامه شیخ محمد بن عمر رازی | ٦۰٦ هـ |
| ۱٦ - تفسیر صفوة التفاسیر | محمد علی صابونی | |
| **آحادیث:** | | |
| ۱۷ - صحیح بخاری | امام ابی عبدالله محمد بن اسماعیل بخاری | ۲٥٦ هـ |
| ۱۸ - صحیح مسلم | امام مسلم بن حجاج قشیری نیشاپوری | ۲٦۱ هـ |
| ۱۹ - سنن ابی داود | امام ابو داود سلیمان بن اشعث | ۲۷٥ هـ |
| ۲۰ - جامع ترمذی | امام محمد بن عیسی ترمذی | ۲۷۹ هـ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ - سنن دارقطنی | امام علی بن عمر دارقطنی | ۳۸۵هـ |
| ۲۲ - مشکوة | شیخ ولی الدین تبریزی | |
| ۲۳ - نهج البلاغه | امام سید شریف رضی | |
| ۲۴ - نیل الأوطار | امام شوکانی محمد بن علی | ۱۲۵۰هـ |
| ۲۵ - سبل السلام | امام محمد بن اسماعیل الامیر الیمنی الصنعانی | ۱۱۸۲هـ |
| ۲۶ - فتح الباری | امام حافظ احمد بن حجر عسقلانی | ۸۵۲هـ |
| ۲۷ - اشعة اللمعات | شیخ عبدالحق د هلوی | ۱۰۵۲هـ |
| ۲۸ - عون المعبود | علامه ابی طیب محمد شمس الحق عظیم ابادی | |
| ۲۹ - فیض الباری | شاه انورشاه کشمیری بن سید محمد معظم | ۱۳۵۲هـ |
| ۳۰ - غایة المأمول | شیخ منصور علی ناصف | ۱۹۲۴هـ |

**فقه:**

| | | |
|---|---|---|
| ۳۱ - کتاب الخراج لابی یوسف | امام او قاضی یعقوب بن ابراهیم | ۱۸۳هـ |
| ۳۲ - کتاب الاموال لابی عبید | حافظ او عظیم امام ابی عبید قاسم بن سلام | ۲۲۴هـ |
| ۳۳ - هدایه | علی بن أبی بکر فرغانی مرغینانی | ۵۹۳هـ |
| ۳۴ - المغنی لابن قدامه | علامه موفق الدین عبدالله بن احمد ابن قدامه مقدسی | ۶۲۰هـ |
| ۳۵ - شرح السیر الکبیر | امام محمد بن حسن بن فرقد شیبانی | ۱۸۰هـ |
| ۳۶ - جامع الفصولین | شیخ الاسلام محمد بن اسرائیل | ۸۹۲هـ |
| ۳۷ - معین الحکام | امام علاء الدین ابی الحسن طرابلسی | |
| ۳۸ - زبدة الاحکام | امام خمینی | |
| ۳۹ - تحریر الوسیله | امام خمینی | |
| ۴۰ - الحلال و الحرام | علامه یوسف قرضاوی | |
| ۴۱ - کتاب الدیات | امام ضحاک شیبانی | ۲۸۷هـ |
| ۴۲ - الفقه الاسلامی وادلته، | وهبة زحیلی | |
| ۴۳ - توضیح المسائل | امام ابولیث سمرقندی | ۳۷۳هـ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## ســريــزه

**«الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله محمد وعلى آله واصحابه و من دعا بدعوته الى يوم الدين.»**

وبعد:

داسلام مقدس دين يوانځينى هغه دين دى چى د نورو اديانو په نسبت زيات دانسان ژوند ته احترام لرى اوددى خبرى ښكاره دليل دادى چى الله تعالى په ناحقه سره ديو انسان ژوند ختمول دټول انسانيت قتل او ختمول ګڼلى دى لكه چى په قرآن كريم كى الله تعالى فرمايلى دى:

**«مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِى الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعاً و مَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعاً.»** (۱)

***ترجمه:*** *هغه څوک چى ووژنى يو نفس بى له عوض دبل نفس نه يا بى له فساده په ځمكه كى نو ګواكى ټول خلك يې وژلى دى او هرچا چى ژوندى كړ دغه يو نفس نو ګواكى ټول نفس يې ژوندى كړى دى.*

او ددې حكمت دادى چى الله تعالى انسان په ځمكه كى دكومو لويو مقصدونو له پاره پيدا كړى دى چى دځمكى عمران هم پكى دى او بيا يې دځمكى واك ورته وركړى دى په خپل منځى جګړو سره له منځه درومى، تمدن او اجتماعيت تحقق نه مومى. همدا سبب دى چى داسلام مقدس دين اسلامى أمت ته په خپل منځى روغى جوړى، سولى او سلامتى

---

۱- (دمائده سورة ۳۲-آيت ۵ سوره ٦ سپاره ۵ ركوع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم کړی دی، ځکه چې داسلام د کلیمې معنا امن أو سلامتیا ده.
مګر له بده مرغه په پنځمه هجری پیړۍ کې کله چې په اسلامي امت کې یو شمیر داسې وګړو تبارز وکړ چې دخپلو شخصي اغراضو، مادي او سیاسي مقاصدو د ترلاسه کولو حرص أو مینې داسلام دسولې، امن، اجتماعي عدالت، خپل منځي ایثار او قرباني له زرینو هدایاتو څخه لرې کړل، چې تر اوسه پورې په اسلامي امت کې دغه بدمرغي دوام لري چې نه یوازې داچې داسلامي امت تمدن، عمران، سوکالي او هوسا ینه یې تالا ترغه کړې دی؛ بلکې دغیر اسلامي امتونو دمغرضو وګړو له پاره یې هم له اسلامي سوله پالو اصولو څخه په لرې کیدو دازمینه برابره کړې ده چې پر اسلام دنه پوهیدلو او ددغو بې لارې شویو مسلمانانو داعمالو په لیدلو سره پر اسلام تنقیدونه وکړي. سره له دې چې په تیرولسو پیړیو کې داسلامي امت مصلحینو په بشپړه توګه دسولې او امن د پلې کولو په تکل دخپل وس په اندول دعوت چلولی او هلې ځلې یې کړې دي چې په زړه پورې نتیجه یې ورکړې ده، او دامت د پرګنو برم او سکون یې ورته راستون کړی دی، او تر اوسه پورې دغه لړۍ روانه ده او روانه به وي، دا ځکه چې په هرعصر کې ځینې وګړي دنفس او شیطان په لمسه په ځینې ولسونو کې دخپل ولس دسوله ئیز ژوند په لاره کې خنډ واقع کیږي چې نیږدې مثال یې زمونږ دګران هیواد افغانستان روان غمیز حالت دی چې دادی دخپلو سلفو مصلحینو په اتباع سره دغه اثر دسولې او امن دارزښت په بیان کې داسلامي مسئولیت په احساس کولو لیکلی شي الله تعالی دې وکړي چې اغیزمن وګرځیږي او زمونږ دغم ځپلي ملت تالا شوې سوله او امن بیرته راوګرځیږي.

آمین

استاذ زاهدی احمدزی او عبدالواحد نهضت فراهی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله د اسلام له نظره

## لفظي تعریف:

صلح عربي کلیمه ده او په عربي ژبه کې صلح په یوولسو معناو سره راغلی لکه چې امام راغب اصفهاني اونورو عربي ژبو د پوهانو ویلي دي، اوهغه معنا وي يې په لنډيز سره په لاندې کرښو کې بیانولی شي:

الف: د منفعت او ګټې په معنا.

ب: دوړتیا او مناسب والي په معنا.

ج: دښه والي په معنا سره.

د: د استعداد په معنا.

هـ: دجوړښت په معنا. یعني چې په یوشي یا یوچا کې نیمګړتیاوې هغه ورڅخه لرې کړای شي او بشپړ کړای شي.

و: دنیکی او ښیګړي کولو په معنا. یعني نیک عمل کول

ز: دنعمت په معنا:

ی: داتفاق او پخلاکیدو په معنا:

ا-ی: داوربند او جنګ منعه کولو په معنا.

## اصطلاحي تعریف:

دصلح داصطلاحي تعریف په باره کې فقهاؤ مختلف أقوال څرګند کړي دي، داځکه چې دصلح مختلف موارد دي، لکه په اقتصادي معاملاتو کې صلح، په ازدواجي معاملاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د میرو او میرمن ترمنځ صلح، د جګړه مارو خواؤ ترمنځ صلح او داسې نور چې د هر یو مورد له پاره صلح ځانګړی تعریف لري، خو دلته له دې امله چې په جنګي صلح بحث کولی شي او د جنګ او صلح د موضوع د مختلفو اړخونو بیان دي یوازې د جنګي صلح اصطلاحي تعریف وړاندې کولی شي چې محدثینو، مفسرینو، فقهاؤ او عربي لغت پوهانو کړې دې او هغه دادي:

**الصلح: هورفع الحرب و المخاصمات على شروط تعرف بشروط الصلح، او هو عقد يرفع النزاع.**(١)

***ترجمه:*** *صلح په شرعي اصطلاح کې د جنګ بندول او شخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول دي، پر هغو شرطونو سره چې د صلح د شرطونو په نوم سره یادولی شي، یا په بل عبارت: صلح هغه تړون ته ویل کیږي چې جنګ، شخړه او نزاع پرې ختمیږي، برابره خبره ده که نزاع لفظي وي او که وسلواله وي.*

د صلح دغه اصطلاحي تعریف خورا زیات جامع دی، ځکه چې پدغه تعریف سره هر ډول صلح، معاملاتي وي، که محاربوي او که ازدواجي وي ټولې پکې رادرومي. دغه راز محاربوي هر ډول صلح هم پکې راځي، برابره خبره ده که د مسلمانانو او کفارو ترمنځ وي او که د کومې اسلامي ډلګۍ او د هغوی د مسلمان حاکم ترمنځ وي، او که د دوه مسلمانو ډلګیو یا ملیتونو ترمنځ وي، حقوقي وي، که سیاسي وي او که جغرافیوي دغه ګردې صلح احتوا کوي، او پکې رانغاړي یې.

## د صلح شرعي حکم:

په اسلامي شریعت کې هر ډول صلح کول او خپل منځي شخړې ختمول روا دي خو پدې شرط چې حلال پکې حرام نه کړای شي او حرام پکې حلال نه کړای شي. یعنې په سوله کې اسلامي حدود په نظر کې ونیولی شي او د غیر شرعي اعمالو او اقوالو په ارتکاب سوله

١- مفردات القرآن ص ٢٩٢، القاموس المحيط ج ٢ ص ٨٣٩، معجم الوسيط ج ١ ص ٥٢٠، ألمنجد ج ١ ص ٤٣٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه کړای شي، ځکه چې دغه ډول سوله کول په اسلامي شریعت کی ممنوع او ناروا ده لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**عن عمرو بن عوف المزنی رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:**

**«أَلصُّلحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَّاصُلْحاً حَرَّمَ حَلَالاً اَوْ أَحَلَّ حَرَاماً وَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلَى شُرُوطِهِمْ إِلَّا شَرْطاً حَرَّمَ حَلَالاً اَوْ أَحَلَّ حَرَاماً»** (۱) رواه ابوداود وابن ماجه والترمذی

***ترجمه:*** *له عمرو بن عوف مزنی رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چې په تحقیق سره رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: د مسلمانانو ترمنځ سوله کول روا دی، مگر داسی صلح روانه ده چې شرعی حلال شیان حرام وگرځوی او یا حرام شیان حلال وگرځوی. او په مسلمانانو باندی پرهغو شرطونو باندی التزام واجب، او عملی کول یې پری لازم دی چې دسولی د تړون په مهال کی پری کینبودل شوی وی مگر د داسی سوله ئیز شرط قبلول او عملی کول پری لازم نه دی چې حلال حرام وگرځوی اویا حرام حلال وگرځوی.*

دا حدیث امام ابوداود په خپل سنن کی او امام ابن ماجه په خپل سنن کی او امام ترمذی په خپل جامع کی تخریج او روایت کړی دی.

امام شوکانی رحمة الله علیه د پورتني حدیث په شرح کی لیکلی دی:

**قوله «الصلح جائز» ظاهر هذه العبارة العموم، فیشمل کل صلح الا ما استثنی: والی العموم ذهب ابوحنیفة ومالک واحمد والجمهور.»** (۲)

ترجمه: د حدیث دا جمله چې صلح په اسلامي شریعت کی روا ده، پردې باندی دلالت کوی چې هر ډول سوله روا ده پرته له داسی صلح څخه چې له مشروعیت څخه مستثنی شوی وی، امام ابوحنیفه (رح) امام مالک (رح)، امام احمدبن حنبل (رح) او جمهورو فقهاؤ هم ویلی دی چې نظر په دغه پورتني حدیث هر ډول صلح روا ده، خو چې له شرعی نصوصو

۱- سبل السلام ج ۳ ص ۸۸۳، نیل الاوطار ج ۵ ص ۲۸۶، طبع مصر مصطفی بابی

۲- نیل الاوطار ج ۵ ص ۲۸۷، عون المعبود ج ۹ ص ۴۰۷، بیروت دارالفکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه خلاف نه وي.

## دصلح ډولونه

په اسلامي شريعت کې په مجموعي توګه سوله په شپږ ډوله ده لکه چې حافظ ابن حجر عسقلاني (متوفی ٨٥٢هـ ١٤٧٣م) په خپل کتاب فتح الباري شرح صحيح البخاري کتاب الصلح کې ويلي دي:

**والصلح اقسام: ١- صلح المسلم مع الکافر، ٢- والصلح بين الزوجين، ٣- والصلح بين الفئة الباغية والعادلة، ٤- والصلح بين المتغاضبين، ٥- والصلح فی الجراح کالعفو علی مال، ٦- والصلح لقطع الخصومة اذا وقعت المزاحمة اما فی الاملاک أو فی المشترکات کالشوارع.** (١)

***ترجمه:*** *او صلح په ډيرو ډولونو ده، لکه صلح دمسلمان له کافر سره، دويم دميړه او ميرمن ترمنځ سوله کول، دريم: دياغي او نياومنې ډلو ترمنځ سوله کول، ځلورم: ددوه مرورو ترمنځ دپخلاينې روغه کول، پنځم: په خپل منځي جنګ کې دټپي شويو دځخمونو سوله کول او هغه داسې چې دټپي شوي له پاره پر ټپي کوونکي باندې ددیت په توګه پر مال کېنبودلو سوله وکړای شي، شپږم: ددوه برخمنو او ځوکسانو چې په املاک کې سره شريک وي لکه لياره او داسې نور او بيا دهغو په منځ کې اختلاف سره پيدا شي او يو دبل په مخه کې خنډ واقع کيږي او نه يې پرېږدي چې ګټنه ورځخه واخلي بيا ددوی ترمنځ دريم ګړی روغه جوړه سره وکړي.*

دسولې دغه شپږواړه ډولونه الله تعالی په قرآن کريم کې بيان کړي دي چې ځينې ډولونه يې په ځانګړي توګه ذکر کړي دي دا ځکه چې دصلح دغه ډولونه ډير مهم دي، او اهميت يې دمتعدي والي په وجه دي، يعني داختلاف او جنګ تداوم چې زيانونه يې ټولنې ته متعدي کيږي او ټولنه ورځخه زيانمنه کيږي پداسې حال کې چې صلح يې نه يوازې داچې جګړه ماړو اړخونو ته ګټه رسوي بلکې ټولنې ته يې هم ګټنه رسيږي نو ځکه الله تعالی په

١- فتح الباري ج ٥ ص ٢٢٧ طبع بيروت داراحياء التراث العربي تاريخ طبع ١٣٤٨هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړی توګه ذکر کړی دی، او یو شمیر نور سوله ئیز ډولونه یې عام او ضمنی بیان کړی دی چې بیا فقهاؤ داجتهاد په ذریعه په تفصیل سره بیان کړی دی، زه غواړم دلته د قرآن کریم په رڼا کی په قرآن کریم کی د سولی ذکر شوی ډولونه هر یو بیلابیل په تفصیل سره ذکر کړم څو د سولی مینه وال په اسانتیا سره د هغوی په شرعی ارزښت پوه شی، او هم په شرعی توګه د سولی داړتیا ضروری مراتب وپیژنی:

## لومړی- د مسلمانانو او کفارو ترمنځ سوله:

له غیر اسلامی ځواکونو او کفارو سره د صلح په باره کی الله تعالی په قرآن کریم کی مومنانو ته داسی لارښونه او حکم کړی دی او ورته فرمایلی یې دی:

**«وانْ جَنَحُوْ اللسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللهِ انَّه هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ وَانْ يُرِيْدُوْآ اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَانَّ حَسْبَكَ اللهُ هُوَ الَّذِىْ اَيَّدَكَ بِنَصْرِه وَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ.»** (۱)

***ترجمه:*** *او که چیری کفار صلحی او روغی ته میل وکړی نو ته هم (د هغوی د سولی وړاندیزو منه او) صلحی ته میل وکړه او پر الله تعالی باندی توکل وکړه، بیشکه چی الله تعالی هم دی ښه اوریدونکی د ټولو اقوالو دی او پر ټولو احوالو باندی پوه او ښه عالم دی. او که دوی یعنی سوله کوونکی کفار اراده وکړی چی تا ته دوکه او فریب درکړی په دغه روغه کی نو بیشکه تا ته الله تعالی کافی دی. همدی هغه ذات دی چی تا ته یې قوت درکړی په خپل مدد سره او په مومنانو سره.*

شیخ الهند علامه محمود الحسن دیوبندی په خپل تفسیر موضح الفرقان کی د دغو مبارکو آیاتونو په تفسیر کی ویلی دی:

په اسلام کی فی سبیل الله جهاد په ځمکه کی د فساد او فتنی د ختمولو او د سوله ئیز ډاډمن ژوند د تیرولو او د کلمة الله داعلاء له پاره فرض کړای شوی دی، نو که چیری د دغه عالی مقاصد له وینی تویولو څخه پر ته حاصل شی نو بیا خو د وینی تویولو ته هیڅ حاجت نشته. که چیری د اسلام مخالفین د روغي کولو وړاندیز وکړی تاسی یې هم ورسره قبول

۱ ـ دانفال سورة ۶۱-۶۲ آیاتونه لسمه سپاره اتمه سورة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ، او که هغوی دصلحې په پرده کې غواړي چې مؤمنان تیرباسي او دهغوی له پلوه دچلول احتمال وي نو بیا هم تاسې هیڅ پروا مه کوئ او سوله ورسره وکړئ؛ الله تعالی دمؤمنانو ملګري دی دکفارو هر ډول سوله دښمنه پلانونه به شنډ کړي او تاسې به په خپل نصرت سره پرې بریالي کړي. (۱)

دغه راز د جعفري مذهب نامتو مفسر علامه طبرسي «ابوعلي فضل بن حسن» متوفی ۵٤۸ هـ په خپل موثق تفسیر مجمع البیان في تفسیر القرآن کې د دغه مبارک آیت په تفسیر کې ویلي دي:

**«وَ اِنْ یُرِیْدُوا اَنْ یَّخْدَعُوکَ» معناه وان یرد الذین یطلبون منک الصلح اي یخدعوک فی الصلح بان یقصدوا بالتماس الصلح دفع اصحابک والکف عن القتال حتی یقووا فیبدأوکم بالقتال من غیر استعداد منکم «فَاِنَّ حَسْبَکَ اللّهُ» ای فان الذی یتولی کفایتک الله «هُوَالَّذِی اَیَّدَکَ بِنَصرِهِ وَ بِالْمُؤْمِنِینَ».** (۲)

***ترجمه:*** *یعنې ددغه آیت معنا دا ده چې که هغه څوک چې له تاځخه د سولې غوښتنه کوي او دوی غواړي په صلح کې له تاسره دوکه وکړي او هغه داسې چې د سولې په ورانديز سره ستا ملګري له تاځخه او له جنګ کولو واړوي او منعه یې کړي تردې چې دوی ځانونه پیاوړي او ځواکمن کړي او بیا له تاسې سره په جنګ کولو برید وکړي. پداسې حال کې چې تاسې جنګ ته ځانونه چمتو کړي نه وي. نو ته هیڅ پروا مه کوه، که په جنګ کې ستا له ملګرتیا څخه څوک واوړي نو الله تعالی تالره بس والي کوي ځکه الله تعالی هغه ذات دی چې په خپله مرسته یې ستا کرورلتیا کړې ده. او ستا پر دښمنانو باندې په مؤمنانو سره ستا نصرت کوي.*

او همدارنګه له کفارو سره دسولې په باره کې یې په بل آیت کې داسې فرمایلي دي:

**«فَاِنِ اعْتَزَلُوکُمْ فَلَمْ یُقَاتِلُوکُمْ وَاَلْقَوْا اِلَیْکُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللّهُ لَکُمْ عَلَیْهِمْ سَبِیلًا.»**

(دالنساء سورت ۹۰ نویم آیت ۵ سپاره ٤ سورت)

---

۱- موضح الفرقان «کابلي تفسیر» لومړی ټوک ۱۰۳۱ مخ دمکې مکرمې چاپ

۲- تفسیر مجمع البیان، ج ۳، ص ۵۵٦، د تهران چاپ مکتبه علمیه اسلامیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه:** *نو که څنګ وکړي دوی له تاسي څخه پس دوی له تاسي سره جنګ ونه کړ او دوی تاسي ته روغه در وړاندې کړه نو نه ده ګرځولی الله تعالی تاسي ته پر دوی باندي هيڅ لاره. د جنګ کولو پرځای تاسي هم د هغوی د صلحې وړاندېز قبول کړی او سوله ورسره وکړی.*

**احکام:** تفسير پوهانو او فقهاؤ له کفارو سره د صلحې کولو په باره کي يو شمير شرعي احکام بيان کړي دي چي د صلحې د شرطونو په نوم يې نومولي دي چي د موضوع د روښانه کولو په خاطر دلته د يو څو نامتو مفسرينو او څو مشهورو فقهاو متفقه اقوال د نمونې په توګه وړاندې کوم:

د مفسرينو له جملې څخه امام ماوردي (متوفی ۴۵۰ هـ کال) په خپل تفسير النکت والعيون کې، امام عطيه اندلسي (متوفی ۵۴٦ هـ کال) په خپل تفسير محرر الوجيز کې، امام قرطبي (متوفی ٦٧١ هـ کال) په خپل تفسير احکام القرآن کې، حافظ ابن کثير (متوفی ۷۴۷ هـ کال) په خپل تفسير کې او د هندوستان نامتو عالم او داورنګ زيب عالمګير استاذ ملا احمد جيون (متوفی ۱۱۳۰ هـ کال) په خپل تفسير أحمديه کې په سرسري اختلاف او توجيهاتو سره د انفال د سورة د صلحې تفسيرونه کړي دي چي نچوړ او خلاصه يې په لاندي کرښو کې وړاندي کولی شي:

له دغه مبارک آيت څخه دا ثابتيږي چي مسلمانانو ته له کافرانو سره صلحه روا ده، په همدې اساس رسول الله صلی الله عليه وسلم له کفارو سره صلحه کړې ده او څو ځلې يې له مختلفو قوي ملتونو سره لکه نصرانيانو، د مکې مشرکانو او يهوديانو سره يې صلحې کړې دي. د مثال په ډول دلته يو څو نمونې وړاندي کولی شي.

۱ – د مدينې منورې صلح د نبوي هجرت په پنځم کال له ٦۲٦ م کال سره سم د احزاب له غزا څخه د مخه د مدينې منورې د يهوديانو د بنو نضير او بنو قريظه له قبيلو سره صلحه وکړه چي بيا د هغوی له پلوه ماته شوه.

۲ – د نبوي هجرت په شپږم ٦۲۷ م کال د مکې له مشرکانو سره تاريخي صلحه چي په حديبيه نومې سيمه کې مکې ته څېرمه شوې وه. چي د دغې صلح شرطونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حديبيه د صلح د تړون مادي

هغه شرطونه او مادي چې د حديبيه د صلح په تړون کې د جانبينو په اتفاق سره کېښودل شوي وو په لاندې ډول دي:

• **لومړۍ ماده:** ای الله ستا په نوم!

**دويمه ماده:** دا تړون د محمد بن عبدالله «صلی الله عليه وسلم» او سهيل بن عمرو ترمنځ وکړای شو.

**دريمه ماده:** دوی دواړو پردې باندې صلح وکړه چې لس کلونه به د دواړو پلوونو ترمنځ جنګ بندی وی، او په دغه موده کې به خلک په امن او سيرې او يو له بل څخه به لرې ګرځيږي.

**څلورمه ماده:** څلورم دا چې که د محمد له ملګرو څخه کوم څوک د حج يا عمرې اداء کولو يا د تجارت له پاره مکې ته راشي، د هغه سر او مال به په امن وي. او که د قريشو کوم څوک په دغه موده کې د سوداګرۍ له پاره مصر يا شام ته د مدينې له لارې تيريږي د هغه مال او سر ته به امن حاصل وي.

**پنځمه ماده:** پنځم دا چې که چيرې له قريشو څخه کوم شخص د خپل «پالونکي» له اجازت څخه پرته محمد (ص) ته لاړ شي «مسلمان شي» نو هغه به دې هغوی ته بيرته سپاري او که د محمد (ص) له ملګرو څخه کوم شخص قريشو ته ورشي «مرتد شي» هغه به بيرته د محمد (ص) ته نه سپاري.

**شپږمه ماده:** شپږم دا چې له دغه تړون څخه وروسته به تر ټاکلې مودې پورې زمونږ ترمنځ غدر او خيانت نه وي، او نه به په پټه سره يو د بل په خلاف له بل چا سره مرسته کولی شي او نه به په ښکاره د دغه تړون په خلاف تيګی کولی شي.

**اوومه ماده:** اووم دا چې که له عربو قبائلو څخه کوم قبائل پدغه تړون کې له هر چا سره ځان ملګرې کوي داسې کولی شي که له محمد (ص) سره ملګرتيا کوي کولی شي او که له قريشو سره په تړون کې ځان شامل وي هم داسې کولی شي.

«په هماغه مجلس کې د خزاعه قبائلو خپله ملګرتيا له محمد (ص) سره اعلان کړه او بنوبکر خپله ملګرتيا له قريشو سره اعلان کړه چې بيا دواړه په تړون کې ذکر شول»

**اتمه ماده:** اتم دا چې ته به سږ کال مکې ته نه داخليږې او له همدې ځايه به بيرته مدينې ته ستنيږې، او په راتلونکي «۷ هـ» کال کې به مونږ له مکې څخه خارج شو، ته او ستا ملګري به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکی ته داخل شی صرف دری شپې دری ورځی به پکی اوسیږی. له تاسی سره به یوازی توری وی هغه هم په تیکو کی دننه، او له تورو څخه پرته به بل هیڅ ډول وسله له ځانونو سره نه رواړی.

**نهمه ماده:** نهم دا چی سږ کال به ستاسی د قربانی ځاروی هماغلته وی په کوم ځای کی چی مونږ ولیدل «یعنی حدیبیه کی» او همدلته به ذبح کولی شی او د ذبحه کولو له پاره به مونږ «مکی» ته رالیږلی نه شی. او په صراحت کی به زمونږ او ستاسی حقوق سره برابر وی. (۱)

**د محمد (ص) مهر**

**د تړون لیکوونکی:** علی بن ابی طالب (رض)

**مسلمان شاهدان:** ابوبکر، عمر، عبدالرحمن بن عوف، عبدالله بن سهیل بن عمرو، سعد بن ابی وقاص، محمد بن مسلمه، ابو عبیده بن الجراح

**د سهیل بن عمرو مهر**

**د قریشو شاهدان**

عروه بن مسعود ثقفی، مکرز بن حفص او د هغو ملګری.

(۱) مراجع: دغه شرطونه او مادی له هغو احادیثو څخه ما راغونډی کړی دی چی د حدیبیه د صلح په باره کی مروی دی او دغه لاندی مأخذونه ما پسی کتلی دی.

صحیح بخاری، ج ۳، ص ۱٦۸، کتاب الصلح، د ریاض چاپ

صحیح مسلم، ج ۳، کتاب الجهاد والسیر، ص ۱٤۰۹-۱٤۱۱، د ریاض چاپ، باب صلح الحدیبیة فی الحدیبیة

سنن ابی داود، ج ۲، کتاب الجهاد، باب فی صلح العدو، ص ۲۱٤، د لاهور چاپ

زاد المعاد، ج ۳، ص ۲۹۲، فصل فی قصة الحدیبیة، لابن القیم.

السیرة النبویة، لابن هشام، ج ۳٤، ص ۳۳۲، د ایران د قم چاپ، ۱۳٦۸ هش

تاریخ یعقوبی، ج ۲، ص ۳۵-۳٦، غزاة الحدیبیه، طبع بیروت، ۱٤۱۹ هـ - ۱۹۹۹ م

کتاب الاموال لابی عبید، ٤٤۱-٤٤٤

فتوح البلدان، ص ۳٦، بلاذری

کتاب الخراج، لابی یوسف، ص ۱۲۹

البدایه والنهایه، ج ٤، ص ۱٦٤-۱۷۷، غزوة الحدیبیة، د لاهور چاپ ۱٤۰٤ هـ - ۱۹۸٤ م

الکامل فی التاریخ، لابن اثیر، ج ۱، ص ۵۸۲- ۵۹۰، ذکر عمرة الحدیبیه

الطبقات الکبری، لابن سعد، ج ۱، جزء ۲، ص ۲۹۷-۳۰۲، بیروت - لبنان

تاریخ الخمیس للدیار بکری، ج ۲، ص ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسی بیان کړ ای شوی دی.

۳- دنبوی هجرت په اووم ٦٢٨م کال په خیبر کی دخیبر له یهودیانو سره دخیبر له فتحی څخه وروسته صلحه کول.

٤-دنبوی هجرت په لسمه ٦٣١م کال دیمن دنجران له نصرانیانو سره تاریخی صلح چی په مدینه منوره کی په نبوی جومات کی دصلحی تړون ورسره لاس لیک شوی ؤ.

نو نظر پر دغو دلیلونو او شواهدو داسلامی امت حاکمانو ته شرعاً رواده چی که چیری داسلامی امت شیګړه او مصلحت پکی وی چی له کفارو سره صلحه وکړی، برابره خبره ده که دجنګ په دوران کی وی او که له جنګ څخه دمخه وی او که له جنګ څخه وروسته وی. که وړیاوی لکه دحدیبیه صلحه چی هیڅ مال له یو پلوه هم پکی نه وی او که په مال سره وی لکه چی دخیبر په یهودیانو او دنجران په نصرانیانو رسول الله صلی الله علیه وسلم کینبودلی وچی هر کال به یې اسلامی حکومت ته ورکوی. دغه راز که چیری دمسلمانانو دسر، مال، دین او ناموس خطر وی او کفار په صلحه کی داورسره شرط کړی چی اسلامی حکومت به کفری حکومت ته دومره دومره ټاکلی مال ورکوی نو دځینو مفسرینو او فقهی امامانو په نزد داهم روادی ځکه چی په (٥) هجری کال کی داحزاب په غزا کی رسول الله صلی الله علیه وسلم دغطفان دقبیلو له مشرانو عیینه بن حصن الفزاری او حارث بن عوف المری سره یو تړون لاس لیک کړ چی دوی دواړو ته به سږ کال دمدینی دخرماؤ دریمه برخه ورکړی پدی شرط چی دوی به ټول غطفانیان له جنګ څخه وباسی او خپلو کورونو ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي او هم به د مشرکانو په لښکر کې اختلاف پیدا کوي.

هغوی ورسره ومنله مګر کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو له مشرانو، سعد بن معاذ، سعد بن عباده او اسعد بن زرارة سره مشوره وکړه هغوی ورسره قبوله نه کړه، او هغه تړون لغو شو. او ځینو نورو ویلي دي چې د غه ډول صلحه روا نه ده ځکه چې پدې کې د مسلمانانو سپکاوی او توهین دی.[1]

د غه راز د شیعه مذهب امام او مفسر علامه طبرسی د دغه آیت په تفسیر کې ویلي دي:

یعنی که چیری دوی له تاسی سره له جنګ کولو څخه په ډډه شي او له تاسی سره د سولې تړون وکړي. نو تاسی ته روانه ده چې د دوی پر ځانونو «د دوی په وژلو سره» او د دوی په مالونو تیری وکړي.[2]

شرطونه: د اسلامي امت فقهاؤ، ویلي دي: له کفارو سره له جنګ څخه د مخه هم سوله کول روا ده، د جنګ په دوران کې هم ورسره روا ده او له جنګ څخه وروسته هم ورسره روا ده، ځکه چې د غه دري واړه ډوله صلحې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړي دي. مګر له

---

۱- تفسیر قرطبی، څلورم جلد اتم جزء ۲۵، ۲٦ مخونه دبیروت چاپ، دارالکتب العلمیه ۱٤۰۸ هـ ۱۹۸۸م
تفسیر ماوری دویم توک، ۳۳۰ مخ بیروت چاپ دارالکتب العلمیه
تفسیر محرر الوجیز دویم توک ٥٤۷-٥٤۸ مخونه، بیروت سنه ۱٤۱۳هـ دارالکتب العمیه
تفسیر ابن کثیر دویم توک ٤۰۱-٤۰۲ د ریاض چاپ دچاپ تاریخ ۱٤۱۸هـ - ۱۹۹۷م
تفسیر احمدیه لومړی توک ٥۱٦-٥۱۷ مخونه، دلاهور چاپ اردو ترجمه
البدایه والنهایة پنځم توک ٥٥ مخ دلاهور چاپ مکتبه قدوسیه طبع ۱٤۰٤هـ - ۱۹۸٤م
۲- تفسیر مجمع البیان، ج ۲، ص ۸۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو سره صحله کول په مطلق ډول او د تل له پاره روانه ده ځکه چې پداسې کولو سره د تل له پاره جهاد ختميږي. او د اسلامي امت نورمادي او معنوي زيانونه ور پکې دي. له همدې کبله فقهاؤ ويلي دي له کفارو سره صلحه کول په مشروط ډول روا ده او هغه شرطونه چې په صلحه کې ضروري دي، او صلحه مشروع ګرځوي په لاندې ډول فقهاو بيان کړي دي:

**لومړی شرط - دصلحې موده به معلومه وي:**

يعنې کله چې مسلمانان له کفارو سره صلحه کوي نو په تړون کې به د صلحې موده هرومرو معلوموي، يعنې درې کلونه، دوه کلونه لس کلونه، خوله لسو کلونو څخه د زياتې مودې په تاکلو کې د فقهاو اختلاف دی امام ابوحنيفه نعمان بن ثابت رضی الله عنه متوفی ١٥٠هـ ٧٢٥م کال او امام احمد بن حنبل رضی الله عنه متوفی ٢٤١هـ ٨٦٤م کال ويلي دي: چې که له کفارو سره د صلحې د مودې تمديد او زياتوالی د مسلمانانو په ګټه وي روا دی او نورو جمهورو فقهاؤ ويلي دي: له لسو کلونو څخه د سولې موده زياتول روانه دي ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مکې له مشرکانو سره تر لسو کلونو پورې صلحه کړې وه.[1]

**دويم شرط: - چې د مسلمانانو په ګټه وي:**

يعنې له کفارو سره صلحه کول پدې شرط روا ده چې د مسلمانانو ګټه او مصلحت پکې وي، برابره خبره ده که مالي منفعت پکې وي او که ديني مصلحت او ګټه ورپکې وي او که دواړه وي. په همدې اساس فقهاؤ داسې صلحه ناروا ګڼلې ده چې د کفارو ګټه او د مسلمانانو تاوان پکې وي. د مثال په ډول: پدې خاطر صلحه ورسره وکړي چې هغوی به مسلمانان شي، يا پدې خاطر چې هغوی به د مسلمانانو حکومت ته جزيه او مالي تاکلي

---

١- هدايه ج١ ص ٥٤٣ مجتبايي ډيلي چاپ د چاپ تاريخ سنه ١٢٩٧هـ ١٨٢٠م مصنف علي بن ابي بکر فرغاني مرغيناني متوفی سنه ٥٩٣هـ ١١١٦م

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنډ ورکړي، يا پدې خاطر چې هغوی به د اسلامي ملت د احکامو التزام وکړي او يا د اسې نور مصالح وريکې وي لکه چې د حنفي فقهي نامتو سکالر او مجتهد في المذهب علي بن ابي بکر فرغاني مرغيناني رحمة الله عليه په خپل کتاب هدايه کې ويلي دي:

**«واذارئ الامام أن يصالح اهل الحرب او فريقاً منهم وکان في ذالک مصلحة للمسلمين فلا بأس به.»** (۱)

**ترجمه:** *که چيرې د مسلمانانو حاکم پريکړه وکړي چې له جنګ کوونکو حربيانو سره يا د هغوی له کومې ډلې سره سوله وکړي، او په دغه صلحه کې د مسلمانانو منفعت او ګټه وي نو دغه ډول سوله کول شرعاً پروا نه لري او ورته روا ده چې صلحه ورسره وکړي.*

دريم شرط- **چې مسلمانان کمزوري وي:**

يعنې که چيرې مسلمانان کمزوري وي نو بيا ورته روا ده چې له کافرانو سره صلحه وکړي، برابره خبره ده که کمزوري يې د افرادو په لحاظ وي او که د جنګي وسائلو په لحاظ وي، مګر که مسلمانان په هر لحاظ قوي وي بيا نو صلحه کول ورته روا نه ده لکه چې د حنفي فقهي ديو مليون يو سل اويا زره «۱۰۷۰۱۰۰» فقهي اجتهادي مسائلو لومړي تدوين کوونکي او د مجتهدينو د دويمې طبقې مخکښ امام محمد بن حسن بن فرقد شيباني رحمة الله عليه (متوفى ۱۸۰هـ ۷۰۳م کال) په خپل مشهور کتاب السير الکبير کې د خپل رشيد استاذ امام ابوحنيفه نعمان بن ثابت څخه روايت کړی دی چې ويلي يې دي:

---

۱- المغني فتاوی ج ۱۳ ص ۱۵۵ د رياض چاپ، د چاپ تاريخ سنه ۱٤۱۷هـ ۱۹۹۷م دارعالم الکتب مصنف: موفق الدين عبدالله بن أحمد ابن قدامه مقدسي متوفى سنه ۶۲۰هـ ۱۲۵۳م

۲- شرح السير الکبير ج ۵ ص ۱۶۸۹ د لاهور چاپ تاريخ سنه ۱٤۰۵هـ ۱۹۸۳م

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«لا ینبغی موادعة اهل الشرک اذاکان بالمسلمین علیهم قوة وان لم یکن بالمسلمین قوة علیهم فلا باس بالموادعة.»**(۱)

**ترجمه:** له کفارو او مشرکینو سره صلحه او تړون روانه ده که چیری مسلمانان پیاوړی وی، او که چیری مسلمانان پیاوړی نه وی نو بیا د مسلمانانو امام او واکمن کولی شی چی دزمان او مکان له غوښتنو سره سم له کافرانو سره سوله وکړی. لکه چی الله جل جلاله فارمایی:

**«لَایَنْهکُمُ اللّهُ عَنِ الّذینَ لَمْ یُقَاتِلُوْکُمْ فِی الدِّیْنِ وَ لَمْ یُخرِجُوْکُمْ مِّنْ دِیَارِکُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَ تُقْسِطُوْآ اِلَیْهِمْ ط اِنَّ اللّهَ یُحِبُّ الْمُقْسِطِیْنَ»**

**«اِنَّمَا یَنْهَاکُمُ اللّهُ عَنِ الّذِیْنَ قَاتَلُوْکُمْ فِی الدِّیْنِ وَ اَخْرَجُوْکُمْ مِّنْ دِیَارِکُمْ وَ ظَاهَرُ عَلَی اِخْرَاجِکُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ج وَ مَنْ یَّتَوَلَّهُمْ فَاُولئِکَ هُمُ الظَّالِمُوْنَ»** (۲)

**ترجمه:** نه منعه کوی تاسی «ای مومنانو» الله له (دوستی د) هغو کسانو چی نه دی کړی جنگ له تاسی سره په (کار د) دین کی او نه ئی ایستلی یي تاسی له کورونو خپلو څخه (له دی نه) چی نیکی کوئ تاسی له دوی سره او چی عدل او انصاف کوئ تاسی له هغوی سره بیشکه چی الله خوښوی دوست لری انصاف کوونکی. بیشکه هم داخبره ده چی منع کوی تاسی الله له «دوستی د» هغو کسانو څخه چی جنگ ئی کړی دی له تاسی سره په «کار د» دین کی او چه ایستلی ئي یي تاسی له کورونو د تاسی څخه او کومک مرستی «مدد» ئی کړی دی له دښمنانو ستاسی سره په ایستلو ستاسی کی له دی څخه چی دوستی کوئی تاسی له هغوی سره او هر هغه چی دوستی کوی له غوی سره دغه «خلق» هم دوی دی ظالمان گنهگاران ورته روا ده چی اوربند ورسره وکړی.

---

۱ - شرح السیر الکبیر ج ۵ ص ۱۶۸۹ دلاهور چاپ تاریخ سنه ۱٤٠٥هـ ۱۹۸۳م

۲ - د الممتحنه سورة ۸ - ۹ ایاتونه ۲۸ سپاره ٦٠ سورة

(c) ketabton.com: The Digital Library



### څلورم شرط - **صلحه به حاکم یا دهغه نائب کوي:**

له کفارو سره اوربند او صلحه به یوازي د مسلمانانو حاکم او امام کوی او یا به یې دهغه نائب کوی. په همدی اساس هرمجاهد اویا سرګروپ ته روانه ده چی د حاکم او امیر له اجازی پرته په خپل سر اوربند ورسره وکړی لکه چی حافظ ابن قدامه مقدسی په خپله فتاوی المغنی کی ویلی دی:

**« ولایجوز عقد الهدنة ولاالذمة الامن الامام او نائبه؛ لانه عقد مع جملة الکفار، ولیس ذلک لغیره، ولانه یتعلق بنظر الامام ومایراه من المصلحة... فان هاد نهم غیر الامام او نائبه لم یصح. »**(١)

**ترجمه:** *دصلحی او اوربند تړون له حاکم او دهغه له مرستیال څخه پرته دبل چاله پاره روانه ده، او نه بل چاته داروا ده چی کلابند کړی دښمن په خپلی ذمه واری سره تسلیم کړی او امان ورته ورکړی. ځکه چی دغه تړون له ټولو کفارو سره دی، او داله حاکم څخه پرته بل هیچاته هم روانه ده، صرف دحاکم ترصلاحیت او نظر پوری مربوط دی او دهغه مصلحت یکی معتبر دی، نوکه چیری له حاکم څخه پرته بل چا پخپل سرتړون ورسره وکړ نه صحیح کیږی.*

### پنځم شرط – **په تړون کی به دوسلی او جنګی وسائلو راکړه ورکړه نه وی:**

له کفارو سره دصلحی دکولو دجوازله پاره پنځم شرط دادی چی له تړون څخه وروسته او هم دمخه به مسلمان حاکم نه وسله ورڅخه پیری او نه به یې پری پلوری، او نه به دلوژستیکی او جنګی وسائلو راکړه ورکړه ورسره کوی لکه چی دمغنی او هدایه مصنفینو ویلی دی:

---

١ - فتاوی المغنی ج ١٣ ص ١٥٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«ولا ينبغي ان يباع السلاح من اهل الحرب ولا الجهز اليهم: لان النبي عليه السلام نهى عن بيع السلاح من اهل الحرب وحمله اليهم؛ ولأن فيه تقويتهم على قتال المسلمين فيمنع من ذلک وكذا الكراع لما بينا وكذا الحديد لانه اصل السلاح وكذا بعد الموادعة.»** (۱)

**ترجمه:** او مسلمانانو ته روانه ده چې له دوی سره په جګړه کوونکو وسله و پیری او یائې پر هغوی باندې و پلوری. ځکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم له محاربو څخه د وسلې له پیرودلو او پر هغوی باندې له پلورلو څخه ممانعت کړی دی: دا ځکه چې پدی سره هغوی جنګی پیاوړتیا ترلاسه کوی، نو ځکه مسلمان ورڅخه منعه کړی شوی دی، دغه راز د جنګ سامان «لکه آسونه، او نور وسائل به هم نه ورکوی» او سپنه به هم پری نه پلوری ځکه چې اوسپنه خو د وسلې جوړولو بنسټ او مبنی ده، دغه راز له تړون څخه وروسته به هم د وسلې او لوژستیک پلورلو او پیرودلو معامله ورسره نه کوی.

شپږم شرط - **دصلحی تړون به نه ماتوی:**

که چیری مسلمان له کافر جنګ کوونکی سره د صلحی تړون ولری نو په ماتولو به یې لومړی والی نه کوی او ترڅو چې هغوی ماته کړی نه وی دوی به یې نه ماتوی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**«مَنْ كَانَ بَيْنَه وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَ عَهْداً وَلَايَشُدَنّهَ حَتى يَمْضِيَ أَمَدُهُ أَوْ يُنْبَذَ إِلَيهِمْ عَلَى سَوَاءٍ.»** (۲)

**ترجمه:** دچا چې له کوم قوم سره د صلحی اوربند شوی وی نو هغه به نه ماتوی او نه به ترهغو پوری

---

۱- هدایه ج ۱ ص ٥٤٤ کتاب السیر، المغنی ج ۱۳ ص ۱٦۲ فصل الشروط

۲- ترمذی ابواب السیر باب ماجاء فی الغدر ج ۱ ص ۱۹۱ د دهلی چاپ، له طبع سنه ۱۳۵۰، سنن ابوداود ج ۲ کتاب الجهاد باب فی الامام یکون بینه وبین العدو عهد ص ۲۳، د ملتان چاپ سنه ۱۳۱٦ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



*کوم بدلون او تغیر پکی راولی ځو پوری چی دهغه موده ختمه نه شی او یا دهغه ته دماتولو اعلان وکړی او له خپل عزم څخه دی خبر کړی. څو په ماتولو کی دواړه برابر مسبوق او خبر شی.*

یعنی دمسلمانانو امیر ته دصلحی د تړون ماتول روانه دی ځکه چی دا غدر دی او په اسلام کی غدر کول حرام دی. نو ترڅو پوری چی د تړون نیتیه پوره شوې نه وي، یا کفارو تړون مات کړی نه وی او سرغړونه یې ورڅخه کړی نه وی، اویا امام دا احساس کړی چی له صلحی څخه جهاد دمسلمانانو په ګټه دی. په دغو دری واړو صورتونو کی به دری ورځی پرله پسی دښمن ته د تړون ماتولو خبرورکوی. اللّه تعالی فرمایلی دی:

**«وَ اِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْاِلَيهِمْ عَلى سَوَآءٍ اِنَّ اللّهَ لَايُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ.»**

(دانفال سورة ۵۸ آیت لسمه سپاره)

***ترجمه:*** *او که ویریږی له کوم معاهد قوم څخه دخیانت کولو او تړون ماتولو چی له تاسره یې کړی دی، نو ته هم دوی ته دغه تړون برابر وغورځوه؛ بیشکه اللّه تعالی خیانت کوونکی نه خوښوی.*

یعنی که له کوم غیر اسلامی ملت سره دمسلمان ملت دحاکم دسولی تړون شوی وی مګر هغه د مودی له ختمیدو دمخه که څه هم برالا اوښکاره د تړون ماتولو اقدام و نه کړی، بلکی له ښبونښبانو او تحرکاتو څخه یی دا خبره څرګنده شی چی دوی دصلحی دماتولو په هڅه کی دی نوبیا په دی صورت کی مسلمان سوله کوونکی جانب ته هم دا اجازه دد چی دخپل مصلحت له په نظر کی نیولو سره دهغوی دسولې تړون هغوی ته بیرته ورکړی او دجهاد اعلان ورته وکړی. خودغه اعلان مسلمانان باید په داسی ډول وکړی چی دښمن برابر خبرشی او خپل تیاری ونیسی او دا داسلام د صلحی او جنګ په باره کی پرعدل او انصاف داسی ګاڼلی اوچت قانون دی چی دبشری نړی په جنګی او سوله ئیزو قوانینو کی په تاریخ کی ساری او سیال نه لری.(۱)

---

۱ - معارف القران تفسیر څلورم ټوک ۲۶۹ مخ دکراچی چاپ ۱٤۰۹هـ، ۱۹۸۹ م، مصنف دپاکستان مفتی اعظم مولنا مفتی محمد شفیع رح متوفی ۱۳۹٦ هـ، ۱۹۷٦م. شرح اسیر الکبیر پنځم ټوک ۱٦۹۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم شرط - **که په مال سره صلحه مشروطه وی نو په شرعی توګه به وی:**

دمخه مې وویل چې په مال سره دصلحې مشروط کول روادی، برابر خبره ده که دغه شرط دجنګ کوونکی دښمن له پلوه وی خوپدی شرط چې مسلمانان کمزوری وی لکه چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ویلی دی:

**«واذاخاف المسلمون المشرکین فطلبو امواد عتهم فابی المشرکون ان یواد عوهم حتی یعطیهم المسلمون علی ذلک مالا فلا باس بذلک عند تحقق الضروورة. »**[1]

**ترجمه:** *که چیری مسلمانان دمشرکانو په مقابل کی له ماتی خوړلو څخه اندیښمن شول، اوله مشرکانو څخه یی دسولی او اوربند غوښتنه وکړه او مشرکانو له اوربند څخه انکار وکړ مګر دا چی مسلمانان دا وربند په بدل کی مال ورکړی. نو مسلمانانو ته دا ړتیا په صورت کی دا رواده چی په مال سوله ورسره وکړی، امام سرخسی ابوبکر محمد بن ابی سهل رحمة الله علیه (متوفی ۴۹۰ هـ، ۱۱۱۳ م کال)*

دحضرت امام ابو حنیفه (رح) دپورتني قول په شرح کی ویلی دی چی رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم پدی باره کی خپل یو صحابی ته فرمایلی دی:

**«اجْعَلْ مَالَكَ دُوْنَ نَفْسِكَ وَنَفْسَكَ دُوْنَ دِيْنِكَ. »**[2]

**ترجمه:** *خپل مال او دولت له خپل ځان څخه قربان کړه او خپل ځان پری اوساته او خپل ځان له خپل دین څخه قربان کړه او دخپل دین دفاع پری وکړه.*

دغه راز که مسلمانان پر کفار و باندی دا شرط کړی چی صلحه او اوربند پدی شرط در سره کووچی په بدله کی یی مال راکړی نو دا هم روادی ځکه چی رسول الله صلی الل علیه وسلم او راشدینو خلفا و داسی کړی دی مګر شرط پکی دادی چی په شرعی توګه وی.

۱- شرح السیر الکبیر پنځم تو ک ۱۶۹۲

۲- شرح السیر الکبیر پنځم تو ک ۱۶۹۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی ۱ - کمیت، ۲ - کیفیت، ۳ - تاریخ، ٤ - د تسلیمولو ځای او سبب به یې معلوم وی لکه چې د نهمی هجری پیړی د عثمانیانو حنفی مفتی اعظم او قاضی علامه او امام محمود بن اسرائیل متوفی ۸۱۸ هـ ۱٤۱٤ م په خپله مشهوره فتاوی جامع الفصولین کی ویلی دی:

**الصلح علی مال لایخلومن خمسة اوجه : وجه یحتاج الی قدروصفة ومکان تسلیم، ووجه الی صفة وأجل، ووجه الی اشارة وتعیین . اولها صلح علی دراهم وثانیها صلح علی تبرأ ووزنی أوکیلی ممالا حمل ولا مؤنة وثالثها صلح علی کیلی او وزنی مماله حمل و مؤنة فیحتاج الی قدر وصفة وکذاالی مکان تسلیمه. ورابعها صلح علی ثوب فلابد من ذرع وصفة وأجل. وخامسها صلح علی حیوان ولا یجوز الابعینه ...** [۱]

***ترجمه:*** *پر مال باندی صلحه کول پر پنځو امورو مشروط دی: دا څکه چې که چیری په روپیو سوله وکړای شی نو په هغو کی د روپی ۱ - نوعیت معلومول ۲ - د روپو اندازه معلومول ۳ - د تسلیمیدو ښتیه معلومول ٤ - د تسلیمولو ځای معلومول او ٥ - داچی د کوم هیواد سکه ده. او که غله وی، د هغوی وزن او د هغی پیمانه معلومول. د هغی صفت معلومول او د تسلیمولو ځای معلومول، که په البسه ؤ صلحه وکړای شی نو د هغوی گز معلومول د هغوی نو عیت معلومول چې رخت دی، غالی دی گیلم دی او که نورڅه په هغوی کی اعلی، اوسط او ادنی معلومول هم ضروری دی.*

څکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجران له نصرانیانو سره کله چې په لسم ۱۰ هـ ٦۳۳ م کال د یمن د نجران د ولایت له نصرانیانو سره صلحه وکړه نو له هغوی سره یې د مال په بدله کی صلحه وکړه او د کال دوه زره اوقیه یعنی اتیا زره درهم یې پر کینبودل چې زر اوقیه یعنی څلویښت زره درهم به هر کال د رجب په میاشت کی ورکوی او که چیری دوی د اوقیه ؤ په بدله کی آسونه، څغری او نور شیزونه ورکوی د ورځی له نرخ سره سم به ورڅخه قبلولی شی، او که اسلامی حکومت په یمن کی د جهاد له پاره اړتیا پیدا کړه نو د نجران

---

۱ - جامع الفصولین دویم ټوک ۵۱ مخ د لاهور چاپ ۱٤۱۷ هـ، ۱۹۹٦ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصرانیان به دیرش څغری، دیرش جنگی آسونه او دیرش اوښان دعاریت په توګه داسلامی لښکر مشرته ورکوی. نوکه چیری د دوی له دغو امانتو څغرو یا آسونو یا اوښانو څخه په جنګ کی تلف شول داسلامی لښکر پر امیر باندی لازم دی چی د دوی له خوښی سره سم به یی یا جنس او مثل ورکوی او یا به یی بیه ورکوی. [۱] مطلب دا چی کله د مسلمانانو او کفارو تر منځ په مال سره صلح کولی شی داضروری ده چی نوعیت، کمیت یعنی اندازه د تسلیمی تاریخ، مکان، او وصف یې معلوم کړی، څو ابهام له منځه لاړ شی او کوم اړخ ته د ما تولو پلمه پاتی نه شی.

## دویم د ښځی او میړه تر منځ سوله

د صلحی دویم ډول د زوجینو یعنی د میړه او میرمن تر منځ سوله ده. او د صلحی په ډولونو کی دا سوله په اسلام کی زیات ارزښت لری، ځکه نه یوازی دا چی میړه او میرمن د کورنی نظام دوه داسی بنسټیز ارکان دی چی له دوی دواړو څخه پرته کورنی نظام جوړول ممکن نه دی؛ بلکی همدا میړه او میرمن دی چی د ټولنی په جوړولو کی د ملیا د تیر حیثیت لری چی، له همدی کبله د دواړو تر منځ صمیمیت، متقابله احترام، اخلاص او خپل منځی ایثار او په کهول کی د یو بل په مقابل کی زغم کول او خوشاله ژوند تیرول یو د بل حقوق پرځای کول ډیر ضروری دی، څو د دوی خپل منځی شخړی او ناندری و هل د دوی پر اولاد چی د اجتماع عظیم امانت دی ناوړه اغیزه و نه کړی. او که احیاناً د دوی تر منځ کوم اختلاف راشی نو دوی ته پکار دی چی په خپله یی دوه په دوه سره ختم کړی او زیار او باسی چی ورڅخه زیات نه شی، مګر که چیری دوی هوار نه کړای شو نو الله تعالی د دوی دواړو خپلوانو ته حکم کوی چی د دوی دواړو د مینی جوړه کړی جونګړه د اختلافاتو تو پان ته پری نږدی چی ویجاړه یی کړی بلکی د دوی تر منځ دی سوله وکړی لکه چی الله تعالی

۱- زاد المعاد دریم توک ٦٣٤-٦٥٣ مخونه دبیروت چاپ ۱٤۱٥ هـ، ۱۹۹٤ م، مصنف حافظ ابن القیم جوزی متوفی ۷٥۱ هـ، فتوح البلدان ۷٦ مخ بیروت ۱۳۹۸-۱۹۷۸ علامه بلاذری متوفی ۲۷۹ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمایلي دي:

**«وَ اِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا.»** (۱)

*__ترجمه:__ اوکه کومه ښځه ویریده له میړه خپله دسرکشي یاد مخ ګرځولو نه پر دوی دواړو باندې هیڅ ګناه نشته په دې کې چې دوی دواړه په خپل منځ کې صلح سره وکړي په یو ځیل صلح کولو سره ،او صلح کول ډیرغوره ده او حاضر کړای شوي دي نفسونه شومتیا ته اودزړ و نو په منځ کې هر و مربخیلي موجوده ده.*

اوکه تاسي نیکي او ښیګړه و کړي له خپلو ښځو سره او پرهیز ځانه ساتنه وکړي تاسي له نشوز او خصومتو نو څخه په تحقیق سره الله تعالی ښه خبر داردي په هغه شي چې تاسي يي کوي.

## تفسیر ، احکام او مسائل:

امام قرطبی متوفی ۶۷۱ هـ په خپل تفسیر احکام القران کي او حافظ ابن کثیر متوفی ۷۷٤هـ په خپل تفسیر کې د پورتني مبارک آیت په تفسیر کی د ام المؤمنین عائشي رضی الله عنها متوفیه ۵۸هـ، ۶۸۱م امیر المؤمنین عمربن الخطاب رضی الله عنه شهید ۲٤هـ ۶٤۵م امیر المؤمنین علی بن أبی طالب رضی الله عنه شهید ٤۰هـ، ۶۶۳م تفسیرونه نقل کړي دي چې دهغو دري واړو خلاصه په لاندي ډول په لنډیز سره بیانو لی شي:

په دغه مبارک آیت کی دهغو ښځو په باره کی دالله تعالی حکم دي چې اولاد يي نه کیږي یا يي میړه ښایسته وي او دابد موري وي یا يي میړه ځوان وي او دا زړه وي او میړه يي غواړي چې بله ځوانه ، اولاد زیږونکی او ښایسته ښځه وکړي ، مګر دا يي په لاره کی

۱- دنساء سورة ۱۲۸- آیت ۵ سپاره ٤ سورة ۱۹ رکوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندوی او غواړي چې طلاق ورکړي ځولاره ورته صافه شي. او ښځه ورته و وايي چې: ما ته طلاق مه راکوه زه خپل ځيني حقوق تا ته پرېږدم. لکه د مهر ځيني برخه يا ټول مهر، ياد کوروالـه او جمـاع حق چې د نوي ميـر من په نسـبت کم وي، يا لبـاس چې د نوي په پر تله کم وي. نو ميړه ته پکار دي چې داورسره ؤمنى او طلاق ورنه کړي او صلحه ورسره وکړي. او دغـه راز که چيري ښځه ورته ونه وايي مگر ميړه د دغو شيـانو غو ښتنه ورځخه وکړي او داگواښ هم ورته وکړي چې که د ده غوښتنې قبولې نکړي نو دى ته به طلاق ورکړي ښځې ته پکار دي چې داور سره و منى او په خپـل ايثـار سره خپـل کـهـول له ويجـاړ تيـا ځـخـه وژغـوري. ځکه چې دغـه صلحه کـول د دواړو په گتـه دي، که څه هم ميـړه او ښځـه هر يو دخپلې گټې په حرص اولتيه کې وي.[1]

**احکام او مسـائل:** له پورتنې مبارک آيت څخه د صحابه کرامو د تفسير په رڼا کې مفسرينو او فقهاؤ د کورني نظام دزوجينو په باره کې دغه مسائل او احکام بيان کړي دي:

١- دويمه ښځه ان تر څلورمې پورې کول د ميړه حق دي او دا حق اسلامي شريعت ورکړي دي، هيڅوک يې د ممانعت حق نه لري.

٢- دبلې ښځې يا ښځوسره په وا ده کولو کې ميړه له لومړي ښځې يا بل چا ځخه داجازت اخيستلو پابند نه دي، الله تعالى دا حق ورکړي دي.

٣- دبلې ښـځې د کـولو په صـورت کې پر ميـړه باندې فرض دي چې د دوي ترمنځ عـدالت قـائم کړي اوټولو تـه مسـاوي ازدواجي حقـوق ورکړي داسې نه وي چې دبلې ښځې په کـولو سره لومړی ښځې ته شاکړي او حقوق يې تلف کړي، او که داسې وکړي ښځه حق لري چې د خلع غوښتنه ورځخه وکړي أو يا يې پوره حقوق

---

١- تفسير قرطبي دريم ټوک ٢٥٩ - ٢٦٠ مخونه، تفسير ابن کثير لومړى ټوک ٦٨٥ - ٦٨٦ مخونه درياض چاپ ١٤١٨هـ، ١٩٩٧م

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي.

٤ - که میړه لومړی ښځه خامخا طلاقوي مګر ښځه نه غواړي چي مستقبل يې تباه شي او دی ته تیاره شي چي میړه ته خپل ځیني حقوق پریږدي یاې کم کړي خو پدې شرط چي میړه طلاق ورنه کړي، نو میړه ته پکار دي چي ورسره قبوله يې کړي او په خپل منځ کي دواړه پخپله خپل کهول له ویجاړو لو او خپل منځي ربړو څخه وژغوري.[۱]

**د دریم ګړي صلحه:** که چیري میړه او ښځه ونه کړای شي چي خپل منځي اختلافات په خپله سره ختم کړای شي، او د ښځي له پلوه نشوز او سر غړو نه خپل وروستي پړاو ته ورسیدلي وي، د میړه احترام نه کوي په نتیجه کي د طلاق په صورت کي د دوی بیلتون را درومي نو اسلامي کورني نظام د دوی د اختلافاتو د ختمولو او له ویجاړ تیا څخه د کهول د ژغورلو له پاره دا تجویز وړاندي کړي دي او الله تعالی حکم کړی دی چي یو دریم ګړی دي د ښځي له خپلوانو څخه او یو دي د میړه له خپلوانو څخه وټاکل شي او د زوجینو ترمنځ دي منځګړي توب او صلحه وکړي لکه چي الله تعالی فرمایلي دي:

**«وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا»** (نساء سورت ۳۵-آیت ۵ سپاره)

**ترجمه:** او که تاسي د میړه او میرمن په منځ کي له مخالفت څخه ویریږی نو تاسي یو حکم دسړي له خپلوانو څخه او بل د ښځي له خپلوانو څخه صلحه کوونکي مقرر کړي. که اراده لري دوی دواړه د اصلاح او جوړښت نو الله تعالی به د دوی دواړو ترمنځ موافقت پیدا

---

۱- تفسیر جصاص ج ۲ ص ۲۸۳ په لنډیزسره دلاهور چاپ ۱٤۰۰ هـ ۱۹۸۰ م مصنف امام ابوبکر جصاص حنفي متوفی ۳۷۰ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي بیشکه الله تعالی ښه عالم او خبر داردي دصلحه کوونکو پر مقاصدو او دصلحي په هلوځلو باندي.

**تفسیر:** تفسیر پوهانو د دغه مبارک آیت په تفسیر او د دغه تجویز په تفسیر او حکمت کي لیکلي دي:

په دغه مبارک آیت کي داسلامي امت سوله خوښوونکو مسلمانانو ته خطاب دی چي که له تاسي سره اندیښنه وي چي میړه او میرمن خپل منځي مخالفت په خپله نه شي ختمولی نو تاسي ته پکار دي چي یو منصف او مصلح دمیړه له خپلوانو څخه او یو منصف دښځي له خپلوانو څخه مقرر کړي او دروغي جوړي له پاره یي میړه او میرمن ته ولیږي او دغه دواړه باید روغ نیتي، زړه سواند او سوله دوست وي. او الله تعالی دزوجینو په منځ کي دصلحي له پاره د دوی دواړو دخپلوانو انتخاب ځکه کړي دي چي یو خو دمیړه او میرمن نور حالات هم ورته معلوم وي اوبل دا چي له دوی څخه دخیرغوښتلو امید هم ډیر کاوه شي. دغه دواړه منصفان به دحالاتو پلټنه کوي او دواړه به په دي باندي پوهوی چي په صلحه کي د دوی ګټه ده. نو که چیري دغه دواړه منصفان دمیړه او میرمن په منځ کي دسولي په پروسه که مخلص وي نو الله تعالی به د دوی دصلحي دهلوځلو په نتیجه کي دمیړه او میرمن ترمنځ موافقت او جوړښت راولي. (۱)

دغه راز د امامیه شیعه مذهب نامتو امام علامه طبرسی په خپل تفسیر کي د دغه مبارک آیت په تفسیر کي ویلي دي:

**ان خشیتم مخالفة وعداوة بین الزوجین و جهورا حکما من قوم الزوج و حکماً من قوم الزوجة لینظرا فیما بینهما. حتی یحکما بما فیه الصلاح ...** (۲)

***ترجمه:*** *که چیري له تاسي سره ویره وي د میړه او میرمن ترمنځ د دښمني او اختلاف، نو یو کس*

۱- تفسیر ابن کثیرج اص ۶۰۳، تفسیر تفهیم القران ج اص ۳۵۱، تفسیر قرطبی پنځم ټوک ۱۱۵ مخ په لنډیز سره، معارف القران تفسیر دویم ټوک ۴۰۴ مخ.

۲- تفسیر مجمع البیان ج ۲، ص ۴۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصلح د میړه له خپلوانو څخه او یو کس سوله کوونکی د ښځې له خپلوانو څخه وټاکی څو د دوی دواړو ترمنځ د مخالفت دعواملو څیړنه وکړی او بیا دواړه په ګډه سره د دوی ترمنځ پداسی طریقه روغه جوړه او سوله وکړی چی د میړه او میرمن ګټه او سمون پکښی وی.

دغه راز امام خمینی په خپل کتاب: زبدة الاحکام کی ویلی دی:

**لو وقع نشوز من الزوجین بحیث خیف الشقاق بینهما و الجر امرهما الی الحاکم بعث حکمین، حکماً من جانب الزوج و حکماً من جانب الزوجة للاصلاح، فیسعیان فی امرهما، فکلما استقر علیه رأیهما و حکما به نفذ علی الزوجین، و یلزم علیهما الرضا به بشرط کونه سائغا، نعم لو اجتمعا علی التفریق لیس لهما ذالک الااذا شرطا علیهما حین بعثهما بانهما ان شاء اجمعاوان شاء افرقاء ولایکون التفریق الاً بالطلاق عند اجتماع شرائطه.** (۱)

**ترجمه:** که چیری د میړه او میرمن ترمنځ اختلاف پیدا شی پداسی ډول چی د دواړو ترمنځ د بیلتون ویره وی، او د دواړو د خپل منځی اختلاف قضیه تر حاکم پوری ورسیږی، نو حاکم ته پکار دی چی دوه سوله کوونکی د سولی له پاره ورته ولیږی چی یویې د میړه له پلوه وی او بل یې د میرمن له پلوه وی، هغوی دواړه به د دوی ترمنځ د جوړښت زیار باسی. او کله چی دوی دواړه په هره سوله ئزه پریکړه توافق ته سره ورسیدل، ښځې او میړه ته یې اعلان کړه پر دواړو باندی یې منل لازم دی او پری نافذ یږی پدی شرط چی معقول وی هو، که چیری دغه دواړه منځګړی د میړه او ښځې په بیلتون سره متفق شول نو ددې صلاحیت دوی نه لری مګر په دهغه صورت کی چی پر میړه او میرمن یې شرط کړی وی او هغوی دواړو، ددی فیصلی واک ورکړی وی، پداسی ډول چی که د منځګړو خوښه شوه سره پخولا دی کړی او که یې لازمه وګڼله سره جلا دی کړی. او بیلتون نه راځی مګر په طلاق سره او طلاق هلته صحیح کیږی چی شرطونه یې موجود وی.

---

۱- زبدة الحکام، ص ۲۰۷-۲۰۸ مصنف: امام خمینی، د تهران چاپ د طبع تاریخ ۱٤۰٤ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حکمت:** د اسلامي امت فقها و او قاضيانو، د الله تعالی د تحکيم د پورتني امر په حکمت کې او دده د فردي او اجتماعي ګټو په باره کې ويلي دي.

د تحکيم دغه حکم که څه هم د کورني نظام د ميړه او ميرمن د جوړښت په باره کې دی مګر د صلحې دغه حکم يوازې په کورني نظام پورې محدود نه دی بلکې د اسلامي ټولنې د نورو اختلافاتو د هوارولو له پاره هم ګټور دی او بيا خاص په هغو موضوعاتو کې چې اختلاف کوونکي خپلوان وي، داځکه چې په قضائي او عدالتي پريکړو سره که څه هم په سم لاسې توګه جګړې، شخړې او اختلافات پای ته رسيږي مګر د متخاصمينو په زړونو کې له يو بل څخه د کرکې او نفرت جراثيم او مکرو بونه پريږدي چې په راتلونکې کې د خورانا وړو پيښو د تبارز لاملونه او عوامل ګرځيږي، پداسې حال کې چې په خپل منځې صلحې سره هم د سم لاسې اختلافاتو داور لمبې مړې کيږي او هم په راتلونکې کې د احتمالي فتنې او فساد د رامنځته کيدو امکانات ختموي ،خپل منځې مينه، محبت او ايثار ايجادوي.

له همدې کبله د يو ولسمې هجرې پيړې د طرابلس مشهور حنفي قاضي علامه علاؤ الدين طرابلسي په خپل کتاب معين الحکام کې ويلي دي اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضی الله د خپل خلافت ټولو قاضيانو ته يو متحدالمال عمومي فرمان صادر کړی وچې په هغه کې يې قاضيانو ته داسې حکم کړی ؤ:

**«رُدُّ وا القَضَاءَ بَيْنَ ذَوِي الأَرْحَامِ حَتَّى يُصْلِحُوا فَانَّ فَصْلَ القَضَاءِ يُورِّثُ الضَغَائِنَ.»**[۱]

***ترجمه:*** *د خپلوانو ترمنځ د اختلافاتو فيصلې د هغو اصلاح کوونکو خپلوانو ته او سپارئ ځکه چې قضائي فيصلې د متخاصمينو په زړونو کې کينې او عداوتونه توريث او پيدا کوي.*

---

۱- معين الحکام ص ۱۲۳ د کويټي چاپ، دچاپ تاريخ ۱۳۹۳هـ،۱۹۷۳م

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم په وصیت کې صلح

دمشروعي صلحې دریم ډول په وصیت کې دی. او هغه داسې چې یوڅوک دځنکدن په مهال کې په خپل مال کې دکوم یو خپل وارث یا اجنبي دوست یا لرې خپلوان له پاره داسې وصیت وکړي چې وارثانو ته دقبول وړنه وي، او د دوی دخپلوانو له جملې څخه سوله خوښوونکي سپین روبي تر منځ شي او د دوی تر منځ سوله وکړي نو دانېه عمل دی الله تعالی ستایلی دی او داسې یې پدې باره کې فرمایلي دي:

«فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ»

(د بقره سورت ۱۸۲ آیت دویمه سپاره ۲۳ رکوع)

**ترجمه:** *نو هغه څوک چې ویرېږي له وصیت کوونکي څخه دظلم په وصیت کې په خطاء سره یا دګناه په قصد سره نو اصلاح وکړي د دوی په منځ کې یعنې دموصي او موصی له ترمنځ نو پرده باندې هیڅ ګناه نشته په تحقیق سره الله تعالی بښونکی او رحم کوونکی دی په هغه چا باندې چې دالله تعالی داحکامو په اجراء کې ډېر احتیاط کوي.*

**تفسیر:** مفسرینو او فقهاؤ د دغه مبارک آیت په تفسیر کې ویلي دي:

په اسلامي شریعت کې وصیت په درې ډوله دی: ۱- ممنوع ۲-واجب، ۳- مستحب، دوصیت کوونکي دهغو خپلوانو په باره کې وصیت کول ممنوع دي چې دمیراث برخې یې الله تعالی په قران کریم کې ټاکلي دي.

دویم واجب وصیت دی او هغه دا چې پر مړه کیدونکي باندې زکات، نذر، حج او یا دکوم بنده حق لکه پور، امانت پرې پاتې وي او هغه شاهدان ونه لري نو پرده باندې فرض دي چې د دغه ډول دحقوقو په اداء کولو سره د ده له مال څخه خپلو وارثانو ته وصیت وکړي. (۱)

---

۱- غایة المأمول شرح التاج الجامع للاصول دویم ټوک ۲۶٤ دبیروت چاپ ۱٤۰٦هـ، ۱۹۸٦ مصنف: شیخ منصور علي ناصف من علماء الازهر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وصیت کی د اختلاف په صورت کی د شیعهؤ په مذهب کی هم سوله کول مشروع او ښه کار دی لکه چی د پورتنی مبارک آیت په تفسیر کی علامه طبرسی په خپل تفسیر مجمع البیان کی د خپل مذهب نظر په تفصیل سره ذکر کړی دی چی د اهل سنت و الجماعة د تفسیر پوهانو او فقهاو له نظر سره په اړونده موضوع کی یو ځیل دی. د تفصیل له پاره دی نوموړی تفسیر ته مراجعه وکړای شي.[1]

دریم مستحب وصیت دی: او دا مړه شوی د هغو خپلوانو په باره کی وصیت دی چی په شریعت کی یی د میراث برخی تاکلی شوی نه دی.

خو د دغه وصیت مشروعیت دوه شرطونه لری. یو دا چی د هغو وارثانو په اجازه سره وی چی په قران کریم کی د میراث برخی تاکلی شوی دی. ځکه چی د هغوی له اجازی څخه پرته وصیت کول ورته روانه دی لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم**

**«لاَ تَجُوزُ الوَصِيَّةُ لِوَارِثٍ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الوَرَثَةُ.»**[2]

***ترجمه:*** *له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی ویلی یی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: وصیت کوونکی ته وصیت کول روانه دی مگر دا چی د وارثانو په خوښه او مشوره او رضامندی سره وی،*

دویم شرط یکی دادی چی دغه وصیت به ظالمانه او غیر عادلانه نه وی او هغه داسی چی د ځینی وارثانو له پاره وصیت وکړی او ځینی محروم کړی، او یا دا چی د خپل ټول مال له یوی برخی څخه په زیات مال وصیت وکړی. دغه ډول وصیت کول حرام او کبیره گناه ده

---

۱- تفسیر مجمع البیان، ج ۱، ص ۲۶۹

۲- سنن دارقطنی څلورم ټوک ۹۷مخ د ملتان چاپ ۱۳۵۹ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چی رسول الله سلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**«عَنْ اِبْنَ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِّی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیه وَسَلَّمَ قَالَ: «اَلْجَنَفُ فِی الْوَصِیَّةِ مِنْ الْکَبَائِرِ»** رواه ابن مردویه. (۱)

***ترجمه:*** *له ابن عباس رضی الله عنهما څخه او هغه له نبی صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی چی فرمایلی یی دی: په وصیت کی په خطایی سره ظلم کول له کبائرو گناهو نو څخه دی.*

نو که کوم وصیت کوونکی داسی وصیت وکړ او وارثانو ورسره مخالفت وکړ او ترمنځ اختلاف زیات شو نوسوله دوست وګړو ته پکار دی چی ددوی تر منځ صلحه وکړی. او هغه داسی چی وصیت کوونکی له کړی ظالمانه وصیت څخه منع کړی او پخپل کړی وصیت کی تعادل وکړی او وارثان دی ته چمتو کړی چی عادلانه وصیت کول د وصیت کوونکی شرعی حق دی. (۲)

# څلورم په پرهارونو کی صلحه کول

له زخمونو څخه مطلب دادی چی دوه کسان یا څو کسان په خپل منځ کی جنگ سره وکړی او یو لوری پر بل باندی دګوزارونو په دوران کی هغه ټپی کړی، سر یی مات کړی یا یې غاښ مات کړی یا یی سترګه ټپی یا ړنده کړی او داسی نور. نو پدی کی د اسلامی شریعت دجزا قانون دادی چی زخمونه قصاص دی. یعنی دټپی کوونکی به هماغه اندام ټپی کوی چی د مضروب یې ټپی کړی دی لکه چی الله تعالی په قرآن کریم کی فرمایلی دی:

---

۱- تفسیر ابن کثیر لومړی ټوک ۲٦٤، هدایه ٤ ټوک ٦۳۹، تفسیر احکام القرآن لومړی ټوک ۱۷۲، مخ مصنف: امام ابوبکر جصاص حنفی متوفی ۳۷۰هـ

۲- تفسیر موضح الفرقان لومړی ټوک ۱۳۳مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«وكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ»**

(دمائده سورت ٤٥ آیت ٦ سپاره ٥ سورت)

***ترجمه:*** *او فرض کړی و موږ پر دوی باندی په دی تورات کی چی بیشکه نفس دی وو ژلی شی په بدل دمقتول نفس کی او سترګه دی ړنده شی د ړندی کړی سترګی په بدل کی او پوزه دی پری کړای شی په بدل د غوڅی کړی پوزی کی، او غوږ د پری کړای شی د پری کړی غوږ په بدل کی او غاښ دی وویستلی شی د بل دویستلی شوی غاښ په بدل کی او پرهارونه. قصاص یعنی بدل دی برابر، نو هر چاچی عفوه وکړه د دی قصاص نه نو دغه عفوه کفاره ده ده ته یعنی دی پدغی عفوی سره له ګناه څخه پاکیږی.*

**تفسیر:** مفسرینو د دغه مبارک آیت په تفسیر کی لیکلی دی: که څه هم دغه حکم په موسوی شریعت کی و مګر په محمدی شریعت کی هم همدغه حکم دی. [۱]

قرآن کریم د پرهارونو په باره کی دوه تجویزونه وړاندی کړی دی چی یو قصاص او بل عفوه ده، دریم تجویز نبوی احادیثو چی د شریعت دویمه سرچینه ده وړاندی کړی دی چی صلح ده او هغه داسی چی د پرهار ژلی او زخمی کوونکی ترمنځ په دیت او ملهمانی ورکولو او قبلولو سره صلحه وکړای شی. لکه چی امام ضحاک شیبانی ابوبکر احمد بن عمر و بن ابی عاصم رحمة الله علیه (متوفی ۲۸۷هـ، ۹۱۱م کال) په خپل مشهور تألیف کتاب الدیات کی ټول هغه نبوی فیصلی جمع کړی دی او ټول هغه احادیث یی روایت کړی دی چی د پرهارونو د صلحی په باره کی ورڅخه مروی دی چی د نمونی په توګه د صلحی یوه فیصله یی زه دلته وړاندی کوم:

---

۱- معارف القرآن دریم ټوک ۱٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



«عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَاجَهْمَ ابْنَ حُذَيْفَةَ مُصَدِّقاً فَلَاحَاهُ رَجُلٌ فِي صَدَقَتِه فَضَرَبَهُ أَبُوجَهْمَ فَشَجَّهُ فَأَتَوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: اَلْقَوَدَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَكُمْ كَذَا وَكَذَا فَلَمْ يَرْضَوا، فَقَالَ لَكُمْ كَذَا وَكَذَا فَرَضُوا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَنِّي خَاطِبُ الْعَشِيَّةَ عَلَى النَّاسِ وَمُخْبِرُهُمْ بِرِضَاكُمْ؟

فَقَالُوا: نَعَمْ. فَخَطَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اِنَّ هٰؤُلَاءِ اللَّيْثِيِّينَ اَتَوْنِي يُرِيدُونَ الْقَوَدَ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِمْ كَذَا وَكَذَا أَرَضِيتُمْ؟ فَقَالُوا لَا، فَهَمَّ الْمُهَاجِرُونَ بِهِمْ فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكُفُّوا ثُمَّ دَعَاهُمْ فَزَادَهُمْ فَقَالَ أَرَضِيتُمْ؟ قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ فَانِّي أَخْطُبُ عَلَى النَّاسِ وَأُخْبِرُهُمْ بِرِضَاكُمْ، فَخَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ اَرَضِيتُمْ؟ قَالُوا: نَعَمْ.» (۱)

**ترجمه:** له عروة ابن الزبير او هغه له خپلې تروري ام المؤمنين عايشې رضى الله عنها څخه روايت کړی دی چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم دحذيفه زوی جهم رضى الله عنه له خلکو څخه دزکات غونډولو پر ماموريت وليږه. دزکات ورکوونکو له جملې څخه دبنوليث دقبيلې يو سړی دزکات په ورکولو کې جنجال ورسره وکړ. حضرت جهم ورته په غصه شو او هغه يې وواهه او ټپي يې کړ. پرهار ژلي او دهغه خپلوان نبی صلى الله عليه وسلم ته راغلل او ورته ويې ويل: ای دالله رسوله مونږ دخپل مضروب د پرهار کسات غواړو.

نبی کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: له قصاص اخيستلو څخه تيرشی زه به ستاسی ترمنځ صلحه وکړم او له جهم څخه به دومره دومره تاوان درته واخلم. مګر هغوی رضامند نه شول، رسول الله صلى الله عليه وسلم دتاوان په مقدار کې زياتوالی ورته وکړ او ورته ويې فرمايل: دومره او دومره تاوان به درکړی او صلحه ورسره وکړی، هغوی قبول کړ او په تاوان اخيستلو رضامند شول،

۱ - کتاب الديات باب الامام يصالح عما يجب على عامله من قصاص ٥٦ مخ مصنف امام ضحاک شيبانی. دکراچی چاپ، دچاپ تاريخ ١٤٠٧هـ، ١٩٨٧م

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

زه به نن مـا خـوستن د مـجـرم واکـمنان راوغـواړم، هغـوی ته به خطاب وکـړم او صلحی ته د تاسی له رضامندی او موافقی څخه به يي خبر کړم. هغوی ورته وویل: سمه ده او زمونږ د رسره خوښه ده.

له وعدی سره سم رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی راوغوښتل تقریریي ورته وکړ او بيا يي ورته وفرمایل: دلیث قبیلی دغه سپینږیری او مشران ما ته راغلي او له ما څخه دخپل مضروب د پرهار دکسات غوښتنه کوی. نو ما دوی ته ستاسی له پلوه دصلحی په کولو سره ددومره تاوان په ورکولو سره صلحی ته چمتو کړی دی ایا تاسی دوی ته په تاوان ورکولو او سولی کولو رضامند یاست؟

هغوی ورته وویل: نه، مهاجرینو ته غصه ورغله او پرهغوی باندی یی دحملی کولواراده وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم مهاجرینو ته امروکړ چی زغم او صبر وکړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا هغوی ته نصیحت وکړ او دصلحی گټی یي ورته بیان کړی او بیا یي ورته وفرمایل: آیا تاسی خوښ یاست چی د تاوان په ورکولو صلحه ورسره وکړی؟ هغوی وویل: هو، بیا یي ورته وویل: زه به د مجروح سپین روبی صلحی ته ستاسی له غاړی کیښبو دوڅخه خبر کړم، بیا یې هغوی ته وویل چی د مجرم پلویان تاوان درکولو او صلحی ته راضي شول. آیا تاسی رضامند یاست؟ هغوی هم وویل؛ هو، پدی توگه یي دهغوی ترمنځ سوله وکړه.

## پنځم په مالي حقوقوکی صلحه کول

دسولی پنځم ډول په مالي حقوقوکی دمتخاصمینو یعنی مخالفینو تر منځ صلحه کول دی. او دصلحی دغه ډول هم په اسلامي شریعت کی دمسلمانانو تر منځ نه یوازی داچی مشروع او رواده بلکی ضروری ده. څو دمسلمانانو تر منځ وروری، امن او مینه پر دښمنی بدله نه شی أود حقوقو جنجال محاکمو ته منجر نه شی، عداوتونه او شخړی و ده ونه مومي.

په مالي حقوقو کی صلحه دامعنا چی د دوه کسانو ترمنځ په روپیو، جای داد، جنس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې نورو کې اختلاف راشي، يو يې غوښتنه کوي او بل يې نه ورکوي يا ټول هغه څه نه ورکوي چې غوښتونکی يې دعوه کوي. بيا منځه ګړي مصلحين ددوی ترمنځ د صلحې کولو له پاره هلې ځلې او منډې ترړې پيل کړي.

ډولونه: د اسلامي امت فقها ؤ ويلي دي: په مالي حقوقو کې صلحه په درې ډوله ده:

لومړی ډول: داسې صحله چې له اقرار سره وي.

دويم ډول: داسې صلحه چې له سکوت يعنې چوپتيا سره وي.

دريم ډول: هغه صلحه چې له انکار سره وي. لکه چې ويلي يې دي:

الصلح علی ثلاثة اضرب: صلح مع اقرار وصلح مع سکوت وصلح مع انکار.

***ترجمه:*** *صلح په درې ډوله ده: له اقرار سره صلح، له سکوت سره صلح او له انکار سره صلح او بيا يې دصلحې دد غو درې واړو ډولونو د هر يو بيلا بيل تعريف کړی دی او داسې يې ويلي دي:*

۱- صلح مع اقرار: هغه صلحه ده چې يو سړی پر بل باندې د خپل حق دعوه وکړي او هغه اقرار هم پرې وکړي مګر په ادا ء کولو کې يې وروسته وړاندې کيږي. بيا د دواړو تر منځ صلحه وکړای شي پداسې ډول چې دعوه کوونکی له خپل ځينې حق څخه او مدعی عليه پر باقي پاتې حق ورکولو مجبور کړای شي او هغه يې هم د مصلحينو له فيصلې سره سم اداً کړي. يا د دواړو ترمنځ داسې صلحه وکړای شي چې د دعوی کړای شوی شي په عوض بل شی ورکړای شي د مثال په ډول: نغدې روپۍ يې پور ورکړي وي او پور وړې روپۍ نه لري په عوض کې يې ځاروئ، کور يا بل څه ورکړي.

۲- صلح مع انکار: دا هغه صلحه ده چې يو شخص پر بل باندې د حق دعوه وکړي مګر مدعی عليه چورلټ انکار وکړي او ورته ووايي چې ستا پر ما باندې هيڅ حق نشته. دعوه کوونکی ورته ووايي چې يا به مې حق راکوې او يا به قسم کوې. بيا دواړه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلحي ته غاړ کېږدي چي پور وړی له قسم څخه وژغورل شي او د حق د څښتن ټول حق ضائع نه شي خو شرط پکې دادی چي د مدعی به دغه دعوی حقه وي او له مدعی علیه څخه به هیره وي.

**۳- صلح مع سکوت:** داډول صلحه داسي صلحه ده چي يو شخص پر بل باندی د څه حق دعوی وکړي، او هغه چوپ پاتي شي، پداسي ډول چي د مدعی پر حق باندی نه اقرار وکړي او نه انکار ور څخه وکړي، او بيا دد واړو تر منځ صلحه وکړای شي، څوخبره جنګ او قتل ته ونه ريسېږي.

**حکم:** داسلامي امت د جمهور و فقهاؤ په نزد، د حقوقي صلحي دغه دري واړه ډولونه روادي او په اسلامي شريعت کې ستايلي شوي دي څو د ذات البيني شخړو او منازعاتو مخه ونيولي شي.[۱] دغه د حقوقي صلحي دری واړه ډولونه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو تر منځ کړي دي چي زه يې د نمونې په توګه دلته يوه پريکړه او صلحه د موضوع د مشروعيت په ثبوت کې وړاندي کوم:

**«عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ لَهُ عَلٰى عَبْدِاللّٰهِ بْنِ أَبِي حَدْرَدَ الأَسْلَمِيِّ مَالٌ فَلَقِيَهُ فَلَزِمَهُ حَتّٰى إِرْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا فَمَرَّبِهِمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا كَعْبُ فَأَشَارَ بِيَدِهِ كَأَنَّهُ يَقُولُ النِّصْفَ فَأَخَذَ نِصْفَ مَا عَلَيْهِ وَ تَرَكَ نِصْفًا.»**[۲]

**ترجمه:** *له حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه متوفی ۵۰هـ ۶۷۳م څخه روایت دی چي د ده پر*

۱- هدايه ٤ ټوک ۲۲۹ مخ د ډيلي چاپ د چاپ تاريخ ۱۲۹۸ هـ
- فيض الباری ۳ ټوک ۳۹۶ دلاهور چاپ د چاپ تاريخ ۱۳۵۷ هـ ۱۹۳۸ م
- الفقه الاسلامی وأدلته ٥ ټوک ۲۹۵ - ۲۹۷ دبيروت چاپ دارالفكر
- فتاوی النوازل ۳۲۸ مخ د کويټي چاپ ١٤٠٥هـ ١٩٨٥ مصنف ابوليث سمرقندی متوفی ۳۷۳ هـ
۲- صحيح بخاری څلورم ټوک ٦١٧ مخ کتاب الصلح د ملتان چاپ ١٤١٥هـ ١٩٩٥ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



*یو یل صحابي حضرت عبدالله بن حدرد اسلمي باندي پورۇ چي نيته يې پوره شوي وه، نو په نبوي جوماتکي د دواړو ليده کاته سره وشو، حضرت کعب خپل پور ورڅخه وغوښت.*

هغه ورته وويل: اوس يې نه لرم دربه يې کړم. حضرت کعب ورته وويل: همدا نن او همدا اوس به يې راکوي. پدي کي دواړو ناندري سره وهلي او زوريې اوچت شو نبي کريم صلي الله عليه د دوي شخړه واوريده او ورته راووت پو ښتنه يې ورڅخه وکړه له تحقيق څخه وروسته يې د دواړو تر منځ صلح وکړه پداسي ډول چي کعب بن مالک (ض) ته يې وفرمايل: دخپل پور نيمايي برخه ورته معاف کړه هغه قبوله کړه. بيا يې ابن ابي حدرد ته وويل: قرض يې همدا اوس ادأ کړه. هغه هم سم لاسي پاتي پورور کړ.

**تشريح:** امام ابن حجر عسقلاني رحمة الله عليه (متوفي ۸۵۲ هـ ۱٤۷۵ م کال) په خپل کتاب فتح الباري دصحيح بخاري په شرح کي د دغه حديث په تشريح کي ويلي دي: دغه مبارک حديث امام بخاري دري ځلي په خپل صحيح کي روايت کړي دي. او پر حضرت ابن ابي حدر دباندي د حضرت کعب بن مالک دوه اوقيه پورۇ اويوه اوقيه څلويښت درهمه دي چي دوه اوقيه اتيا درهمه کيږي. نبي کريم صلي الله عليه وسلم د دواړو صلحه په نيمايي پورور کولو وکړه چي څلويښت درهمه کيږي او پاتي څلويښت درهمه يې پري معاف کړل.

حافظ ابن حجر رحمةالله عليه د دغه ډول صلحي په هکله ليکلي دي:

**«اتفق العلماء على أنه ان صالح غريمه عن دراهم بدراهم أقل منها جاز و اذا حل الأجل لم يجز أن يحط عنه شيأً قبل ان يقبضه مكانه وان صالحه بعد حلول الاجل عن دراهم بدنانير او عن دنانير بدراهم جاز و اشترط القبض.»** (۱)

***ترجمه:*** *داسلامي امت علماؤ پردي باندي اتفاق کړي دي چي که چيري د پورله ښتن سره پردي*

---

۱- فتح الباري ۵ ټوک ۲۳۷ مخ دبيروت چاپ ۲ ۱٤۰هـ ۱۹۸۱ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



*باندی صلحه وشی چی پوروړی به په نغد پورکی له ورکړ یو روپیو څخه کمی ورکوی نو دا ډول سوله کول روادی پدی شرط چی د پور ورکولو نیتهه پوره شوی نه وی او که د قرض ادا ء کولو نیتهه پوره شوی یا تیره شوی نه وی نو بیا یې کمول روانه دی: بلکی پوره به یې ورکوی. هو که له قبض څخه وروسته د پورڅښتن یو څه بیرته ورکوی بیا نو پروانه لری او داسی کول احسان دی.*

دغه راز که چیری د پورد ادا ء کولو نیتهه پوره شوی وی او له پوروړی سره هماغه سکه په لاس کی نه وی چی پورکړی یې وی او د دواړو صلحه پردی باندی وکړای شی چی د درهمو پرځای د هغوی په انډول د سروزرو دینار ورکړی یا د سروزرو د دینارونو پر ځای د سپینو زرو درهم ورکړی، یا هره چلیدونکی سیکه پر بله هغه سکه بدله کړی چی دواړه پدغه هیواد کی معمول وی او چلیږی نو داسی صلحه کول هم روادی. خو شرط پکی دا دی چی سم لاسی به قبض کولی شی او نیتهه به پکی نه وی.

مطلب دا چی په دواړو سورتونو کی چی ذکر شو قبض او سم لاسی ادا ء او د نیتهی پوره والی په دغه ډول صلحه کی شرط کړی شوی دی.

د شیعه مذهب فقهاؤ هم په مالی امورو کی سوله روا ګڼلی ده لکه چی امام خمینی په مالی امورو کی د سولی په باره کی ویلی دی:

**«انما یصح الصلح علی الحقوق القابلة للنقل والا سقاط کما أنه انما یصح من البالغ العاقل القاصد المختار.»**[1]

*ترجمه: په تحقیق سره په داسی حقوقو کی صلح صحیح کیږی چی د لیږدولو او پرینبودلو جوګه وی، او په اموالو کی سوله د داسی چا صحیح کیږی چی هوښیار وی، او په خپله خوښه او رضامندی سوله کوونکی وی او په خپله اراده سوله کوی. او متشرع حاکم هم سوله کوونکی په خپلو اموالو کی له تصرف کولو څخه منعه کړی نه وی.*

---

۱ – فتاوی تحریر الوسیله، ج ۱، ص ۵۱۷، زبدة الاحکام ص ۱۵۳ توضیح المسایل ص ۲۳۷ مسئله ۲۱۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم د دوو مسلمانو جنګیالیو ډلو ترمنځ سوله کول

د سولې شپږم ډول د مسلمانانو په خپل منځ کې د پیل شوي وسلوال تو د جنګ د بندولو او ختمولو سوله ده. چې د سولې په ګردو ډولونو کې زیاته ضروري او مهمه سوله ده، ځکه چې خپل منځي جنګونه داسې مهلک او تباه کوونکې مادي او معنوي نتائج لري چې کم سیاله بلکې بې ساري دي. له همدې أمله الله تعالی په قرآن کريم کې په خصوصيت أوځانګړتیا سره مسلمانانو ته د خپل منځي جنګونو د سم لاسي بند ولو د سولې حکم کړی دی او داسې يې فرمايلي دي:

**«وَ اِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا فَاِنْ بَغَتْ اِحْدٰهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِىْ تَبْغِىْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَ اَقْسِطُوْا اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ - اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ.»** (دحجرات سورت ۹-۱۰- ایاتونه ۲۱ سپاره ٤۹ سورت)

***ترجمه:*** *که چيرې د مؤمنانو دوه ډلې په خپل منځ کې په جنګ اوجګړه کې سره اخته او بوخت شي، نو ای نورومؤمنانو! تاسې دهغو دواړو په خپل منځي جنګ کې د نښکيلو ډلو ترمنځ هغوی ته په نصيحت کولو سره او دالله تعالی حکم ته په بلنې سره صلحه وکړئ. نو که ظلم او تيری وکړيوی جنګ کوونکې ډلې پر هغې بلې باندې او سولې ته يې غاړه نه کيښوده، او حکم دالله تعالی اورسول الله ته غاړه کې نږدې اوسوله قبوله نه کړي. نو ای مؤمنانو تاسې ټول د مظلومې ډلې په ملا تړ کې له هغې ډلې سره جنګ وکړئ چې تجاوز او تيری کوونکې وي پر کمزوري او مظلومې ډلې باندې تر هغه پورې چې دوی بيرته دالله تعالی حکم ته راوګرځيږي او غاړه ورته کيږدي.*

نو که چيرې تيری کوونکې اوسرغړ وونکې جنګيالې ډله وګرځيده له خپل ظلم او تيری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه او دالله تعالی حکم ته یې غاړه کېښوده نو تاسې د دوی په منځ کې روغه اوسوله وکړئ په عدل او انصاف سره، په تحقیق سره الله تعالی له انصاف او عدل کوونکو سره مینه او دوستي کوي، بیشکه چې ټول مؤمنان په دین کې سره ورونه دي نو پس ای مصلحینو تاسې ددوی په منځ کې سوله او جوړښت وکړئ. ځکه چې دوی دواړه ستاسې هم په دین کې ورونه دي، او د دوی دواړو تر منځ داسې سوله وکړئ چې تل ترتله وي، او ای مصلحینو تاسې له الله تعالی ځخه دصلحې کولو په دوران کې ووېرېږئ، د دې له پاره چې پر تاسې باندې رحمت وکړی شي دالله تعالی له پلوه او دهمیش له پاره ستاسې ترمنځ دجنګ دبل شوی تباه کوونکې اورلمبې مړې کړئ.

**تفسیر:** تفسیر پوهانو او داسلامي امت فقهاؤ دپورتنیو مبارکو دوه ایاتونو زیات طولاني تفسیرونه کړي دي او د مسلمانانو دخپل منځي جنګونو په باره کې یې له پورتنیو ایاتونو ځخه ډېر دجنګي فروعي احکامو او مسائلو استنباط کړي دي. ځکه چې دغه دواړه ایاتونه دمسلمانانو دخپل منځي شخړو، او اختلافاتو دهوار ولو او جنګونو دله منځه وړلو له پاره اساسي قانون دي. چې دهغو ټولو په تفصیل سره ذکر کول موضوع طولاني کوي. نو دادې زه یې په ځلورو عنوانونو کې خلاصه کوم: لومړی دجنګ کوونکو ډولونه، دویم: دهغوی احکام او مسائل دریم دصلحې مراتب، ځلورم د مصلحینو مسئولیتونه.

دجنګ او مؤمنانو جنګیالیو ډولونه:

که چیرې دمسلمانانو دوه ډلې په خپل منځ کې دیوبل خلاف جنګیږي نو د دې ځو مختلف صورتونه دي چې په لاندې ډول بیان کړای شوي دي:

**لومړی:** لومړئ داچې دوه مسلماني ډلې په خپل منځ کې په جنګ اخته شي او دغه دواړه ډلې داسلامي حکومت دامام رعیت وي یا یوه رعیت وي او بله نه وي، یا یې دواړه رعیت نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حکم:** که چیری دواړه ډلی دامام المسلمین رعیت وی نو پر امیر باندی لازم دی چی د دوی دواړو ترمنځ روغه جوړه وکړی او له شرعی حکم سره سم د هغوی دواړو په منځ کی فیصله وکړی. نو که دواړه د اسلامی حکومت اوربند او فیصله و منی ښه و ترښه او که نه په زور دی جنګ پری بند کړی. مګر که یوه جنګیالۍ ډله یې ومنی او بله یې نه منی نو پر امام باندی لازم دی چی ورسره وجنګیږی او فتنه یې ختم کړی. اوله دی امله چی سرغړوونکی ډلی د اسلامی حکومت داوربند له حکم منلو څخه سرغړونه کړی ده او جنګ یې ورسره کړی دی د یاغی ډلی حکم پری کولی شی او د بغاوت هغه احکام پری جاری کولی شی چی په فقهی کتابونوکی د یاغیانو په باره کی بیان شوی دی.[١]

**دویم ډول:** د مسلمانانو د دولویو ډلو تر منځ جنګ کول یاد دوه مسلمانو حکومتو نو تر منځ نښتـه او جنګیدل دی او د دواړو جنګ د مادیاتو او د نیاله پاره وی او یوه خوایې هم د آخرت په خاطر نه وی.

**حکم:** د دغه ډول جنګ په هکله شرعی حکم دادی چی دغه ډول جنګ د فتنی جنګ دی. او مسلمانانو ته پکار دی چی له دغه ډول جنګ څخه په بشپړه توګه ډډه وکړی او د یوی خواپلوی هم ونه کړی او دواړو ډلوته نصیحت وکړی چی له الله تعالی څخه وویریږی او جنګ بند کړی. - ځکه چی دغه ډول جنګ هغه جنګ دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه ډول جنګ د جنګیالیو په باره کی ویلی دی:

**«القاتل والمقتول کلاهما فی النار» وژونکی او وژلی شوی دواړه دوزخیان دی. »**

**دریم ډول:** د مـؤمنانو ترمنځ دریم ډول جنګ دادی چی د دواړه جنګ کوونکو ډلو له جملی څخه یوه ډله پرحق باندی او دویمه پر باطله وی، او باطله ډله اصلاح او سولی ته هم غاړه نه ږدی او جنګ ته دوام ورکوی.

---

١ - تفسیر بیان القرآن ٩٩٥ مخ مصنف: حکیم الأمت مولنا اشرف علی تهانوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حکم:** په دغه صورت کې پر مؤمنانو واجب دي چې دهغې ډلې پلوي وکړي چې پر حق باندې وي او ترهغه پوري دنافرماني ډلې په خلاف وجنګیږي چې یا په بشپړه توګه وځپل شي او یا حق او سولې ته تسلیم شي. (١)

٢- د شیعه مذهب تفسیر پوهانو هم ویلي دي: چې د دو جنګیالیو مؤمنو ډلو ترمنځ سوله کول باید په عدل او انصاف سره وکړای شي، پداسي ډول چې د دواړو جنګیالیو ډلو ترمنځ د خپلوۍ او دوستۍ له په نظر کې نیولو څخه پرته وکولی شي ظالم ته ظالم او مظلوم ته مظلوم وویلی شي. لکه چې علامه طبرسي په خپل تفسیر کې د دغو مبارکو آیاتونو په تفسیر کې په تفصیل سره بحث کړی دی چې د نمونې په ډول یې د تفسیر ځینې برخه دلته وړاندې کولی شي:

**«وَ اِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا»** اي فريقان من المؤمنين قاتل احدهما صاحبه **«فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا»** حتى يصلحا **«فَاِنْ بَغَتْ اِحْدَاهُمَا عَلَى الْاُخْرى»** بأن تطلب ما لا يجوز لها و تقاتل أخرى ظالمة لها متعدية عليها **«فَقَاتِلُوْا الَّتِي تَبْغِي»** لأنها هي الظالمة المتعدية دون الأخرى **«حَتّٰى تَفِيْءَ اِلٰى اَمْرِاللّٰهِ»** اى حتى ترجع الى طاعة اللّه و تترك قتال الطائفة المؤمنة **«فَاِنْ فَاءَتْ»** اى رجعت و تابت و اقلعت و انابت الى طاعة اللّه **«فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا»** اى بينها و بين الطائفة التى هى على الايمان «بالعدل» اى بالقسط حتى يكونو اسواء ولا يكون من احداهما على الأخرى جور ولا شطط فيما يتعلق بالضمانات من الأروش **«وَ اَقْسِطُوْا»** اى اعدلوا **«اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ»** العادلين الذين يعدلون فيما يكون قولا و فعلاً **«اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ»** فى الدين يلزم نصرة بعضهم بعضا **«فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ»** اى بين كل

١- تفسیر سراج المنیر ٤ څلورم ټوک ٦٦ مخ مصنف: امام ماشربیني متوفی ٩٧٧ هـ دبیروت چاپ دچاپ تاریخ ١٢٨٥ هـ تفسیر ماوردي ٥ ټوک ٣٣١ مخ مصنف امام وردي متوفی ٤٥٠ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رجلين تقاتلا و تخاصما و معنى الاثنين يأتى على الجمع لأن تأويله بين كل أخوين يعنى فانتم اخوة للمتقاتلين فاصلحوا بين الفريقين، اى كفوا الظالم عن المظلوم و اعينوا المظلوم «وَ اتَّقُوا اللّٰهَ» فى ترك العدل والاصلاح او فى منع الحقوق «لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» اى لكى ترحموا.»[١]

**ترجمه:** که چیری د مؤمنانو یوه ډله له بلی سره جنگ کوی نو د دوی دواړو په منځ کی تر هغه پوری سوله وکړی چی روغه جوړه سره وکړی، نو که چیری یوې ډلې د دوی پر بلې تیری وکړ له اوربند څخه وروسته او هغه څه ور څخه غواړی چی ورته روانه وی او پر هغی بلی باندې جنگ کوی پداسی حال کی چی دا ظالمه وی او پر هغی بلې باندی تیری کوونکی او ظالمه ده نه هغه بله تردی چی تیری کوونکی ډله د الله تعالی طاعت قبول کړی او د مؤمنی ډلی په خلاف جنگ پریږدی. نو که چیری متعدی ډله را وگرځیده او توبه یی وکړه او جنگ یې ختم کړ او د الله تعالی طاعت ته یې رجوع وکړه «فاصلحوا بینهما» یعنی د جنگیالی ډلی او د هغی بلی مومنی ډلی ترمنځ «بالعدل» په نیاو سره سوله وکړی تردی چی دواړه سره برابری شی او د یوې ډلی پربلی باندی تیری او په هغو څیزونو کی نااندولی نه وی چی په تاوان او تضمین کی ورڅخه یو بل ته اخیستلی شی «واقسطوا» عدل وکړی «ان الله یحب المقسطین» بیشکه الله تعالی هغه عدل کوونکی خوښوی چی په خپل قول او فعل کی عدل کوی.

«انما المؤمنون اخوة» مومنان په دین کی سره ورونه دی په خپل منځ کی یې یو پربل نصرت لازم دی «فاصلحوا بین اخویکم» نو صلح وکړی د دوه داسی ورونو ترمنځ چی سره جنگیږی. اثنین د جمع په معنا ده، مطلب دا چی تاسی د دواړو جنگیالیو ډلو ترمنځ چی ستاسی ورونه دی سوله وکړی. یعنی ظالم له مظلوم څخه منعه کړی او د مظلوم مرسته وکړی «واتقوا الله» او د عدل په نه کولو له الله تعالی څخه وویریږی او په اصلاح کی او د حقوقو په منعه کی «لعلکم ترحمون» څو پر تاسی رحم وکړای شی.

---

١- تفسیر مجمع البیان ج ٥، ص ١٣٣-١٣٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم ډول:** که چیری د دواړو جنګ کوونکو مؤمنانو ډلوله جملې څخه یوه رعیت وی چې دخپل پاچا او حاکم په خلاف یې بغاوت کړی وی دفقهاؤ په اصطلاح کی همدغوته یاغی ویل کیږی. نو که چیری دغه یاغی ډله دخپل خروج او بغاوت له پاره هیڅ کوم شرعی دلیل ونه لری او صرف دفساد او فتنی له پاره یې د اسلامی شرعی حکومت په خلاف جنګ او بغاوت پیل کړی وی. نو پرمؤمنانو باندی لازم دی چې داسلامی حکومت ملاتړو کړی او دګر دوفقهاؤ په اتفاق د دوی دځپلو له پاره داسلامی حکومت جنګ کول روا دی.

**حکم:** دغه ډله شرعی یاغیان دی. مګر دهغوی په خلاف دجنګ له پیل کولو څخه دمخه داسلامی حکومت مشرته پکار دی چې لومړی دعوت ورکړی چې له بغاوت څخه تو به وباسی او داسلامی حکومت اطاعت بیرته قبول کړی. نو که یې دعوت قبول کړښه ترښه او که یې قبول نه کړنو داسلامی حکومت امیرته رواده چې دحقپالونکو مؤمنانو په ملاتړد هغو په خلاف جنګ وکړی. خو شرط پکی دادی چې حکومت به ترهغه پوری جنګ نه پری کوی چې یاغی ډلی دحکومت په خلاف جنګ پیل کړی نه وی څو دغه پړه هم پر هغوی باندی پریوځی. (۱)

**پنځم ډول:** پنځم ډول دحکومت دنسکورولو له پاره پاڅون او بغاوت دی. او دیاغی ډلی له ظاهری حالت څخه داسی معلومیږی چې دبغاوت کوونکی ډلی وګړی ظالمان او فاسقان وی پداسی حال کی چې حکومت عادل وی، او له بغاوت کوونکی ډلی سره دحکومت په خلاف کوم شرعی دلیل هم نه وی.

**حکم:** د دغی ډلې په خلاف پرمؤمنانو باندی واجب دی چې دحکومت ملاتړو کړی او

---

۱- هدایه دویم ټوک، ۵۸۹ مخ، فتاوی قاضیخان، ج ۳، ۵۵۹ مخ د کویتی چاپ ۱۳۹۸ هـ ۱۹۷۸ م چاپ مصنف: امام فخرالدین حسن بن منصور حنفی متوفی ۲۵۹ هـ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ته د دغی یاغی فاسقی اوظالمی ډلی دځپلو له پاره جنګ کول شرعاً روادی خوشرط پکی دادی چی حکومت به دجنګ پیل نه کوی. مفسرینو او فقهاؤویلی دی که څه هم حکومت عادل هم نه وی، د دغه ډول حکومت دباقی پاتی کیدوله پاره دمفسد ینو په خلاف جنګیدل روادی ځکه چی د ده په ذریعه دمسلمانانو دمملکت نظم قائم دی.

شپږم ډول: شپږمه ډله دحکومت په خلاف داسی بغاوت کوونکی جنګیالی ډله ده چی دخپل بغاوت دمشروعیت له پاره شرعی دلیل بیان کړی مګر دهغه تآویل او تفسیر غلط کوی چی شرعاً باطل وی لکه چی خوارجو په (٣٧ هـ ٦٥٣م کال) کی دامیرالمومنین علی رضی الله عنه دحکومت په خلاف کړی ؤ، او دخپل بغاوت دمشروعیت له پاره یې دقرآن کریم

«وَ مَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ» مبارک ایت وړاندی کړی ؤ. »[١]

**حکم:** په دی صورت کی هم مسلمان حکومت ته روادی چی دهغوی په خلاف جنګ وکړی، برابره خبره ده که دمسلمانانو حکومت عادل وی او که نه وی او پر مسلمانانو باندی فرض دی چی د دغه ډول حکومت سره د یاغیانو په ځپلو کی جنګی ملاتړوکړی.

اووم ډول: اووم داسی یوه ډله چی دعادل حکومت په خلاف جنګ ته ملاوتړی او بغاوت ورڅخه وکړی چی دهغه پاچا او حاکم په مشروع طریقه دحکومت واګی په لاس کی نیولی وی، او دهغه امارت شرعاً، قانوناً او هم عرفاً رواهم وی. مګر یاغی ډله یې نسکورول غواړی.

**حکم:** په دغه صورت کی هم دیاغیانو دختمولو په خاطر حکومت ته جنګ کول روادی. برابره خبره ده که له بغاوت کوونکو سره شرعی دلیل وی او که نه وی. او پرمسلمانانو

---

١- الکامل فی التاریخ دویم ټوک ٣٩٣ مخ دبیروت چاپ ١٤٠٨هـ- ١٩٨٩م مصنف: امام ابن اثیر متوفی ٦٣٠هـ ١٢٥٣م

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی فرض دی چی د عادل او متشرع امام مرسته او ملاتړ وکړی. ځکه چی په اسلامی شریعت کی همدغی ډلی ته حقیقی یاغی ویل کیږی لکه چی امام شافعی رحمةالله علیه (متوفی ۲۰٤ هـ کال) په کتاب الام کی او امام مالک رحمةالله (متوفی ۱۷۹هـ ۸۱۲م کال) په مدونة الکبری کی ویلی دی چی:

**«الباغی فی عرف الفقها ء الخارج عن طاعة امام الحق .»**(۱)

***ترجمه:*** *دفقهاؤ په اصطلاح کی یاغی هغه چا ته ویلی کیږی چی د متشرع امام له فرمان څخه وتونکی وی.*

او بیا دواړو دافتوی ورکړی ده چی پر مؤمنانو فرض دی چی د عادل او متشرع امام او حاکم ملاتړ وکړی او د یاغیانو په ځپلو کی په جنګ کی برخه ورسره واخلی او د امنیت په قائمولو کی مددور سره وکړی.

د شیعه مذهب فقهاو د یاغی تعریف داسی کړی دی:

«باغی و اهل بغی هر کسی است که بر امام و پیشوای عادل خروج کند و مسلحانه بشورد . جهاد این فرقه با دعوت و درخواست آن امام و یا کسی که آنرا امام تعیین و منصوب کرده باشد بر مسلمانان واجب است به طور کفائی مگر آنکه توبه نمائید »(۲)

**اتم ډول:** اتم ډول هغه لویه ډله ده چی د یو ظالم حکومت په خلاف پاڅون وکړی، داسی حکومت چی په جبر او زور قائم شوی وی، امیران، والیان او چارواکی یې فاسق وی. پداسی حال کی چی پاڅون کوونکی د عدالت او حدودالله داقامت او د حقوق الله او حقوق العباد داحیا ء له پاره پاڅون کړی وی، او د دوی له ظاهری حالت څخه داسی څرګند یږی

---

۱- کتاب الام څلورم ټوک پ۱۳۵ مصنف: امام شافعی، بیروت چاپ ۲ ۱٤۰ هـ المدونة الکبری لومړی ټوک ٤۰۷ مخ.

۲- تبصرة المتعلمین ص ۸۱۰، مصنف: علامه «حسن بن یوسف بن مطهر. المختصر النافع، ص ۱۳٤ مصنف: محقق علامه حُلی «ابوالقاسم نجم الدین جعفر بن حسن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نیک او ښه وګړي دي، فسق او فجوریې نه وي کړي.
داسلامي امت فقهاؤ د دغې ډلې په هکله ویلي دي: چې مؤمنانو مصلحینو ته پکار دي چې د دوی او دحکومت ترمنځ سوله وکړي، پداسې ډول چې حکومت ته ووایې چې دپاڅون کوونکو غوښتنې ومنې ځان اصلاح کړي او اسلامي شریعت قائم کړي. که حکومت ورسره قبوله کړه ښه ترښه او که نه نوپرنورو مومناهم لازم دي چې دپاڅون کوونکې ډلې مرسته وکړي. او دفاسق حکومت په خلاف په جهاد کې ورسره ګډون وکړي.(۱)

**حکم:** د دغه ډول پاڅون کوونکو په هکله جمهورو فقهاو اواهل حدیثو دا حکم کړی دی چې دوی هم یاغیان دي او دحکومت په خلاف یې پاڅون ناروا دی. ځکه یوځل چې دیوامیر امارت قائم شوی وي، په مملکت کې یې امن راوستلی وي او د مملکت نظم او نسق د ده له انتظام لاندې چلیږي دهغه په خلاف قیام حرام دی. برابره خبره ده که هغه ظالم وي که عادل او که په هره طریقه یې حکومت نیولی وي مګر دا چې دغه حاکم دډاګیز کفر مرتکب شي.(۲)

مګر دفقهاؤ اکثریت ویلي دي چې: دغه ډول پاڅون کوونکي یاغیان نه دي او د دوی قیام حق دي او نورمؤمنان باید د دوی ملاتړ وکړي لکه چې امام ابوحنیفه رحمةالله علیه کله چې زید بن علي بن حسین رضی الله عنه په ۱۲۱ هـ ۷۴۴م کې داموي خلیفه هشام بن عدالملک بن مروان په خلاف پاڅون وکړنو امام اعظم صیب و فرمایل:
«دجهادله پاره دزید دغه پاڅون دبدرغزا ته ورته دی.»(۳)

۱- تفسیر معارف القران ۸ ټو ۱۱۲ مخ
۲- مبسوط، باب الخوارج، فتح القدیر پنځم ټوک ۳۳۷، کتاب السیر باب البغاة.
۳- ابو حنیفه حیاته وعصره ارا ءه وفقهه ص ۶۳ مصنف شیخ ابوزهره. المناقب لمومړی ټوک ۵۵ مخ مصنف ابن البزازي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاورته وویل: داسي چي ده نو ته ولی په جهاد کی ورسره برخه نه اخلي امام صیب په ځواب کی ورته وویل: زه د خلکو د هغو امانتونو له امله پاتی یم چي له ما سره یې کینبودلی دی. خومالی مرسته به هرومرو ورسره کوم.

• او بیا یې لس زره درهمه مالی مرسته ورته ولیږله او استازی فضیل بن زبیر ته یې وویل: امام زید بن علی ته زما عذر وړاندې او بیان کړه.

او ځینی تاریخ پوهانو لیکلی دی: کله چي امام ابو حنیفه رحمه الله د حضرت زید بن علی د پاڅون په هکله وویل چي:

خروجه یضاهی خروج رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم بدر.

او پوښتونکی ورته وویل: داسي چي ده نو ته ولی نه ملګری کیږی امام صیب په ځواب کی ورته وویل:

**«لو علمت ان الناس لا یخذلونه ویقومون معه قیام صدق لکنت اتبعه فاجاهد معه من خالفه.»**[1]

یعنی که زه پوهیدلای چي وګړی به دی نه شرمنده کوی اوله ده سره په صداقت سره دریږی نو ما به هرومرو د ده متابعت کړی وای او د ده د مخالفینو په مقابل کی به می جهاد کړی وای.

په هر صورت د څلور سوه ملیونه مسلمانانو متبوع امام ابو حنیفه رح که په وسله وال جهاد کی له امام زین العابدین زید بن علی.» سره ګډون نه وکړی مګر مالی مرسته یې ورسره کړی وه او نور وګړی د ده په دعوت ورسره ملګری شوی وو او بیعت یې ورسره کړی و.

دغه راز کله چي په ١٤٥هـ ٧٦٨م کی محمد نفس زکیه د عباسیانو د دویم خلیفه ابو جعفر منصور عباسی په خلاف پاڅون وکړ او په مدینه منوره کی یې د عباسیانو د حکومت په

---

١ - روض النفیر ٢٦٠ مخ امام ابو حنیفه کی سیاسی زندګی ١٤٠ مخ مناظر حسن ګیلان .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف دجهاد اعلان وکړ نو امام مالک امام دارلهجرة له محمد نفس زکیه سره د مرستی کولوفتوی جاری کړه اوخلکو ته یې حکم وکړ چی له محمد نفس زکیه سره بیعت وکړی. خلکو امام مالک رحمه الله ته وویل: زمونږ پرغاړوکی خواوس د منصور د بیعت رسۍ پر ته ده؟

امام مالک رحمه الله فتوی ورکړه چی منصور له تاسی څخه په زوربیعت اخیستلی دی او د مجبور وګړی بیعت نه صحیح کیږی. هما غه وچی د مدینی منوری خلکو د امام مالک صیب له فتوی سره سم له محمد نفس زکیه سره بیعت وکړ. په کوفه کی د محمد نفس زکیه ورور ابراهیم نفس مرضیه دوروله پاره له خلکو څخه بیعت اخیست نو امام اعظم رحمة الله علیه له مالی مرستی سره سره د محمد نفس ذکیه د پاڅون په ټینګتیا سره ملاتړ وکړ او د منصور په خلاف یې د هغه د جهاد تائید وکړ تر دی چی د غه دواړه ورونه او د هغوی په سلګونو پلویان په ١٤٥ (هـ ٧٦٨م کال) کی د عباسی خلافت دواکمن له پلوه شهیدان کړای شول. (١)

د دغه تحریک ملاتړ امام ابو حنیفه علنی کاوه لکه چی امام یافعی ویلی دی:

**«كان ابو حنيفة يجهر بالكلام ايام ابراهيم جهاراً شديداً .»** (٢)

یعنی امام ابوحنیفه د ابراهیم «نفس رضیه» ملاتړ د عباسی حکومت په خلاف په ډاګه او په ټینګه سره کاوه.

لنډه دا چی امام مالک او امام اعظم ابوحنیفه رحمةالله علیهما او د اسلامی امت اکثرو فقهاؤ او مفسرینو داسی پاڅون ته بغاوت نه دی ویلی چی د فاسد جابر حاکم او د هغه د فاسد نظام د نسکو رولو او پرځای باندی یی د سوچه اسلامی نظام دراوستلو ، د أمن او

---

١ - البدایه والنهایه لسم ټوک ٨٤ مخ ، ابو حنیفه حیاته وعصره ارائه وفقهه ٣٧ مخ ، الکامل فی التاریخ ج ٥ص ١٩٧ ، تاریخ بغداد ١٣ ټوک ٣٤٦ مخ ، تاریخ ابن عساکر ج ٢ ص ٢٥٥ .

٢ - روض النفیر لومړی ټوک ٣٠٠ مخ د امام یافعی تصنیف ، امام ابو حنیفه کی سیاسی زندگی ص ٣٠٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدود الله د پلي کولو په تکل پاڅون کړی وي. بلکې دا حق پاڅون او جهاد دی او پر مؤمنانو يې ملاتړ فرض دی.
بغاوت هغه ته ويل کيږي چې د اسلامي حکومت د يو عادل، متقي او متشرع حاکم په خلاف د مفسدينو او فاسقانو له پلوه د عادل، پاچا او اسلامي نظام د نسکورولو له پاره وي.
پر مسلمانانو باندې فرض دي چې د دغه ډول نامشروع او اسلام د ښمنه بغاوت د ختمولو له پاره د حکومت ملاتړ او ملگرتيا وکړي.

## احکام او مسائل

مفسرينو او فقهاؤ د دغو مبارکو اياتونو په تفسير کې د باغيانو په باره کې يو شمير فقهي او شرعي مسائل بيان کړي دي چې لنډيزيې په لاندې ډول وړاندې کولی شي:
الف: د باغيانو د ځپلو له پاره له عادل حکومت سره په جهاد کې گډون کول فرض کفائي دی. که يو شمير خلکو گډون پکې وکړ له ټول أمت څخه بس والي کوي. (١)
ب: باغيان مسلمانان دي په بغاوت سره نه کافريږي.
ج: لومړی به دعوت ورکولی شي چې له بغاوت څخه لاس واخلي نو که يې ومنله ښه و ترښه او که يې ونه منله جنگ به ورسره کولی شي خو په جنگ کې به حکومت د غه لاندې شرعي احکام او مسائل په نظر کې نيسي:
**لومړی:** حکومت به د جنگ پيل نه کوي. يعنې ترڅو چې باغيانو جنگ پيل کړی نه وي حکومت به يې ابتداء نه کوي.

---

١ - فتاوی فتح القدير پنځم ټوک ٣٣٤ د بيروت چاپ مصنف امام ابن همام حنفي متوفی ٨٦١هـ ١٤٨٤م
تفسير مدارک پنځم ټوک ٦٩ مخ د لاهور چاپ مصنف امام نسفي عبدالله بن احمد حنفي متوفی ٧٠١هـ ١٣٢٤م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم:** له جنګ څخه به د حکومت مقصد د یاغیانو له بغاوت څخه پښیمانه کول او ایل کول وی نه د هغوی وژل ځکه چې مؤمنان دي.

**دریم:** جنګي بندیان به یې نه وژني.

**څلورم:** مالونه او شته یې غنیمت کولی نه شي او نه به یې ولجه کوي.

**پنځم:** اولادونه یې مریونه او مینځې کولی نه شي.

**شپږم:** د یاغیانو د ایل کولو له پاره له هغوی سره په جنګ کې له کافرانو او مشرکانو څخه د مرستې او کومک غوښتنه به نه کوي.

**اووم:** د هغوی د شتو او مالونو په غوښتلو سره به له هغوی سره اوربند او سوله نه کوي.

**اتم:** د یاغیانو کورونه به نه سوځوي. یعنې اور به ورته نه اچوي.

**نهم:** ونې به یې نه قطع کوي او نه به یې له بیخ څخه وهي.

**لسم:** که په جنګ کې یاغیان قتل کړای شي نو په دار ځوړند کول یې حرام دي. د تشهیر په خاطر. د غه راز مثله کول یې او د سرونو ځوړند کول یې هم حرام دي.

**یوولسم:** د یاغیانو د تسلیمولو په خاطر پر هغوی باندې د اوبو او ارتزاقي مواد و بندول روادي پر دې شرط چې ښځې او کوچنیان یې ورسره نه وي.

**دوولسم:** له جنګ څخه تښتېدونکي یاغیان او ماتې خوړلې به تعقیبولی نه شي.

**دیارلسم:** د یاغیانو ښځې. خوېندې میندې اولوڼه به نه قتل کولی شي نه به وهلی شي نه به بندي کولی شي که څه هم مجاهدینو او د مسلمانانو امیر ته شکنځل هم وکړي پیغورونه ورکړي او ستغې سپورې هم ورته ووایي.

**څوارلسم:** که د یاغیانو مالونه یې نیولي وي نو د جنګ له ختمیدو او تسلیمیدو څخه وروسته به یې بیرته ورکوي.

**پنځلسم:** که د جنګ په دوران کې د یاغیانو مال ته د حکومت ضرورت شي نو مصرف کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ورته روا دي او تاوان هم نه لري مګر بې ضرورته روانه دي.

**شپاړسم:** کله چې یاغیان تسلیم شي نو که په جنګ کې یې د حکومت وګړي وژلي وي یا یې د حکومت مال تلف کړي وي نو نه پرې قصاص کولی شي نه تاوان ورڅخه اخیستلی شي او نه کومه بله سزا ورکولی شي.[١]

علامه الوسي حنفي (متوفی ١٢٧٠هـ کال) په خپل تفسیر ورح المعاني کې او امام قرطبي په خپل تفسیر کې له حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایلي یې دي: **«يَا ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ هَلْ تَدْرِي كَيْفَ حُكْمُ اللهِ فِيمَنْ بَغِيَ مِنْ هذهِ الْأُمَّة؟» قَالَ: اَللهُ وَ رَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: لَا يُجْهَزُ عَلَى جَرِيْحِهَا وَ لَا يُقْتَلُ أَسِيْرُهَا وَ لَا يُطْلَبُ هَارِبُهَا وَ لَا يُقْسَمُ فَيْؤُهَا».**[٢]

**ترجمه:** *ای د أم عبد د مور زویه: ایا ته پوهیږې د هغه چا په باره کې چې د مؤمنانو له دغه امت څخه وي او بغاوت وکړي حکم څه دی؟ هغه وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي. ویې فرمایل: په یاغي کې د الله حکم دا دی چې ټپي به یې نه تعذیبوي، بندي به یې نه شي وژلی، تښتیدونکي یې تعقیبولی نه شي او مال یې تقسیمولی نه شي.*

**اوولسم:** کوم یاغیان چې په جنګ کې ونیول شي تر هغه پورې به یې اسلامي حکومت بندي کوي چې توبه او باسي او له بغاوت څخه د پښېمانتیا او توبې په صورت کې به خوشې کولی شي او اسلامي عادل حکومت به دا ژمنه ورڅخه واخلي چې بیا به د اسلامي حکومت په خلاف بغاوت نه کوي.

د شیعه مذهب فقهاو، ویلي دي:

یاغیان پر دوه ډوله دي: یو هغه چې «ذي فئه» وي، یعنې منظم او تنظیم ولري او د

١ - فتاوی فتح القدیر پنځم ټوک ٣٣٧ مخ، کتاب السیر باب البغاة، ألفقه علی المذاهب الأربعة پنځم ټوک ٤١٧- ٤١٨ مخونه کتاب الحدود، د بیروت چاپ.

٢ - تفسیر روح المعاني ج ٢٥ ص ١٥١ تفسیر قرطبي ج ٨ ص ٢١١

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګیالیو په منظمه توګه روزنه کوي، د دغې ډلې په باره کې حکم دا دی چې حکومت ورسره و جنګیږي، او که ټپي یې ونیول شي وژلی شي، او تیښته کوونکي یې تعقیبولی شي ترڅو په بشپړه توګه تیت او پرک شي او د فساد ځاله ختمه او له منځه یوړلی شي.

دویم ډول «غیر ذي فئه» یاغیان دي. او دا هغه دي چې تنظیم او سازمان او ګوندي تشکیلات ونه لري؛ بلکې یوازې هماغه کسان وي چې په معرکه کې موجود وي.

د یاغیانو د دې ډلې په باره کې حکم دا دی چې مجروح یې اعدام کولی نه شي، او تښتیدلی یې تعقیب کولی نه شي. (۱)

پاتې شوه د یاغیانو د اموالو مسئله: د هغو په هکله فقهاو ویلي دي چې اموال یې لوټ کولی نه شي، ښځې او اولادونه یې د بندیانو په توګه نیولی نه شي. مګر د یاغیانو هغه اموال چې د جنګ په ډګر کې ونیولی شي د غنیمت په توګه ورڅخه اخیستلی شي. (۱)

**اتلسم:** که یاغیانو د بغاوت په مهال کې پر کومه سیمه قبضه کړې وي او د سیمې له خلکو څخه یې زکات او نور محصولات اخیستلي وي او بیا په همدغه کال کې اسلامي حکومت د غه سیمه ورڅخه ونیسي او یاغیان ختم کړي نو اسلامي حکومت ته روانه ده چې په دویم ځل له خلکو څخه زکات او نور محصولات وغواړي، برابره خبره ده که یاغیانو هغه په مشروع لارو کې مصرف کړي وي او که په نامشروعو لارو کې یې لګولي وي.

مګر که د سیمې اغنیاء یې په خپله رضامندي ورکوي نو بیا روا ده.

**نولسم:** که یاغیانو په نیولې شوې سیمه کې شرعي محکمې جوړې کړې وي او د سیمې د خلکو ترمنځ یې پریکړې او فیصلې کړې وي او بیا اسلامي حکومت دوی ختم کړي او سیمه ورڅخه ونیسي نو که چیرې د هغوی کړې فیصلې له شریعت سره سمې وي. اسلامي

۱- فقه سیاسی اسلام، ص ۲۳۰-۲۳۱، مصنف: ابوالفضل شکوري - جامع عباسی ص ۱۵۵، مصنف شیخ بهاء الدین عاملي - تبصرة المتعلمین ص ۸۰ په لنډیز سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی حکومت به یې نه بدلوی او پر خپل حال به یې پریږدی. او که غیر اسلامی وی او اسلامی حکومت ته د قبول وړنه وی نو اسلامی حکومت حق لری چی د هغوی فیصلې منسوخې کړی.

**ټویشتم:** په اسلامی محاکمو کی د یاغیانو شهادت قبلولی نه شی ځکه چی هغوی د عادلانه شرعی نظام او حکومت په خلاف قیام او جنګ کړی دی، چی په اسلامی شریعت کی فسق دی او د فاسق شهادت په شریعت کی نامنظور دی. امام محمد رحمة الله علیه ویلی دی: که یې د اسلامی عادلانه نظام په خلاف جنګ نه وی کړی نو بیا یې شهادت قبلولی شی او که جنګیدلی وی نو بیا نه شی قبلولی.[1]

# دوهم ټوک

# دصلحی احکام

تفسیر پوهانو د سولی مسائل او احکام د دغو مبارکو ایاتو نو په تفسیر کی په زیات تفصیل سره بیان کړی دی چی زه یې دلته نچوړ یعنی خلاصه په لاندې ډول بیانوم:

الف: امام فخر الدین رازی محمد بن عمر بن حسین رازی (متوفی ٦٠٦ هـ ١٢٢٩ م کال) په تفسیر مفاتیح الغیب کی چی په تفسیر کبیر سره مشهور دی ویلی دی:

د صلحی شرعی حکم عام دی که د دوه ډلو ترمنځ وی، که د دوه ملتونو ترمنځ وی او که د دوه کسانو تر منځ وی ځکه خو الله تعالی فاصلحوا بینهما فرمایلی دی او بینهم یې نه دی ویلی. دغه راز فاصلحوا بین اخویکم یې ویلی دی. یعنی د تاسی د ورونو تر منځ بین اخوة یې نه دی ویلی. مطلب دا دی چی که شخړه د ډیرو کسانو ترمنځ وی او که د دوه

١ - تفسیر جصاص دریم ټوک ٤٠٣-٤٠٤ دلاهور چاپ مصنف: امام ابوبکر جصاص حنفی متوفی ٣٧٠ هـ
فتاوی فتح القدیر پنځم ټوک ٣٣٧-٣٣٨ باب البغاة کتاب السیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو ترمنځ وی سوله يې په منځ کی وکړئ.
دغه راز ورونه عام دي که سکني ورونه وی، يعنی له يو مور او پلار څخه وی او که دينی ورونه وی په منځ کی يې سوله وکړئ.
دغه راز د جنګ کليمه هم عامه ده که وهل ټکول يې سره کړی وی، که يو بل ته په مورچل کی سره ناست وی او که سوک څپيړه يې سره کړی وی يا يې ناندری سره وهلی وی او يو بل ته يې ستغی سپوری سره کړی وی او بيا سره مرور او يو له بل څخه خفه او مانيجن وی نو تاسی يې په منځ کی سوله وکړئ. (۱)
ب: که سوله کوونکی دځواک او قدرت خاوندان وی او د جنګ کوونکو پر دواړو خواؤ خپله سوله او دسولی خپل تجويز قبلولی شی نو بيا صلحه کول پری واجب دی ځکه چی الله تعالی امر کړی دی چی «فاصلحوا بينهما» يعنی د دواړو جنګ کوونکو ډلو تر منځ سوله وکړئ. نو امر د وجوب له پاره دی.
ج: که دخپلی سولی تنفيذ قدرت نه لری دهغوی په باره کی أمر د ندب له پاره دی، هغوی ته مستحب دی چی د جنګ کوونکو دوډلو مومنانو ترمنځ صلح وکړی. ځکه چی دخير او ثواب کار دی او کيدای شی چی د دوی د منځګړيتوب په توسه دهغوی ترمنځ اوربند او سوله وشی. (۲)
د: که چيری د دواړو جنګ کوونکو مؤمنانو ډلو جنګ دمادياتو او سياسی اقتدار په خاطر وی او د يوې ډلی جنګ هم دحق په خاطر او داسلامی نظام په خاطر نه وی نو مؤمنانو ته پکار دی چی دواړو ته نصيحت وکړی او د يوی ډلی پلوی هم ونه کړی د داړو و ترمنځ دسولی او روغی جوړی هڅی وکړي. او دغه ډول سوله هم تفسير پوهانو واجب نه بلکی

۱- تفسير کبير ۲۷ ټوک دحجرا سورت ۱۲۹ مخ دبيروت چاپ تاريخ ۱٤۱۷ هـ ۱۹۹۷م.
۲- تفسير احکام القران دريم ټوک ٤۰۱ مخ دابوبکر جصاص تصنيف.
۳- تفسير احکام القران دريم ټوک ٤۰۱ للجصاص حنفی، تفسير جلالين ٤۲۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحب ګڼلی ده. (۳)

هـ: مصلحین یعنی سوله کوونکی باید متقیان وي او دصلحی کولو په دوران کی په سوچه او سپیڅلی نیت سره دسولی داعیه پیل کړی ځکه چی الله تعالی سوله کوونکو ته په خطاب کی فرمایلی دی:

«وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» اوله الله تعالی څخه دسولې کولو په پروسه کی وویریږئ ای مصلحینو څو الله تعالی پر تاسی باندی رحم وکړی او سوله مومثبته نتیجه ورکړی، دالله تعالی په نزد داجر او ثواب مستحق وګرځیږی.

سوله کوونکو ته پکار دی چی په دوی کی د دی صلاحیت، ظرفیت او استعداد وی چی ددوه کسانو تر منځ روغه جوړه وکولی شی. دجنګ او رمړ کولی شی نو دوی ته لازم دی چی مسلمانانو ته خیر ورسوی او سوله یې وکړی.

دویم دا چی مصلحین په خپله سوله کی کوم شخصی مادی غرض ونه لری، سوله یې له ځان ښودنی څخه پاکه وی.

د: دسوله کوونکو داشرعی مسئولیت دی چی له اوربند څخه وروسته هغه أسباب او عوامل معلوم کړی چی د دواړو ډلو ترمنځ دجنګ باعث ګرځیدلی دی او د دوی ترمنځ یې ور وری په دښمنی سره بدله کړی ده.

ز: کله چی سوله کوونکی د دواړو ډلو ترمنځ سوله کوی نو د دائمی سولې له پاره به هلی ځلی کوی او د دواړو ترمنځ به په عدل او انصاف سره پریکړه او فیصله کوی، دخپلوی، دوستی، لسانی، قومی، سیمه ئیز تعصب، ناروا ننګ او جاهلی غیرت په وجه به حق ته شانه ګرځوي. (۱)

---

۱- تفسیر صفوة التفاسیر دریم ټوک ۲۳٤ مخ دبیروت چاپ ۱٤۰۲ هـ - ۱۹۸۱م ای فان رجعت وکفت عن القتال فاصلحو ابینهما بالعدل، دون حیف علی احدی الفئتین

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه داسي چې د سولې کولو په مهال کې د ظالم پلوي وکړي او د مظلوم حقوق تر پښو لاندې کړي ځکه چې پداسي کولو سره سوله کوونکي له ايمان څخه وځي لکه چې رسول الله عليه وسلم فرمايلي دي:

عن اوس بن شر حبيل انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: **«مَنْ مَشَى مَعَ ظَالِمٍ لِيُقَوِّيَهُ وَ هُوَ يَعْلَمُ اَنَّهُ ظَالِمٌ فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْاِسْلَامِ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَان.»**.[۱]

**ترجمه:** *له اوس بن شرحبيل رضى الله عنه څخه روايت دى چې ده له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويې فرمايل: چاچې له ظالم سره د دې له پاره ملګرتيا وکړه چې د مظلوم په مقابل کې يې پياوړئ کړي او ده ته ښه معلومه وي چې دى ظالم دى خو سره له دې هم دى ملګرتيا ورسره کوي، پلوي او مرسته يي کوي. نو په تحقيق داسي شخص له اسلام څخه ووت.*

يعنې بشپړ مسلمان نه دي. دا حديث امام بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړى دى.

مطلب دا چې مصلحينو ته پکار دي چې په سوله کې اسلامي عدل او انصاف په نظر کې ونيسي اوپه سوله کې له ظلم او تيرى څخه ځان وساتي او همدغه د الله تعالى حکم دى او سوله کوونکو ته يي فرمايلي دي:

**«فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَ اَقْسِطُوا، اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ».**

(دحجرات سورت ۹- آيت ۲٦ سپاره ٤۹ سورت)

يعنې کله چې دوه جنګ کوونکي ډلې خپل منځي جنګ بند کړي اوسولې ته غاړه کيږدي نواى سوله کوونکيو تاسي د هغوى دواړو تر منځ په عدل او انصاف سره سوله وکړئ: بيشکه چې الله تعالى له عدل اوانصاف کوونکو سره مينه کوي.

ځکه چې دوى د الله تعالى د عدل او انصاف کولو پر حکم باندې عمل کوي، له روغي جوړې سره مينه لري او د سولې په شان په اجتماعي نيک عمل کې هڅې کوي او په انصاف

---

۱- مشکوة دويم ټوک ٤۳٦ مخ د کراچي چاپ دچاپ تاريخ ۱۳۹۹ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرد يې سرته رسوی.

# دسولې د ينی ارزښت

داسلام په مقدس دين کی سوله خورا زيات او عظيم ارزښت لری ان تردی چی ددوه کسانو يا ډلو يا دوه ملتونو ترمنځ په سوله او روغه جوړه کی که اړتيا ورته پيدا شی نو اسلام ددی خبری اجازت ورکړی دی چی سوله کوونکی دروغی جوړی په دوران کی درواغ ووائی، سره له دې چی درواغ ويل شرعاً حرام او کبيره گناه ده مگر ددی له پاره چی دخلکو ترمنځ دذات البينی اختلافی فساد او وينو تويولو مخه ونيول شی درواغ ويل روا دی او شريعت دی ته درواغ نه دی ويلی لکه چی امام بخاری رحمة الله عليه په صحيح بخاری کی حديث روايت کړی دی چی په هغه کی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی:

۱- **«لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِي خَيْراً أَوْ يَقُولُ خَيْراً»**[۱]

***ترجمه:*** *هغه څوک درواغجن نه دی چی دخلکو ترمنځ سوله کوی، په خپلو درواغو سره خلکو ته خير او گټه رسوی او يا دخير او ښيگړی خبره کوی.*

دغه راز امام ابو داود رحمة الله عليه (متوفی ۲۷۵هـ ۸۹۸م کال) په سنن ابوداود کی داسی روايت کړی دی:

**عَنْ حُمَيْدِ ابْنِ عَبْدِالرَّحْمنِ عَنْ أُمِّهِ أُمِّ كُلْثُومْ بِنْتِ عُقْبَةَ قَالَتْ: «مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَخِّصُ فِيْ شَيْءٍ مِنَ الْكَذِبِ اِلَّا فِيْ ثَلَاثٍ كَانَ رَسُولَ اللّهِ يَقُولُ: لَا أُعُدُّهُ كَاذِبًا الرَّجُلَ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ يَقُولُ الْقَوْلَ وَ لَا يُرِيْدُ بِهِ اِلَّا الْاَصْلَاحَ وَالرَّجُلَ يَقُولُ**

---

۱- صحيح بخاری څلورم ټوک حديث ۲۴۰۳ باب ليس الكاذب الذي يصلح بين الناس. كتاب الصلح

۲ سنن ابی درود، دويم ټوک ۳۲۶ مخ كتاب الأدب باب إصلاح ذات البين- حديث ۴۹۱۳ دملتان چاپ دچاپ تاريخ سنه ۱۳۱۶هـ ۱۹۲۹م

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِي الْحَرْبِ وَالرَّجُلَ يُحَدِّثُ امْرَأَتَهُ وَالْمَرْأَةُتُحَدِّثُ زَوْجَهَا. » (٢)

**ترجمه:** له حميد بن عبدالرحمن بن عوف او هغه له خپل مور ام کلثوم بنت عقبة بن ابی معیط څخه روایت کړی دی چی هغې رضی الله عنها ویلي دی: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نه دی اوریدلی چی په هیڅ یو شی کی یې د درواغو ویلو اجازت ورکړی وی پرته له دری امورو څخه او رسول الله صلی الله علیه وسلم وچی فرمایل به یې: دری ډوله وګړی که درواغ هم ووایې زه یې درواغجن نه ګنم:

الف: یو هغه سړئ چی دخلکو په منځ کی سوله کوی. دی درواغ خبره کوی او په هغی سره یې مقصد اصلاح او روغه جوړه وی.

ب: دویم هغه سړی چی په جنګ کی درواغ وایې او د دښمن په وړاندی لاپی وهی، یا مجاهدینو ته د مدد رارسیدو یا د ثبات له پاره نوری خبری کوی او په درواغو ژمنی ورسره کوی.

ج: دریم هغه سړئ چی خپلی میرمن ته درواغ وایې چی دی زیاته مینه ورسره لری. داددی له پاره چی ازدواجی نظام یې له تباهی څخه وژغورل شی، او که نه په حقیقت کی داسی نه وی لکه څرنګه چی په خوله ورته وایې، یا میرمن میړه ته دغه ډول خبری په درواغو کوی.

**تشریح:** ډیرو حدیث پوهانو ددغه حدیث په تشریح کی زیات طولانی بحثونه کړی دی چی دهغوی ټولو ذکر کول دلته ممکن نه دی صرف د موضوع د اهمیت د ثبوت په خاطر ددوو امامانو تشریح په زیات لنډیز سره ذکر کوم څو درنو لوستونکو ته مسئله څه ناڅه روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي:

امام خطابی: امام خطابی أبو سلیمان احمد بن محمد خطابی رحمة الله علیه (متوفی ۳۸۸هـ ۹۱۱م کال) دسولې د يو بل حديث په شرح کې ويلي دي:

**«وفي الحديث حث وترغيب في اصلاح ذات البين واجتناب عن الفساد فيها ، لان الاصلاح سبب للاعتصام بحبل الله وعدم تفرق بين المسلمين ، وفساد ذات البين ثلمة في الدين ، فمن تعاطى اصلاحها ورفع فسادها نال درجة فوق مايناله الصائم القائم المشتغل بخويصة نفسه.»**(1)

**ترجمه:** *په دغه حديث کې دخلکو ترمنځ سولې کولو ته هڅونه او ترغيب دی او دخلکو ترمنځ له اختلاف اچولو څخه منعه کول دي. دا ځکه چې سوله کول دالله تعالی په رسۍ يعني قرآن کريم منګولې لګول دي او د مسلمانانو ترمنځ د تفرقې له منځه وړل دي، پداسې حال کې چې تفرقه او دخلکو ترمنځ اختلاف اچول په دين کې سوروی پيدا کول دي. نو هغه چاچې دخلکو ترمنځ سوله وکړه او دهغوی خپل منځی اختلاف يې ختم کړ نو د ثواب او فضيلت هغه مقام ته ورسيده چې دنفلي روژی نيونکي او دشپې د نفلي عبادت کوونکي له مرتبو څخه اوچته ده . ځکه چې هغوی دواړه صرف دځان له پاره لګيا دي پداسې حال کې چې سوله کوونکي دنورو له پاره خيرغوښتونکي دي.*

امام غزالي: داسلامي امت نامتو فيلسوف مجتهد او روحاني شخصيت امام غزالي ابوحامد محمد بن محمد غزالي متوفي سنه ٥٠٥هـ ١١٢٨م په خپل کتاب احياء العلوم کې په صلحه کې دد رواغ ويلو په باره کې طولاني بحث کړی او هغه ځايونه يې بيان کړي دي چې درواغ ويل پکې روا دي او اسلامي شريعت اجازه پکې کړې ده أن تر دې چې امام غزالي رحمه الله په ځينې مقاماتو کې له رښتيا ويلو څخه درواغ ويل غوره ګڼلي دي چې

---

١- عون المعبود شرح ابی داود ١٣ ديارلسم توک ٢١٤ مخ باب في اصلاح ذات البين، کتاب الادب. دارالفکر بيروت دچاپ تاريخ ١٤١٥هـ - ١٩٩٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادی دنوموړی امام دکلام خلاصه دهغه په عبارت کی وړاندی کوم:

**الکلام وسیلة الی المقاصد فکل مقصود محمود یمکن التوصل الیه بالصدق والکذب جمیعا فالکذب فیه حرام، وان امکن التوصل الیه بالکذب دون الصدق فالکذب فیه مباح ان کان تحصیل ذالک القصد مباحاً، وواجب ان کان المقصود واجباً، کما ان عصمة دم المسلم واجبة. فمهما کان فی الصدق سفک دم امرئ مسلم قد اختفی من ظالم فالکذب فیه واجب مهما کان لا یتم مقصود الحرب او اصلاح ذات البین ان استمالة قلب المجنی علیه الا بالکذب فالکذب مباح، الا انه ینبغی ان یحترز منه ما أمکن، لانه اذا فتح باب الکذب علی نفسه فیخشی ان یتداعی الی ما یستغنی عنه والی ما لا یقتصر علی حد الضرورة، فیکون الکذب حراما فی الاصل الا لضرورة.** (١)

***ترجمه:*** *خبری کول اهداف ته د رسید لو وسیله ده، نو هر هغه نیک هدف چی هغه ته رسیدل په رښتیا ویلو او دروا غ ویلو دواړو سره ممکن وی د رواغ ویل پکی حرام دی، او که چیری کوم داسی نیک مقصد وی چی دهغه تر لاسه کول په رښتیا ویلو سره ممکن نه وی؛ بلکی صرف په دروا غ ویلو سره تر لاسه کیږی نو که چیرې دغه مقصد مباح وی د رواغ ویل پکی مباح دی، او که چیری مقصد تر لاسه کول واجب وی نو د رواغ ویل پکی واجب دی.*

*دمثال په ډول له قتل او ناروا خون څخه د مسلمان ژغورل فرض دی نو دهغه د ژغورلو له پاره د رواغ ویل هم فرض دی. نو که چیری یو مظلوم شخص ستا په کور کی له ظالم قاتل څخه پټ شی یا په بل داسی ځای کی پټ وی چی تا ته معلوم وی او ظالم قاتل له تا څخه د بی گناه پټ شوی مظلوم پوښتنه وکړی چی تا لیدلی دی؟ نو که ته په دغه صورت کی رښتیا ووایې، ستا په رښتیا ویلو سره هغه بی گناه مظلوم وژل کیږی له همدې امله پر تا باندی د مظلوم د ژغورنی له پاره د رواغ ویل واجب دی. او ظالم قاتل ته ووایه: مانه دی لیدلی یا زما کور ته نه دی راغلی.*

دغه راز که چیری د جهاد مقصود له دروا غ ویلو پرته نه تر لاسه کیږی یا د ذات البینی سوله نیکمرغه پروسه له دروا غ ویلو پرته تحقق نه شی میندلی. پداسی حال کی چی ته پوهیږی چی له دروا غ ویلو پرته د طرفین یا د یو پلوزړه سولی ته نه مایل کیږی نو پداسی صورت کی

---

١ - احیاء علوم الدین دریم ټوک ١٢٧ مخ بیان مارخص فیه من الکذب، دبیروت د دارالمعرفة چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغ ویل مباح دی.

په هر صورت له دی امله چی درواغ ویل په اسلامی شریعت که حرام دی نو تر څوپوری چی ممکنه وی باید احتراز او ډډه ورڅخه وکړای شی، ځکه چی یوځل پر ځان باندی د درواغ ویلو دروازه پرانستلی شی نو بیا د دی ویره پیدا کیږی چی له ضرورته پرته به هم درواغ وایې او عادت به یې وګرځیږی.

له پورتنی بیان څخه دا ثابته شوه چی دامام غزالی رحمه الله په نزد دمقاصد و په اعتبار درواغ ویل شرعا په دری ډوله دی: ۱ - حرام ۲ - واجب ۳ - مباح او بیا امام غزالی رحمه الله هغه نبوی احادیث هم ذکر کړی دی چی په هغو کی استثنائی صورتونه بیان شوی دی چی دهغو له جملی څخه دبخاری او ابو داود ذکر شوی حدیثونه دی او نور یې په لاندی ډول دی:

**۳-** وقالت اسماء بنت یزید: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :

**«كُلُّ الْكَذِبِ يُكْتَسَبُ عَلَى ابْنِ آدَمَ أَلَّا رَجُلٌ كَذَبَ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ لِلصُّلْحِ بَيْنَهُمَا.»**

***ترجمه:*** *حضرت اسماء بنت یزید چی جلیل القدره صحابیه ده رضی الله عنها ویلی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: دبنیادم دهری درواغ خبری ویلو ګناه پر هغه باندی ده، پرته له هغه سړی څخه چی دمسلمانانو په منځ کی په صلحه کولو کی درواغ وایې.*

داحدیث امام احمد په خپل مسند کی او امام ترمذی په خپل سنن کی روایت کړی دی، او امام ترمذی ویلی دی: داحدیث حسن صحیح دی.

**۴- و رُوِيَ عَنْ أَبِي كَاهِلٍ قَالَ: وَقَعَ بَيْنَ اثْنَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَامٌ حَتَّى تَصَارَمَا فَلَقِيْتُ أَحَدَهُمَا فَقُلْتُ مَالَكَ وَلِفُلَانٍ فَقَدْ سَمِعْتُهُ يُحْسِنُ عَلَيْكَ الثَّنَاءَ؟ ثُمَّ لَقِيْتُ الْآخَرَ فَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ ذَالِكَ حَتَّى أَصْلَحَا ثُمَّ قُلْتُ: أَهْلَكْتُ نَفْسِي وَ أَصْلَحْتُ بَيْنَ هٰذَيْنِ: فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا أَبَا كَاهِلٍ: أَصْلِحْ بَيْنَ النَّاسِ أَيْ وَلَوْ بِالْكَذِبِ.** [1]

***ترجمه:*** *له ابوکاهل أحمسی قیس بن عائذ کوفی رضی الله عنه څخه روایت کړای شوی دی چی*

۱ - احیاء علوم الدین ج ۳ ص ۱۳۷ رواه الطبرانی ۲ - الاستیعاب ج ٤ ص ۳۰۱ حافظ ابن عبدالبر ٤٦۳ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلي یې دي: یوځل د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دوه صحابه کرامو ترمنځ اختلاف پیدا شو او دواړو یو بل ته ستغې سپورې وکړې تردې چې دواړو جنګ سره وکړ. ما اراده وکړه چې د هغو دواړو ترمنځ سوله وکړم نو زه د هغوی دواړو څخه یو ته لاړم او په درواغو مې ورته وویل: ته ولي فلانی ته په غصه او ورڅخه مروريې، ما خوله هغه څخه واوريدل چې ستا صفت يې کاوه او ته يې په نيکی سره يادولی؟ بيا له هغه څخه هماغه بل ته لاړم او هغه ته مې په درواغو د ده له پلوه داسی وويل تر دی چې دواړو سوله سره وکړه. بيا ما له خپل ځان سره وويل: ما خو د دوی دواړو ترمنځ سوله وکړه خو خپل ځان مې په درواغو ويلو سره هلاک کړ، بيا ما نبي صلی الله عليه وسلم له خپل دغه کار څخه خبر کړ، راته ويې فرمايل: أی ابوکاهله! د خلکو ترمنځ سوله کوه. يعنی که څه هم په سوله کی درواغ هم ووايې بيا هم ثواب دی. دا حديث طبرانی روايت کړی دی.

**٥- وَ عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الكلابیُّ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَالِیْ أَرَاكُمْ تَتَهَافَتُونَ فِی الْكَذِبِ تَهَافُتَ الفَرَاشِ فِی النَّارِ، كُلُّ الْكَذِبِ يُكْتَبُ عَلَى ابْنِ آدَمَ اِلَّا أَنْ يَكْذِبَ الرَّجُلُ فِی الْحَرْبِ فَاِنَّ الْحَرْبَ خَدْعَةٌ أَوْ يَكُونَ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ شَحْنَاءُ أَوْ يُحَدِّثُ امْرَأَتَهُ يُرْضِيهَا. رواه الطبرانی.** (١)

**ترجمه:** او له نوّاس بن سمعان کلّابی څخه روايت دی چې ويلی يې دي: رسول الله صلی الله عليه وسلم مسلمانانو ته په خطاب کی وفرمايل: څه دی ماله چې زه تاسی وينم چې په درواغو ويلو کی داسی لوغړيږئ لکه پتنګ چې په اور کی لوغړيږي؟ د بنيادم هره درواغ خبره کول پر هغه باندی ليکلی شی، مګر هغه درواغ چې مجاهد يې د غازيانو د مورال اوچتولو او د ښمن د وارخطا کولو له پاره په جنګ کی وايې، د غه درواغ ويل روا دی ځکه چې جنګ چلول او تدبير دی. يا دا چې يو سړئ د دوه داسی کسانو ترمنځ سوله کوی چې د هغوی دواړو ترمنځ دښمنی وی، او سوله کوونکی د هغوی دروغی جوړی په خاطر درواغ ووايې نو په عمل نامه کی يې نه ليکل کيږی. او دريم هغه څوک چې ښځه يې ورڅخه ناراضه او خفه وی او د هغې د پخلا کولو او رضامندی په خاطر هغې ته درواغ ووايې ورته رواده. دا حديث امام طبرانی (متوفی ٣٦٠هـ ٩٨٣م کال) په خپل معجم کی روايت کړی دی.

---

١- احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٣٨ بيان ما رخص فيه من الكذب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دامام شوکانی نظر:

امام شوکانی رحمه الله (متوفی ۱۲۵۰هـ ۱۸۷۳م کال) په خپل کتاب نیل الاوطار کی له طولانی بحث او تحقیق څخه وروسته ویلی دی:

**«واتفقوا علی جواز الکذب عند الاضطرار کما لو قصد ظالم قتل رجل وهو مختف عنده فله ان ینفی کونه عنده ویحلف علی ذلک ولا یاثم.»** (۱)

**ترجمه:** *داسلامی امت فقهاؤ پردې باندی اتفاق کړی دی چی دسخت مجبوریت په مهال کی درواغ ویل روا دی لکه چی یو ظالم دیو بی گناه سړی په ناحقه سره دوژلو اراده وکړی او هغه بیچاره له تا سره ځان پټ کړی او ظالم قاتل له تا څخه دهغه پوښتنه وکړی نو تا ته پکار دی چی هغه ته انکار وکړی او ورته ووایه چی له تا سره نشته او که پردی باندی قسم هم ورته وکړی نو پری نه گنهگاریږی.*

## د ازهر پوهنتون د شیخ منصور علی ناصف فتوی:

دمصر د ازهر د پوهنتون معاصر سکالر او محدث شیخ منصور علی ناصف په خپل کتاب غایة المأمول شرح تاج الاصول کی پدی باره کی ویلی دی: **«وانما جاز الکذب و هو حرام فی هذه الامور لأهمیتها، فان الجیش حصن الامة فاذا انکسر ذهبت وضاعت، والخصام و الشقاق رأس کل مصیبة وبلاء والوفاق اصل کل خیر وفلاح، و لا اسرة الزوجیة هی الافراد التی تتکون منها الأمة فاذا نشأ الا ولاد بین ابوین لا نزاع بینهما بل یتبادلان الاجلال والمودة فانها تنشاء غالبا ذریتطیبة و نباتاً حسنا یکون دعامة قویة فی أمة تعیش فی هناء وسعادة.»** (۲)

---

۱- نیل الاوطار اووم ټوک ۲۹۲ باب الکذب فی الحرب دمصطفی بابی دمصر چاپ

۲- غایة المأمول پنځم ټوک ٤٤ مخ دبیروت چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه:** *په تحقیق سره درواغ ویل په دغو دري امورو کې رواشوي دي سره له دې چې درواغ ویل شرعاً حرام دي. علت یې دادی چې دري واړه امور د أمت په بقاء او سالمیت کې بنستیز نخچ لري. ځکه چې فوځ د اسلامي امت د سالمیت ټینګه کلا ده که چیرې دغه کلا ماته شي نو اسلامي امت به دړې وړې او د دښمن په لاس به تالا ترغه شي.*

نو که چیرې د دغې کلا د ژغورنې له پاره درواغو ویلو ته اړتیا پیداشي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اجازه ورکړې ده.

په سوله کې درواغ ویل ځکه روا دي چې خپل منځي جنګونه، شخړې او اختلافات د ټولو مصیبتونو، بدمرغیو او برباد یو بنسټ او پیلامه ده، پداسې حال کې چې اتفاق، ورورولي، خپل منځي روغه جوړه او صمیمیت د ټولو ښیګڼو او هر ډول نیکمرغیو اساس دي. نو که چیرې د جنګونو اختلافاتو او شخړو د ختمولو له پاره او د امنیت او ورورولي داعادې له پاره په سوله کې درواغ ویلو ته سخت ضرورت شي او له درواغ ویلو څخه پرته سوله ممکنه نه وي نو اسلامي شریعت اجازه ورته ورکړې ده.

دغه راز کورنی نظام او ازدواجي تړون د کهول او بیا د ټولنې د جوړیدو بنسټ دي نو که چیرې په داسې کهول کې داولاد روزنه وشي چې د مور او پلار تر منځ نزاع نه وي بلکې مینه او متقابله احترام وي نو اولاد نیک وي او د ټولنې ګټور ه ستن وي نو که د زوجینو ترمنځ د سوله ئیز ژوند د تداوم له پاره درواغ وویل شي روادي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله کول د الله تعالی حکم دی

دخلکو ترمنځ سوله کول د الله تعالی امر او حکم دی او مسلمانانو ته یې د قرآن کریم د انفال په سورت کی داسی فرمایلی دی:

**فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَصْلِحُوْا ذَاتَ بَیْنِکُمْ وَ اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ اِنْ کُنْتُمْ مُؤْمِنِیْنَ.** (١)

***ترجمه:*** *ای مسلمانانو! پس تاسی له الله تعالی څخه وویریږئ او په خپل منځ کی سوله او دالله تعالی او د ده درسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړئ که چیری تاسی مومنان یاست.*

**تفسیر:** په دغه مبارک آیت کی الله تعالی دایمان او اسلام دصحت له پاره داشرط لګولی دی چی له الله تعالی څخه وویریږئ او په خپل منځ کی نزاع او جنګونه ، شخړی او اختلافونه مه سره کوئ ځکه چی الله تعالی ستاسی ترمنځ اختلاف، بی اتفاقی او خپل منځی هر ډول، لفظی وی او که وهل ټکول او یا قتلان وی، کورنی وی او که اجتماعی، د دوه کسانو ترمنځ وی او که د دوه ډلوه یا دوه اسلامی حکومتونو او یا دوه ملتونو یاد ملت او حکومت ترمنځ وی حرام ګرځولی دی.

نو هر هغه څوک چی ریښتینی مومن او مسلمان وی هغه په خپل منځ کی له اختلاف څخه ډډه کوی. او که احیاناً د نفس او شیطان په لمسه د دوی ترمنځه اختلاف پیدا شی برابره خبره ده دغه اختلاف عقیدوی، که علمی وی، حقوقی وی او که سیاسی وی، په غلطی سره وی او که په قصد سره وی، په خپله وی او که د نورو په لمسون وی. الله تعالی مسلمانانو ته حکم کړی دی چی په خپل منځ کی سوله سره وکړی او د اسلام او مسلمانی حقیقت په ځانو نو کی پیدا کړی.

**تقوی:** په پورتنی مبارک آیت کی د سولی د تحقق له پاره بنسټیز معیار او شرط تقوی او له

---

١ - د انفال سورت لومړی ایت نهمه سپاره ٨ سورت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی څخه ویره په الله او په اخیرة باندی دایمان لرلو، دالله تعالی او د ده درسول د اطاعت په چمبه کی تاکلی دی. او دایو حقیقت دی او تجربی هم ثابته کړی ده چی که چیری په دواړو جنگیالیو ډلوکی تقوی او له الله تعالی څخه ویره موجوده وی نو دکلونو کشاله په څوساعتونو ؛ بلکی په څوملتونو او دقیقو کی هواریږی او سوله منځ ته راځی چی دمثال په توگه یې یوه نمونه دلته وړاندې کوم.

## د حضرت حسن او حضرت معاویه رضی الله عنهما ترمنځ سوله

کله چی په ٤٠هـ ،٦٦١م امیرالمؤمنین علی رض دخوارج وله پلوه شهید کړای شو، نو دهغه له تدفین څخه وروسته دحضرت علی کرم الله وجهه له مشر ځلوینبت کلن زوی حضرت حسن رضی الله عنه سره دکوفی خلکو بیعت وکړ او حضرت معاویه رضی الله عنه ته یې پیغام ولیږه چی کوفی ته حاضر شی او بیعت ورسره وکړی. مگر حضرت معاویه رضی الله عنه له بیعت څخه انکاروکړ. او دواړو دخپل منځی جنگ له پاره دخلافت او حکومت په مسئله تیاری نیوه تردې چی د ٤١هـ، ٦٦١م دربیع الأول په میاشت کی دواړو خواؤدجنگ ډگر ته خپلی لښکری ولیږ دولی.

حضرت حسن رضی الله عنه له خپل هغه ځلوینبت زره کسیز فوځ سره له کوفی څخه دشام لوری ته رهی شو چی د ده له پلار حضرت علی رضی الله عنه سره یې پر مرگ باندی بیعت کړی ؤ. دامام حسن فوځ مداین ته ورسیده او هلته په قصر بیضاء کی تم شو، مدائن دشام، حجاز او عراق پرپولو باندې واقع دی. او مدائن دری نیم زره ۳۵۰۰ قبل مسیح دحضرت صالح علیه السلام او دهغه دامت دهستو گنی سیمه او هیوادؤ.

له بل پلوه حضرت معاویه رضی الله عنه له سل زره « یو لک » شامی فوځ سره دکوفی پلوته رهی شو او په مسکن نومی سیمی کی دشام په پوله دجیل نو می نهرته ځیرمه ډیره شو او دواړه فوځونه یوبل ته له ورایه ښکار یدل. [1]

---

۱ - الکامل فی التاریخ دویم ټوک ٤٤٥ مخ دبیروت د ١٤٠٨هـ , ۱۹۸۹ چاپ مصنف امام ابن اثیر متوفی ٦٣٠ هـ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام حسن رضی الله عنه دجنگ له پیل څخه دمخه یوه ورځ کله چې دواړو فوځونو ته نظر وکړ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه فرمان ورپه یاد شو چې ده له ابوبکرة رضی الله عنه څخه اوریدلی ؤ او هغه داسې چې له حضرت ابوبکره څخه روایت دی چې هغه ویلی دی: یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منبر ناست و او حسن ته یې وکتل او بیا یې خلکو ته وکتل او بیا یې وفرمایل: زما دغه زوی سردار دی او الله تعالی به د ده په ذریعه دمسلمانانو د دوه لویو ډلو ترمنځ سوله وکړي.

له بل پلوه کله چې حضرت معاویه رضی الله عنه ته عمرو بن العاص رضی الله عنه وویل: دواړه پلوه لوی لوی فوځونه سره مخامخ شوي دي او تر هغه پوري به یو هم په شالاړنه شي چې هغه بل یې ختم کړي نه وي. حضرت معاویه رضی الله عنه چې دابن العاص داخبره واوریده نو په ژړاشو او حضرت عمروبن العاص ته یې په ځواب کې وویل: ای عمرو! که چیرې هاغه لښکریان دغه لښکریان په جنګ کې قتل کړي او دغه لښکریان هغه ووژني نو دهغه لښکر د وژل شویو دکونډو او یتیمانو اولادونو پالنه به څوک کوي او په قیامت کې به یې زه څه ځواب کوم؟ او د دې لښکر دوژل شویو دکونډو او یتیمانو پالنه به څوک کوي او په قیامت کې به یې زه څه ځواب کوم؟(١)

امام بخاری رحمة الله علیه (متوفی ٢٥٦ هـ، ٨٧٩م کال) په صحیح بخاری کې دغه پیښه په مروي حدیث کې داسې راغونډه کړې او روایت کړې ده:

**عَنْ اَبِی مُوسَی قَالَ: سَمِعْتُ الْحَسَنَ یَقُولُ اسْتَقْبَلَ وَاللّٰه الْحَسَنُ بْنُ عَلِیٍّ مَعَاوِیَةَ بِکَتَائِبَ اَمْثَالِ الْجِبَالِ، فَقَالَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ: اِنِّی لَاَرَی کَتَائِبَ لَا تُوَلِّی حَتّی تَقْتُلَ اَقْرَانَهَا، فَقَالَ لَهُ مَعَاوِیَةُ وَاللّٰهِ کَانَ خَیْرَ الرَّجُلَیْنِ: اَیْ عَمْرٍو: اِنْ قَتَلَ هٰؤُلَاءِ، هٰؤُلَاءِ**

١ - العواصم من القواصم دویم ټوک ١٩٩ مخ دلاهور چاپ مصنف امام او قاضي ابوبکر بن عربي اندلسی متوفی ٥٤٣ هـ، ١١٦٦م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ هؤُلَاء مَنْ لی بِأُمُورِ النَّاسِ؟ مَنْ لِی بِنِسَآئِهِمْ مَنْ لِی بِضَیْعَتِهِمْ فَبَعَثَ اِلَیْهِ رَجُلَیْنِ مِنْ قُرَیْشٍ مِنْ بَنِی عَبْدِ شَمْسٍ، عَبْدَالرَّحْمٰنِ بْنَ سَمُرَةَ وَ عَبْدَاللّٰهِ بْنَ عَامِرِ بْنِ كُرَیْزٍ فَقَالَ: اذْهَبَا اِلَی هٰذَا الرَّجُلِ فَاعْرِضَا عَلَیْهِ وَ قُولَا لَهُ وَ اطْلُبَا اِلَیْهِ فَاَتَیَاهُ فَدَخَلَا عَلَیْهِ فَتَكَلَّمَا وَ قَالَا لَهُ وَ طَلَبَا اِلَیْهِ فَقَالَ لَهُمَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِیٍّ اِنَّا بَنُو عَبْدِالْمُطَّلِبْ قَدْ اَصَبْنَا مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَ اِنَّ هٰذِهِ الْاُمَّةَ قَدْ عَاثَتْ فِی دِمَائِهَا قَالَا: فَاِنَّهُ یَعْرِضُ عَلَیْكَ كَذَا وَ كَذَا وَ یَطْلُبُ اِلَیْكَ وَ یَسْأَلُكَ. قَالَ مَنْ لِی بِهٰذَا؟ قَالَا: نَحْنُ لَكَ بِهِ، فَمَا سَأَلَهُمَا شَیْئًا اِلَّا قَالَا نَحْنُ لَكَ بِهِ، فَصَالَحَهُ فَقَالَ الْحَسَنُ: وَ لَقَدْ سَمِعْتُ اَبَابَكْرَةَ یَقُولُ: رَاَیْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلَی الْمِنْبَرِ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِیٍّ اِلَی جَنْبِهِ وَ یُقْبِلُ عَلَی النَّاسِ مَرَّةً وَ عَلَیْهِ اُخْرٰی وَ یَقُولُ: اِنَّ ابْنِی هٰذا سَیِّدٌ وَ لَعَلَّ اللّٰهَ یُصْلِحُ بِهِ بَیْنَ فِئَتَیْنِ عَظِیْمَتَیْنِ». (١)

**ترجمه:** له ابو موسی اسرائیل بن موسی بصری څخه روایت شوی چی ویلی یې دی: ما له حضرت حسن بصری رضی الله عنه (متوفی ١١٠ هـ ٧٢٧ م کال) څخه و اوریدل چی ویې ویل: په الله تعالی قسم دی حضرت حسن بن علی رضی الله عنهما (متوفی ٤٩ هـ ٦٧٢ م کال) څخه کله چی د حضرت معاویه رضی الله عنه (متوفی ٦٠ هـ، ٦٨٢ م کال) په مقابل کی د غرونو په شان لويي لويي لښکری د جنگ له پاره تياری کړی. نو د هغو په ليدو سره حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه (متوفی ٤٣ هـ، ٦٦٦ م کال) حضرت معاويه ته وويل: زه د داسی لښکر و کتارونه وينم چی تر هغه پوری به بيرته ستانه نه شی چی تر څو خپل سيالان حريفان قتل نه کړی. حضرت معاويه رضی الله عنه چی والله له عمرو بن العاص څخه غوره وځکه چی سوله يې غوښته عمرو بن العاص ته چی د جنگ هڅونه يې کوله وويل: ای عمرو: که چيری زما لښکر د هغه فوځيان او د هغه لښکر زما فوځيان قتل کړی نو د الله

١ - صحيح بخاری څلورم ټوک ٦١٣ مخ کتاب الصلح د ملتان چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حضورکی به زما ځواب څوک و وایې او بیا د دغو مقتولینو او وژل شو یو مسلمانانو کونډو ښځو او یتیمانو پالنه به زماله پلوه څوک کوی، او د دوی مسئول به څوک وی؟

له همدی کبله حضرت معاویه رضی الله عنه له خپل پلوه د قریشو د بنو عبد شمس د قبیلی دوه تنه صحابه کرام حضرت عبدالرحمن بن سمرة د کابل فاتح (متوفی ۵۱هـ ۶۷۴م کال) او حضرت عبدالله بن عامر بن کریز د بلخ او تالقانو فاتح (متوفی ۵۹هـ، ۶۸۲م کال) رضی الله عنهما. (۱)

حضرت حسن رضی الله عنه ته د سولی له پاره ولیږل او هغوی دواړو ته یې وویل: تاسی دواړه د غه سړی ته لاړ شی او د سولی کولو وړاندیزو رته وکړی، او پدی باره کی تاسی دواړه خبری ورسره وکړئ، او د هغه د سولی چی هر څومره او هر څرنګ شرطونه او غوښتنی وی، زماله پلوه د هغو د پوره کولو ذمه واری تاسی دواړه پر غاړه واخلئ.

هغوی دواړه امام حسن رضی الله عنه ته لاړل، له هغه سره یې خبری وکړی او د معاویه رضی الله عنه د سولی پیغام یې ورته ورساوه. امام حسن رضی الله عنه دوی ته وویل: په تحقیق سره مونږ د عبدالمطلب او لادیو او مونږ د خلافت په ذریعه د غه مالونه د الله مخلوق ته ورکوو، او په تحقیق سره تر اوسه پوری د غه اسلامی امت خپلی وینی بهولی دی او په خپلو وینو کی لمبیدلی دی. هغوی دواړو ورته وویل: له همدی امله خو تا ته معاویه رضی الله عنه د سولی وړاندیز کړی دی او تا ته د غه او د غه امتیازات درکوی او له تا څخه ستا د سولی د شرطونو پوښتنه کوی. حضرت حسن ورته وویل:

زما د سولی د غوښتنو او شرطونو د پوره کولو ضمانت به څوک وکړی؟ هغوی دواړو، ورته وویل: مونږ دواړه ستا د غوښتنو د پوره کولو د هغه له پلوه ضامن او ذمه وار یو. حضرت

۱- طبقات ابن سعد پنځم ټوک ۲۳ مخ بیروت چاپ مصنف امام ابن سعد متوفی ۲۳۰ هـ ذکر عبدالله بن عامر، الاستیعاب فی معرفة الاصحاب دویم ټوک ۳۷۸ د بیروت ۱۴۱۵ هـ چاپ مصنف ابن عبدالبر قرطبی متوفی ۴۶۳هـ ذکر عبدالرحمن بن سمرة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن رضی الله عنه به دسولی چی هر شرط وړاندی کړ هغوی دواړو به ورته ویل: مونږ یې د پوره کولو ذمه وار یو. پس حضرت امام حسن رضی الله عنه دخپلو شرطونو له تضمین څخه وروسته(۱) له هغوی سره سوله وکړه.

حضرت حسن بصری رضی الله عنه ویلی دی: ما له ابوبکرة رضی الله عنه (متوفی ۵٤ هـ کال) نفیع بن مسروح - مسروق څخه واوریدل چی ویې ویل: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده چی پر منبر باندی ناست و او حسن رضی الله عنه یې ترڅنګ ناست و. رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت حسن ته وکتل او بیا یې خلکو ته وکتل او ویې فرمایل: زما دغه زوی سردار دی او ښایې الله تعالی به دده په ذریعه د مسلمانانو ددوه لویو ډلو ترمنځ سوله راولی.

**نتیجه:** تاریخ پوهانو لیکلی دی: حضرت حسن رضی الله عنه له خپل خلافت څخه تیر شو او د مسلمانانو وینی تویولو ته تیار نه شو او له شپږ میاشتی خلافت کولو څخه وروسته یې په سنه ٤١ هـ ٦٦١م دربیع الاول په میاشت کی د حضرت معاویه رضی الله عنه په لاس بیعت وکړ او له بیعت کولو څخه وروسته یې مدینی ته کوچ وکړ او هلته په سنه ۵۹هـ ٦٦۹م کی د پنجشنبی په ورځ دربیع الاول په یوولسمه د ٤٦ کلونو په عمر وفات شو او په جنة البقیع کی دخپلی مور بی بی فاطمه ترڅنګ دفن کړای شو.(۲)

۱- طبقات ابن سعد پنځم توک ۲۳ مخ بیروت چاپ مصنف امام ابن سعد متوفی سنه ۲۳۰هـ ذکر عبدالله بن عامر، الاستیعاب فی معرفة الاصحاب دویم توک ۳۷۸ دبیروت چاپ ۱٤۱۵هـ مصنف ابن عبدالبر قرطبی متوفی سنه ٤٦۳هـ ذکر عبدالرحمن بن سمرة

۲- الامامة والسیاسة لومړی توک ۱۷٤ - ۱۷۵ مخونه مصنف ابن قتیبه دینوری متوفی سنه ۲۷٦هـ ۸۹۹م مروج الذهب دویم توک ٤۲٦ مخ مصنف: امام مسعودی متوفی سنه ۳٤٦هـ ۹٦۹م - تاریخ ابن خلدون دویم توک ۵۳۰ مخ پرله پسی مصنف امام ابن خلدون متوفی سنه ۸۰۸هـ ۱٤۳۱م الکامل فی التاریخ دویم توک ٤٤۵ مخ مصنف امام ابن اثیر متوفی سنه ٦۳۰هـ ۱۲۵۳م

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام حسن رضی الله عنه دهغی تقوی په نتیجه کی هغه پنځه کلنه اختلافی مسئله په شو ساعتونو کی حل او هواره کړه چی په زرگونو قدسیه نفسونه داجتهاد په وجه پکی شهیدان او امت پر دوو برخو پکی ویشلی شوی و، چی الله تعالی یې نصیب کړی وه، او دالله تعالی پردی فرمان یې عمل وکړ چی «فاتقوا الله واصلحوا ذات بینکم»، امت یې بیرته متحد کړ او دغه کال ته دسنة الجماعة نوم ورکړای شو، یعنی داتحاد او یووالی کال.

اوس هم که په مونږ کی دتقوی ماده پیدا شی داسلامی امت ټولی ستونزی به سم له لاسه هواری شی او تیت او پرک ملتونه، خوری وری پرگنی به سره یو شی، او ټولی هغه بدمرغی به په نیکمرغی بدلی شی چی دخپل منځی شخړو، او اختلافاتو په نتیجه کی منځته راغلی دی، اودامت ټوله هوساینه او نیکمرغی یې تالا ترغه کړی ده.

هو، تقوی هغه بی سیاله نسخه ده چی دانسان ملکوتی صفت پیاوړی کوی او کله چی دغه صفت پیاوړی شی نفس اماره وژل کیږی چی په نتیجه کی یې انسان روحانی مقام ترلاسه کوی دځان غوښتنی او ځان پالنی روحیه پکی ختمیږی، دالله تعالی پر مخلوق یې زړه سوی او مهربانی پیدا کیږی، دمادیاتو د ترلاسه کولو له پاره نه خوله چاسره دجنگ او اختلاف تابیه نیسی او نه دخپلو مادی اغراضو، جاه او جلال له پاره دمعصومو انسانانو معصومی وینی تویول لاځه کوی دخپه کولو تصور یې هم نه کوی. دا دتقوی برکت دی په چا کی چی دغه الهی نسخه پیدا شی هغه پخپله هم سوله کوی او دخلکو ترمنځ هم سوله کوی. په کوم شخص کی چی دالله تعالی دغه تجویز کړی نسخه پیدا شی هغه له خپل اماره نفس څخه پرته له بل هیچا سره هم جنگ نه کوی، مولانا جلال الدین رومی (رح) متوفی سنه ۶۷۲هـ ۱۲۹۵م ویلی دی چی داسی وگړی خو دخپل نفس په تزکیه داسی مصروف وی چی دخلکو ترمنځ سولی کولو ته هم وخت نه لری لکه چی په خپل نامتو کتاب مثنوی کی یې ویلی دی:

خود چه جای جنگ و جدال نیک و بد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کین عالم از صلحها هم میرمد
بسودایی جانان زجان مشتغل
بذکر حبیب ازجهان مشتغل

تقوی په انسان کی داسی صفت او ملکه پیدا کوی چی دښمنان هم په خپلو سوله دوستو خبرو سره دوستان گرځوی لکه چی سعدی شیرازی (متوفی ٦٩١هـ ١٣١٤م کال) په خپل منظوم کلام کی ویلی دی:

شنیدم که مردان راه خدا
دل دشمنان هم نکردند تنگ
ترا کی میسر شود این مقام
که با دوستانت خلافست وجنگ(۱)

الله تعالی دې په مونږ ټولو کی، یعنی جنگیالیو او هم سوله کوونکو کی د تقوی عنصر پیدا کړی څو اوسنی کشالی دورورې په مؤمنانه فضا کی هواری کړای شو الله تعالی او هم ملت ته له گرمتیا څخه نجات ومومو.

## سوله کول غوره عمل دی

داسلام په مقدس دین کی دخلکو ترمنځ سوله کول هغه غوره او نیک عمل دی چی الله تعالی یې په قرآن مجید کی ستاینه کړی او فرمایلی یې دي:

**«لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّنْ نَجْوَاهُمْ الَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوفٍ اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَالِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا.»** (۲)

**ترجمه:** *نشته خیر او نیکی په ډیروکی له پټو خبرو، جرگو او غونډو کولو او مشورو کولو ددوی کی*

---

۱- گلستان لومړی برخه ۱۱۱ مخ دملتان چاپ
۲- دنساء سورة ۱۱٤- آیت پنځمه سپاره ۱۷ رکوع ٤ سورة

(c) ketabton.com: The Digital Library



*مگر پرته دهغه چا له غونډو کولو او مشورو څخه چې خلکو ته امر کوي دصدقاتو په ورکولو سره او دنورو نیکو چارو په کولو سره او دخلکو ترمنځ دسولې په کولو سره او هغه څوک چې دغه دري واړه چارې یا هره کومه یوه خاص دالله تعالی درضامندی دترلاسه کولو په خاطر وکړي، نو مونږ به ډیر ژر دوی ته لوی اجر او ثواب ورکړو.*

**تفسیر:** په دغه مبارک آیت کی الله تعالی نوری ټولی هغه غونډی، مشوری، مرکی او خپل منځی پټ خواله کول بی ارزښته گڼلی دی چې صرف ددنیوی اغراضو او مقاصدو د ترلاسه کولو په خاطر وی؛ بلکی دالله تعالی په نزد صرف هغه غونډی او پټ پټیونی غوره او د ثواب جوگه دی چې ددری اجتماعی چارو د ترسره کولو له پاره وی:

١- لومړی هغه غونډی چې له بی وزلو او مستمندو، وگړو سره دمرستی کولو په خاطر وی. دهغوی دخوراک، پوښاک، تعلیم، درملو او علاج، مسکن او نورو اړتیاؤ دپوره کولو په خاطر غونډه وکړای شی او بیا ددغی غونډی وگړی مشوره سره وکړی او بیا دبشری ټولنی بډای او شتمنو اغنیاؤ ته بلنه او ددی خبری دعوت ورکړی چې دخپلو صدقاتو فرضی وی او که نفلی وی په ورکولو سره دمصیبت ځپلو اوبی وزلو مرسته وکړی.

٢- خلکو ته دنیکو چارو دکولو او له ناوړو چارو څخه دمنعه کولو په خاطر غونډی او مشوری او دټولنی داصلاح په تکل سره غونډیدل او بیا پردی فیصله او مشوره کول چې خپل دامر بالمعروف او نهی عن المنکر اصلاحی فریضه او دعوت څرنگ اغیز من گرځولی شی او دمنکراتو مخنیوی باید څرنگ وکړی شی د دعوت منهج او اسلوب باید څرنگ وی او ..

٣- دریم دخلکو ترمنځ دسولې او روغی جوړی کولو له پاره غونډی او مشورې کول، او دخپلی سولی دپروسی دکامیابو لوله پاره پلانونه او اڼداوې جوړول أوبیا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلي کول. برابره خبره ده که سوله کول په حقوقو کې وي او که د جنګونو په ختمولو کې وي، د دوه کسانو رمنځ وي او که د دوه ډلو یا حکومتونو ترمنځ وي.

**یادونه:** تفسیر پوهانو ویلي دي: صدقات او د خلکو ترمنځ سوله کول دواړه په معروف کې شامل دي ځکه چې دغه دواړه هم نیکۍ چارې دي.[۱]

مګر دا چې الله تعالی دغه دواړه په خاصه توګه ذکر کړې دي د دوی پر اهمیت باندې دلالت کوي ځکه هر هغه څه چې له تعمیم څخه وروسته بیا دویم ځل په خصوصیت سره ذکر کولی شي هغه ډیر زیات مهم وي.

د ثواب ګټلو شرط: د دغو درې واړو د ثوابونو د ګټلو له پاره الله تعالی په دغه مبارک آیت کې دا شرط لګولی دی چې خاص د الله تعالی د رضامندۍ د ترلاسه کولو له پاره وي. یعنې د دنیوي مقاصدو له پاره نه وي، د ریا ء او ځان ښودنې له پاره نه وي، د ځانونو د مطرح کولو په خاطر نه وي. او که چیرې د دغو اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر وي نو په دنیا کې یې د خلکو په انظارو کې سپکوي د سولې هلې ځلې یې له ناکامۍ سره مخ کوي او له بل پلوه له هغو عظیمو اجرونو او ثوابونو څخه محروم او بې برخې کیږي چې الله تعالی یې له مخلصو سوله کوونکو او مصلحینو سره وعده کړې ده او هغه دا دي:

---

۱- تفسیر قرطبي دریم ټوک ۲٤۵ مخ، تفسیر معارف القرآن دویم ټوک ٥٤٦ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسولې فضائل او ثوابونه:

په ذکر شوی مبارک آیت کی الله تعالی چی د کوم عظیم اجروعده له مخلصو سوله کوونکو سره کړی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه تشریح په خپل مبارک حدیث کی داسی کړیده:

**۱- عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلُ اللهِ یَقُولُ: مَنْ اَصْلَحَ بَیْنَ اِثْنَیْنِ اِسْتَوجِبَ ثَوَابَ شَهِیْد.**

***ترجمه:*** *له ابوهریره رضی الله عنه (متوفی ۵۹ هـ کال) څخه روایت دی چی ویلی یې دی: ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چی ویې فرمایل: چاچی د دوه کسانو یا دوه ډلو یادوه حکومتونو ترمنځ سوله وکړه د یوشهید ثوابه ورته واجب او لازم شو.*

**۲- عَنْ اَنَس بْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: مَنْ اَصْلَحَ بَیْنَ اِثْنَیْنْ اَعْطَاهُ اللهُ بَكُلِ كَلِمَةَ عِتْقِ رَقَبَةٍ.**

***ترجمه:*** *حضرت أنس بن مالک (متوفی ۱۰۳ هـ، ۷۲۶ م کال) رضی الله عنه ویلی دی: چاچی د دوه کسانو یا دوه ډلو ترمنځ سوله وکړه الله تعالی به سوله کوونکی ته دسولی دهری خبری کولو په بدل کی د یو مریي دازادولو اجراو ثواب ورکړی.*

**۳-« وقال اوزاعی: ماخطوة احب الی الله عزوجل من خطوة فی اصلاح ذات البین و من اصلح بین اثنین کتب الله له براءة من النار.»**

***ترجمه:*** *امام اوزاعی عبدالرحمن بن عمرو (متوفی ۱۵۷ هـ، ۷۸۰ م کال) رحمة الله علیه ویلی دی:*

الله تعالی ته له هغه قدم او گام اخیستلو څخه بل هیڅ یو قدم هم محبوب نه دی چی دخلکو ترمنځ دسولی کولو له پاره او چت کړای شی، یعنی په تولو گرځیدو او گرځیدو او سفرونو کی دسولی له پاره گرځیدل راگرځیدل غوره دی. او چاچی د دوه کسانو یا دوو ډلو ترمنځ سوله وکړه الله تعالی به سوله کوونکی ته د دوزخ له اور څخه دخلاصون اجر او ثواب په عملنامه کی ولیکی. یعنی یوه سوله کول له جهنم څخه دنجات او خلاصون سبب گرځیږی پدې شرط چی دالله درضامندی په خاطروی.[۱]

۱- تفسیر قرطبی دریم ټوک ۲۴۷ مخ دبیروت چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوله کول له نفلي عبادت څخه أفضل دئ:

په اسلامي اجتماعي نظام کې دخلکو ترمنځ سوله کول خوراهسک مقام او فضیلت لري ان تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له نفلي روژې نیولو او په شپه کې تمامه شپه له نفلي لمونځ کولو څخه افضل عمل ګڼلې دی لکه چې په یو حدیث کې یې فرمایلي دي:

**«عَنْ اَبِي الدَرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلَا أُخْبِرُكُمْ بِاَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِيَامِ وَالصَلوةِ وَالصَدَقَةِ، قَالُوا: بَلٰى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: اِصْلَاحُ ذَاتِ البَيْنِ وَ فَسَادُ ذَاتِ البَيْنِ الحَالِقَةُ.»** (۱)

***ترجمه:*** *له حضرت ابو درداء رضی الله عنه (متوفی ۳۲ هـ، ٦٥٥ م کال) څخه روایت دی چې ویلي یې دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ایا زه تاسې ته پر داسې یو عمل خبر درنه کړم چې دهغه کول له نفلي روژې نیولو څخه او له نفلي لمونځ کولو او له خیراتونو ورکولو څخه زیات افضل اوله دغو ټولو څخه زیات ثواب لري؟ صحابه کرامو وویل: هو، ای دالله تعالی رسوله راته ویې ښیه حضرت رسول اکرم وفرمایل: دغه عمل دخلکو ترمنځ سوله کول دی. او دخلکو ترمنځ اختلاف اودښمنی پیدا کول او خلک په جنګ سره أچول دا اختلاف اچوونکی دین ختموی.*

امام خطابی رحمة الله علیه ویلي دي: په دغه مبارک حدیث کې دخلکو ترمنځ سولې کولو ته ترغیب او هڅونه ده او دخلکو ترمنځ داختلافاتو له پیدا کولو او جنګولو څخه ممانعت دی. او سوله ځکه له نفلي عباداتو څخه غوره ده چې نفلي عبادت کوونکی دعبادت په کولو سره صرف خپل ځان ته ګټه رسوي. پداسې حال کې چې دخلکو ترمنځ سوله کوونکی خلکو او ټولنې ته ګټه رسوي، او په اسلام کې اجتماعي مشروعي ګټوري چارې له فردي چارو څخه زیات فضیلت لري او پدې کې خو هیڅ شک نشته چې داسلام مقدس دین اجتماعي دین دی. (۲)

---

۱ - سنن ابی داود دویم ټوک ۳۲۵ مخ دملتان چاپ.

۲ - عون المعبود ۱۳ ټوک ۲۱٤ مخ مع الزیادة دارالفکر بیروت ۱٤۱۵هـ، ۱۹۹۵م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله ئیز ژوند او اسلام

دا یومنل شوی حقیقت دی چی داسلام مقدس دین دیو داسی مهذب نظام نوم دی چی ټول اصول او قوانین یې دکائناتو د لایزال خالق له پلوه دی او دغه نظام په خپله الله تعالی اسلام نومولی دی چی دسلامتی او روغی جوړی او د تسلیم په معنا سره دی.
داسلام مقدس دین خپلو معتقدینو ته دا ښودنه کړی ده چی انسان اجتماعی مخلوق دی او له اجتماع څخه پر ته ژوند نه شی کولای او نه دژوند ټولی اړتیاوی په تنهائی سره پوره کولی شی.(۱)

له همدی کبله یې له یوبل سره دسوله ئیز او د اړمن ژوند کولو او یوبل ته دزیان نه رسولو حکم کړی دی ځوهغه مقصد چی په زمکه کی دانسان په حاکم گرځولو کی دی چی دزمکی اعماردی په ښه توگه پوره شی. دسوله ئیز ژوند له پاره یې قوانین ورته کیښودل او دهغوی دښودنی له پاره الله تعالی وخت په وخت انبیاء مبعوث کړل چی وروستی نبی ئې حضرت خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم دی چی دانبیاو دبعثت لړۍ یی پری ختمه کړه، او حضرت محمدصلی الله علیه وآله وسلم په (۶۲۳ مسیحی کال) کی او د خپل نیکمرغه هجرت (په لومړی ۱ هـ کال) کی کله چی مدینی منوری ته یې دالله تعالی په اذن او دانصارو په بیابیا بلنه هجرت وکړنو داسلامی حکومت لومړئ بنسټ یې له یوبل سره دسوله ئیز ژوند په کولو کی کیښود او د دغه مهم ضرورت له پاره یې یو قرار داد ولیکه چی پنځه ویشت مادی لری چی څوارلس یې دمسلمانانو په خپل منځ کی دسوله ئیز ژوند له پاره وی او یوولس مادی یې دمسلمانانو او غیر اسلامی هغووگړو ترمنځ دسوله ئیز ژوند تیرولو په باره کی وی

۱- حجة الله البالغه لومړی ټوک ۵۰ مخ دلاهور چاپ ۱۴۰۲ هـ ۱۹۸۱ م مصنف شاه ولی الله متوفی ۱۱۷۶هـ، ۱۹۹م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په مدینه منوره کې سره او سیدلې چې په سرکې یې د یهودیانو درې قبیلې بنو قریظه، بنوقینُقاع او بنونضیر وې. او له مشرکانو څخه د عربود اوس او خزرج هغه وګړي وچې لا مسلمان شوي نه ؤ. او د غه قرار داد، دمدینې په میثاق یعنې تړون او قرار داد سره و نوموللی شو چې سیرت لیکونکو په اجمالي او تفصیلي توګه سره ذکر کړې دی او هغه تاریخي، ابدي لومړی میثاق او دهغه مادې زه د درنولوستونکو دمعلوماتو دزیاتولو او دخپلې مدعی د ثبوت له پاره دلته ذکر کول ضروري ګڼم:

بسم الله الرحمن الرحيم

## دمدینې میثاق

دا یو تړون دی چې دمحمد نبي امی «صلی الله علیه وسلم» په امر دقریشو او دیثرب او د دوی د پلویانو او له دوی سره په جنګ کې دګډون کوونکو ترمنځ لیکلی کیږي.

**لومړۍ ماده:** ټول مسلمانان ایکې یو امت دی.

**دویمه ماده :** دقریشو مهاجرین به دپخوا په شان دخپل بندیانو فدیه ورکوي او یوله بل سره به د دیت په ادا ءکولو کې مرسته کوي.

**دریمه ماده:** دانصارو ټولې قبیلې: بنوساعده بنوجشم، بنونجار، بنو عمروبن عوف، بنونبیت بنو ثعلبه، بنوجفنه او بنو شطنة او ټول مؤمنان به دپخوا په څیر لکه څرنګ چې دمومنانو دود دی دیوبل دیت به ورکوي او هم به دجنګي بندیانو فدیه ادا ء کوي.

**څلورمه ماده:** دپوروړیو او په اقتصادي بې وزلې کې له اخته وګړو سره به په معروفه توګه مرسته او مدد کولی شي.

**پنځمه ماده:** دظالمانو، جنایت کوونکو او مفسدینو په خلاف به ټول مسلمانان یوموټې وي که څه هم کوم جنایت کوونکی دکوم مسلمان زوی هم وي.

**شپږمه ماده:** هیڅ یومومن به هم دکافر په ملاتړ مومن نه قتلوي، او نه به دمؤمن په مقابل کې دکافر پلوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه ماده:** که چیري کوم ادنی مؤمن هم چا ته پناه ورکړي هغه به د ټولو پناه ګڼلی کیږي او د ټولو مسلمانانو. ذمه واري یوه او سره مشتر که ده.
**اتمه ماده:** که چیري یهودیان زمونږ اطاعت وکړي نو پر هغوی به هیڅ تیري او ظلم نشي کولای بلکې له هغوی سره به مرسته کولی شي.
**نهمه ماده:** د مسلمانانو سوله به ګډه او متفقه وي او انفرادي سوله هیڅ اعتبار نه لري؛ بلکې که له کومې قبیلې سره سوله کولی شي نو په ټولنیزه توګه به کولی شي او د جنګ په دوران کې به هیڅ مسلمان هم فردي سوله نه کوي.
**لسمه ماده:** مسلمانان به وار په وار جهاد ته ځي کله چې یوه ډله راشي نو بله د مه کوونکې ډله به لیږلی شي.
**یوولسمه ماده:** د ټولو مسلمانانو وینه سره برابره ده، او هغه مؤمنان په سمه لاره او نیکه دي چې متقیان وي.
**دولسمه ماده:** د مکې له قریشو سره به نه خومالي مرسته کولی شي، او نه به د مسلمانانو په خلاف هغوی ته پناه ورکولی شي.
**دیارلسمه ماده:** که چا کوم مسلمان په ظلم او ناحقه سره قتل کړي وي نو قاتل به یې قصاص کولی شي مګر دا چې د وژل شوي وارثان په دیت اخیستلو رضامند شي، او د قاتل په خلاف به ټول مسلمانان یو موټي او سره متحد وي.
**څوارلسمه ماده:** د هري شخړي او معاملې فیصله او پریکړه به د الله تعالی له کتاب قرآن کریم او د محمد «صلی الله علیه وسلم له سنت سره سمه کولی شي.
**پنځلسمه ماده:** پر مدینه باندي د یرغل کولو په صورت کې د یرغل کوونکو په خلاف به یهودیان له مسلمانانو سره په جنګ او جنګي لګښتونو کې شریک او برخمن وي؛ داځکه چې دا به له خپل ټاټوبي او وطن څخه د دفاع جنګ وي.
**شپاړسمه ماده:** یهودیان به پر خپل دین عمل کوي او مسلمانان به پر خپل دین باندي عمل کوي،
**اوولسمه ماده:** یهودیانو، قبائلو د غه راز د دوی هم پیمانو او دوستانو ته به له قانون سره سم مدني او د تابعیت حقوق ورکولی شي. مګر که له دوی څخه څوک د جنایت مرتکب شي سزا به هر و مرو، ورکولی شي.
**اتلسمه ماده:** د دې معاهدي او تړون پر ګډون کوونکو باندي په یثرب یعني مدینه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ډول فتنه او فساد جوړول حرام او ممنوع دی.
**نولسمه ماده:** د جنایاتو په سزا ګانو ورکولو کې به هیڅ ډول او د هیچا له پلوه هم خنډ کیدل او خنډونه پیدا کول زغملی نه شی، دو که ورکوونکی او ترون ماتوونکی به په خپله خپل ځانونه له خطر سره مخامخ کړی. نیکی کوونکی به په حفاظت کی وی.
**شلمه ماده:** د مدینی ګاونډیانو او په مدینه کی پناه اخیستونکو له پاره هم همدغه حقوق دی او پر هغوی باندی به هم هیڅ ډول تیری نه شی کولای.
**یویشتمه ماده:** د دغه ترون د برخوالو ترمنځ که چیری کومه شخړه او پیسنه منځته راشی چی له هغی څخه د فساد پیدا کیدو، ویره وی نو فیصله به یې محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له قانون سره سمه کوی.
**دوه ویستمه ماده:** د مکی قریشو او د هغوی ملاتړ کوونکو ته به پناه نشی ورکولی.
**درویشتمه ماده:** له چاسره په سوله کولو کی به د دې معاهدی ټول اړخونه ګډوی. یعنی د مسلمانانو په شان به یهودیان هم د داسی صلحنامی پابند وی چی له کومی بهرنی قبیلی سره شوی وی.
**څلیریشتمه ماده:** د دې ترون هر فریق د خپلی سیمی د ساتنی او له هغی څخه به د دفاع ذمه واروی.
**پنځه ویشتمه ماده:** د غه ترون ظالم او تیری کوونکی ته د سزا ورکولو خنډ او مانع نه شی ګڼلی.
بیشکه الله تعالی د هغه چاساتونکی أو مل دی چی متقی وی او محمد د الله رسول دی. (۱)
داده داسلام د مقدس دین د مدنی او سوله ئیز. سیاسی او اجتماعی ژوند هغه بی سیاله وثیقه او ترون چی تر دغه وخت پورې یې هیچا هم مثال نه لیدلی و او نه یې اوریدلی او نه

۱- خیار المقول فی سیرة الرسول ج ۲ ص ۵۹ مصنف شیخ مصطفی الغیلانی، بیروت ۱۳۲۳ هـ ۱۹۰۵م
البدایه والنهایه دریم ټوک ۲۲۵-۲۲۶ د لاهور چاپ مصنف حافظ ابن کثیر متوفی ۷۷٤هـ. ۱۳۸۷م
جوامع السیرت دویم ټوک ۱۱۹ د کراچی چاپ ۱٤۱۱ هـ مصنف امام ابن حزم متوفی ٤٥٦هـ ۱۰۷۹م
سیرت ابن هشام دویم ټوک ۱٤۷-۱۵۰ مخونه د مصطفی بابی چاپ مصری ۱۳۵۵ هـ. ۱۹۳٦م مصنف عبدالملک. بن هشام حمیری متوفی ۲۱۳هـ. ۸۳٦م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه:**

ځینو لیک والانو د مدینې د میثاق مادې له پنځه ویشتو څخه زیاتې لیکلې دي او ځینو کمې لیکلې دي. د دې سبب دا دی چې په ځینو مادو کې د «الف، ب، ج اجزاء دې هغه یې هم ځانګړې مادې نیولې دي چې په دې توګه ځېنو هغه تر دوه پنځوس پورې رسولې دي او چا چې کمې نیولې دي هغوی دوه دوه مادې یو ځای کړې دي خو په اصل کې همدغه پنځه ویشت مادې دي او ما دغه شمیر له تحقیق او څیړنې څخه وروسته لیکلې دي.

تر اوسه پورې په نورو ادیانو کې یې مثال میندلی شي او نه به په راتلونکې کې ومیندلی شي. او د ایوازې د کاغذ پرمخ لیکلې شوی اساس نامه نه وه؛ بلکې هره یوه ماده یې په عملي ډګر کې پلې کړای شوې وه د مدینې او دهغې د چاپیریال له اوسیدونکو سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو او د نبوي مدرسې مخلصو شاګردانو سوله ئیز ژوند کاوه، که څه هم د مدینې منورې یهودیانو او د نورو له پلوه به کله ناکله د دغه تړون د سوله ئز ژوند له مادو څخه سره غړونه په جزوي توګه کولی شوه مګر مسلمانانو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هدایت سره سم د هغوی په مقابل کې له زغم څخه کار اخیست تر دې کله چې په (۵هـ کال کې له ۶۲۸ مسیحي کال) سره سم د احزاب خندق په غزا کې د مکې مشرکانو د نورو کفري قبائلو په ملګرتیا پر مدینه منوره چې د اسلامي حکومت ډومبئ ستنیځ و د یرغل په تکل راغلل نو د مدینې منورې د یهودو د بنو قریظه قبیلې له خپل فطري عاصیانه عادت سره سم په ډیرې سپین سترګې سره له عهدنامې څخه سر غړونه وکړه او په ډاګه یې مشرکانو ته پیغام ولیږه چې مونږ د مسلمانانو په خلاف ستاسې ملګري یو هماغه وچې د احزاب له غزا څخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په امر او د قرار داد له اوولسمې مادې سره سم هغوی ته سزا ورکړه هغه هم د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټاکلي حکم او مينځه ګړي حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه له فيصلې سره سم. [۱]

**تلپاتي وثيقه:** دخاتم النبين حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دغه هراړخيز منشور او دسوله ئيز ژوند ميثاق صرف دمديني له پاره نه ؤ او نه يوازي دهغه وخت له پاره ؤ بلکي دګردې دنيا له پاره دهر عصر له پاره او ترقيامته پورې دټول اسلامي امت له پاره دغه نبوي وثيقه واجب العمل ده، او هيڅ مسلمان ته روا نه ده چي مخالفت ورڅخه وکړي او ياد دغي مبارکي ابدي او تلپاتي وثيقي د اصولو پرضد عملي ګام او چت کړي او له نورو سره ياله خپلو مسلمانانو سره دګاونډي توب يا داسي ګډ ژوند کول پيل کړي چي د نبوي دمديني دتاريخي مهذب منشور او ميثاق پرضد او سرچپه وي. بلکي قدم په قدم داسلامي امت نسلونو عمل پرې کړې دى او په خپل ژوند و دکې يې پلې کړې دى. ځکه مسلمان پردې باندې پوهيږي چي دخاتم النبين له قول او عمل څخه مخالفت کول داسلام له دين څخه وتل دي، او بيا پر داسي شخص باندې دمسلمان اطلاق شرعاً نه شي کولاى.

لکه چي الله تعالى فرمايلي دي:

**«وَ مَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَ نُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَ سَآءَتْ مَصِيْرًا.»** (دنسا سورة ۱۱۵ ايت ۵ سپاره)

***ترجمه:*** *او هرڅوک چي مخالفت کوي له رسوله وروسته له هغه چي ښکاره شوه ده ته سمه لاره او دمسلمانانو له لارې څخه پرته پربله لاره رهي شي. نو موږ به دي هماغه لورې ته وګرځوو چي دي ورګرځيدلى دى او موږ به دي جهنم ته داخل کړو؛ او بدځاى دور تلودى.*

---

۱- دلائل النبوة دويم ټوک ٤٠٥-٥٠٥ مخونه دمصرچاپ مصنف: حافظ ابونعيم متوفى ٤٣٠هـ، ١٠٥٣م زادالمعاد، دريم ټوک ١٢٩-١٣٥ مخونه درياض چاپ ١٤١٥هـ، ١٤٠٨م مصنف حافظ ابن القيم متوفى ٧١٥هـ، الوفاء باحوال المصطفى ٧١٤مخ دبيروت چاپ ١٤٠٨هـ، ١٩٨٨م مصنف امام ابن جوزي متوفى ٥٩٧هـ ١٢٢٠م. صحيح بخاري کتاب المغازي ج غزوة بنو قريظة صحيح مسلم حديث ١٧٤٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله ئیز ژوند کول

• **سوله ئیز ژوند کول څه ته وايي او دغه څه ډول ژوند دی؟**

**تعریف:** داهغه پوښتنه ده چې زما د دی لیکنی لوستونکو ته په ذهن کی ښايي پیداشی ځکه چې دهر چا پوهه یو ډول نه وی زمونږ په ټولنه کی ښائی داسی ډیر وګړی وی چې په اجمالی لیکنو پوه نه شی او تفصیل ته یې اړتیاوی. له دې امله زه غواړم په لنډه توګه دسوله ئیز ژوند دمفرداتو او ارکانو یادونه وکړم څو دغه ډول ژوند او دغه اصطلاح په عمومی توګه وپیژندلی شی. سوله ئیز ژوند کول په لاندی ډول دی:

آلف: دهر جا فطری ازادی ته په شرعی حدودوکی په درنه سترګه کتل او احترام کول.

ب: دچاپر شخصی مال باندی تعارض نه کول پدی شرط چې په شرعی طریقه یې لاس ته راوړی وی. او دهغه دمالی کاروبار په لاره کی خنډنه واقع کیدل.

ج: دچاپر ناموس، لکه میرمن، مور، خور، لورتعارض نه کول او دهغه احترام کول.

د: دچاپر عقیده او دین تعارض نه کول، او نه له دینی شعائر و څخه دیوچا منعه کول، یاد چا معبود ته په سپک نظر کتل او دچا معبود ته ښکنځل کول. لکه چې الله تعالی فرمایلی دی: **«وَ لَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ.»**

(دانعام سورت ۱۰۸ آیت ۷ سپاره)

اوای مؤمنانو: هغو معبودانو ته کنځل مه کوی چې غیر مسلم یې عبادت کوئ ځکه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي داسي وکړي نو دوی به په ناپوهی سره په ناحقه الله تعالی ته کنځل وکړي.

هـ: د متبوع حکومت له قوانینو څخه سرغړونه نه کول، پدی شرط چی د الله تعالی د توحید او عباداتو پر ضد نه وی.

و: پر خپل لاس او ژبه چا ته ضرر نه رسول او گاونډی ته په درنه کتل أو دهغه په گټو خوشالیدل او په تاوان یې خپه کیدل او پر هغه باندی تیری نه کول.

ز: په ټولنه کی د فتنی، فساد او اخلاقی رذائلوله ترویج څخه ډډه کول.

او له داسی نورو هغو اعمالو څخه ډډه کول چی بل څوک ورڅخه زیانمن کیږی، او امنیت یې گډوډ کیږی. دې ته سوله ئیز ژوند کول ویلی کیږی.

## د نبوی احادیثو په رڼا کی سوله ئیز ژوند کول:

د اسلام فردی او اجتماعی نظام که څه هم د جنایت کوونکو له پاره په مدنی اړخ کی هم تأدیبی سزاگانی ټاکلی دی، مگر دغه سزاگانی په دویم قدم کی دی په لومړی قدم کی کوښښ کوی چی په خپل سپیڅلی اخلاقی نظام سره د ټولنی داسی وگړی چی د گاونډیانو، وطنوالو او کلیوالو سوله ئیز ژوند په خپلو ناوړو اعمالو او اقوالو سره تهدیدوی یا هغوی ته زیان رسوی پر اخلاقی نسخی سره هغه اصلاح کړی. او دا داسی مجربه نسخه ده چی په هر وخت کی یې کامیابه نتیجه ورکړی ده. په سوله ئیز ژوند کی د گډوډی پیدا کوونکو له پاره رسول الله صلی الله علیه ولم مسلمانانو ته د ایمان د زوال، او دوزخ ته د تللو د الله تعالی د غضب او داسی نورو معنوی زیانونو خبرداری ورکړی دی چی زه یې د نمونی په توگه یو څو مبارک حدیثونه دلته وړاندی کوم څو دا ثابته کړم چی اسلام خپلو پیروانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرسوله ئيز ژوند كولو څومره ټينګار كړى دى:

۱- عَنْ اَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ قِيْلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: اَلَّذِى لَا يُؤْمِنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. متفق عليه. (۱)

**ترجمه:** له ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې ويلې يې دى: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: په الله تعالى قسم دى چې مومن نه دى، په الله تعالى قسم دى چې مومن نه دى، په الله تعالى قسم دى چې مومن نه دى. ورته وويل شو: اى دالله تعالى رسوله! څوک؟ ويې فرمايل: هغه څوک چې د ده ګاونډى د ده له زيانونو څخه په امن نه وي.

۲- وَ عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. رواه مسلم(۲)

**ترجمه:** له حضرت انس رضى الله عنه څخه روايت دى چې ويلي يې دي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هغه څوک به جنت ته ننه نوځي چې د ده ګاونډى د ده له زيانونو څخه په امن نه وي.

۳- وَ عَنْ اَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ فُلَانَةً تُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَ صِيَامِهَا وَ صَدَقَتِهَا غَيْرَ أَنَّهَا تُؤْذِى جِيْرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِيَ فِى النَّارِ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ فَاِنَّ فُلَانَةً تُذْكَرُ قِلَّةُ صِيَامِهَا وَ صَدَقَتِهَا وَ صَلَوَاتِهَا وَ أَنَّهَا تُصَدِّقُ بِالْاَثْوَارِ مِنَ الْاَقْطِ وَ لَا تُؤْذِى بِلِسَانِهَا جِيْرَانَهَا؟ قَالَ هِيَ فِى الْجَنَّةِ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِىُّ.

رواه احمد والبيهقى(۳)

**ترجمه:** له ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې ويلي يې دي: يو سړي وويل: اى دالله تعالى رسوله! دفلانۍ ښځې په باره كې ويل كيږي چې ډير لمونځونه كوي، ډيرې روژې نيسي او ډير

۱- مشكوة ج۲ ص ۴۲۲ باب الشفقة والرحمة على الخلق

۲- صحيح مسلم كتاب الايمان حديث نمبر ۷۳

۳- مشكوة ج ۲ ص ۴۲۴ - ۴۲۵ باب الشفقة والرحمة على الخلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



*خیراتونه ورکوی، مگر په ژبه گاونډیانو ته ډیر زیانونه او تکلیفونه رسوی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه دوزخی ده او ددوزخ په اور کی به وی.*

*بیا هغه سړی وویل: ای د الله تعالی رسوله! دهغې فلانی ښځی په باره کی ویل کیږی چی ډیرې لږ نفلی روژی نیسی، او ډیر لږ خیراتونه ورکوی او ډیر لږ نفلی لمونځونه کوی او صرف د کورتوټو ټوټې خیرات ورکوی مگر په خپلې ژبی سره خپلو گاونډیانو ته زیان نه رسوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دغه ښځه جنتی ده او په جنت کی به وی. دا حدیث امام احمد بن حنبل په خپل مسند کی او بیهقی په شعب الایمان کی روایت کړی دی.*

نامتو محدث شیخ عبدالحق دهلوی (متوفی ۱۰۷۵ هـ کال) په خپله فارسی شرح اشعة اللمعات کی ددغه مبارک حدیث په شرح کی لیکلی دی:

بسبب ایذای همسایه ها کثرت نماز و روزه و تصدق با وجود آنکه افضل عبادات اند کفارت این گناه وی نخواهد شد و اما زن ثانی تقصیر وی در بسیار ینماز و روزه و تصدق دارد، ایذانا کردن همسایه ها را تلافی آن میکند.

**٤- عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ یَا رَسُولَ اللهِ اِنَّ لِی جَاراً یُؤْذِیْنِی فَقَالَ: انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَتَاعَكَ اِلَی الطَّرِیْقِ. فَانْطَلَقَ فَاَخْرَجَ مَتَاعَهُ فَاجْتَمَعَ النَّاسُ عَلَیْهِ فَقَالُوا مَاشَأْنُكَ؟ قَالَ: لِی جَارٌ یُؤْذِیْنِی فَجَعَلُوا یَقُولُونَ اللّٰهُمَّ الْعَنْهُ، اللّٰهُمَّ اخْزِهِ فَبَلَغَهُ فَقَالَ ارْجِعْ اِلَی مَنْزِلِكَ فَوَاللهِ لَا أُوْذِیْكَ.** (۱)

***ترجمه:*** *له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی ویلی دیې دی: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: أی د الله تعالی رسوله! زما یو گاونډی دی ما ته ډیر تکلیف رسوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:*

---

۱- اشعة اللمعات څلورم ټوک ۱۳۸-۱۳۹ مخونه دلکنهو چاپ سنه ۱۳۳۲ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه لاړ شه او د کور خپل ټول اسباب د کوڅې لارې ته اوباسه او په لاره کې يې وغوروه.

هغه سړي لاړ او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له هدايت سره سم يې د خپل کور ټول اسباب د کوڅې لارې ته وويستل او په لاره کې يې کوټه کړل، خلک پرې راټول او پرې راغونډ شول او ورته ويې ويل: ولې دې د خپل کور اسباب کوڅې ته راويستلي دي، څه چل دی؟ هغه سړي خلکو ته وويل: زما ګاونډی ما ته ډېر زيات تکليف رسوي، زه لاړم او پدې باره کې مې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ. راته ويې فرمايل: د خپل کور ټول اسباب لارې ته اوباسه. خلکو چې دا واورېدل نو ټولو وويل: يا الله! دده پر موذي ګاونډي لعنت وکړه. يا الله! دده ګاونډی وشرموه او رسوا يې کړه. دغه حالت دده ګاونډي ته ورسيده او ورڅخه خبر شو او په منډه دغه سړي ته راغی او ورته ويې ويل: اسباب دې بېرته خپل کور ته دننه کړه. په الله تعالی قسم درته کوم چې بيا به له دې وروسته زه تا ته تکليف ونه رسوم.

**۵- امام شعراني ويلي دي: وَ كَانَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ آذَى جَاراً فَقَدْ آذَانِي وَ مَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللّٰهَ وَ مَنْ حَارَبَ جَارَهُ فَقَدْ حَارَبَنِي وَ مَنْ حَارَبَنِي فَقَدْ حَارَبَ اللّٰهَ تَعَالَى.** (۱)

**ترجمه:** نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چاچې خپل ګاونډي ته تکليف ورساوه نو په تحقيق سره ما ته يې تکليف ورساوه او چاچې ما ته تکليف ورساوه نو په تحقيق سره الله تعالی ته يې تکليف ورساوه، او چاچې له خپل ګاونډي سره جنګ وکړ نو په تحقيق سره له ما سره يې جنګ وکړ او چاچې له ما سره جنګ وکړ نو په تحقيق سره له الله تعالی سره يې جنګ وکړ.

۱- الأدب المفرد ص ٤٢ حديث ١٢٤ باب شكاية الجار دلاهور چاپ مصنف امام بخاری متوفی ٣٥٦هـ سنن ابی داود، كتاب الادب باب فی حق الجوار ٧٠٧ مخ ١٤٠٧هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



*مطلب دا چې څوک له الله تعالی سره جنګ وکړي هغه کله مومن پاتې کېږي. د اسلام مقدس دين د سوله ئيز ژوند کولو له پاره دا هغه تعليم او روزنه ده چې په بل هيڅ دين او مسلک کې نشته او نه به پيدا شي.*

## د ايذا، او تکليف لنډ تفصيل:

په ذکر شويو نبوي احاديثو کې د بوائق لفظ راغلي دی چې د ګرامر له مخې جمع تکسيره ده او مفرد يې بائقة راد رومي چې په عربي ژبه کې د شر او تکليف په معنا سره دی. دغه راز د ايذا ء لفظ هم راغلی دی چې د تنګولو او يو چا ته د تکليف رسولو په معنا سره رادرومي.[1]

دغه راز د جار لفظ له مجاورة څخه دی چې د ګاونډي او همسايه په معنا سره دی او دا عام دی په دولتی کچه وي او که په اولسی کچه وي په دواړو صورتونو کې د اسې څه کول په اسلام کې حرام دي چې ګاونډي هيواد يا کورته تکليف رسوي او د هغوی ارام او سوله ئيز ژوند تهديد وي، په دولتی کچه د مثال په ډول ۱- عسکري خوځښتونه، ۲- عسکري تمرينات، له ټاکل شويو پولو څخه کله ناکله تيري کول، په ناحقه سرد ګاونډي هيواد ته جنګي ګواښ کول، د لوظ ناموماتول، د اړتياوړ شيانو منعه کول، يا په زورسره د ګاونډي هيواد حق غصب کول، يا چل او دوکه ورسره کول او داسې نور...

دغه راز په اولسی کچه د ګاونډي په لاره کې خځلي او ګندکې اچول، په کوڅه کې موتيازی کول، د ګاونډي کورته په ديوال ورکتل، د هغوی دور له چولي ورکتل، په هسک

---

۱- اشعة اللمعات څلورم ټوک ۱۳۸-۱۳۹ مخونه دلکنهو چاپ سنه ۱۳۳۲هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوازله اړتیا پرته خبرې کول، د ګاونډي له کور څخه غلا کول، د کوچنیانو ورته لمسول چې هغوی ته ستغې سپورې ووایې کنځل ورته وکړي، شور ماشور جوړ کړي، د ګاونډي چغلي

- کول، د هغه غیبت کول، هغه ته مالي تاوان رسول، د هغه د عقیدې او دیني شعائرو سپکاوی کول، مسخرې او ملنډې پورې کول، په ګاونډي پورې تهمتونه او تورونه لګول او داسې نور، ان تر دې چې په اسلام کې خو دا هم ناروا دي چې یو تن لمونځ کوي او بل یې په ځنګ کې په جګ اواز تلاوت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټولنیز عدالت

د ټولنیز عدالت تامین د اسلام د مبین دین د اصلاحي برنامو په پیل کې قرار لري. دا ځکه چې د قرآن کریم د مبارک آیت پر اساس اسلامي امت د ځمکې پر مخ له ګردو امتونو څخه غوره امت دی، او د پانګه والی له افراط او د کمونستی نظام له تفریط څخه خورا لرې دی. په دې هکله الله تعالی فرمایلي دي:

**«وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا.»**

(دبقره سوره ۱٤۳ -آیت)

**ترجمه:** *او همدارنګه مونږ تاسي وګرځولی منځومی تلونکی امت.*

یعنی اسلامي امت له غوره امتونو څخه ګڼلې شي او د اعتدال غوره کوونکی پیرو امت دی.

په اسلام کې ټولنیز عدالت خورا پراخه معنا لري او د ژوند ګردو اړخونو ته شامل دی او د بشري وګړو په منځ کې د دغه عدالت په نتیجه کې نسبي مساوات او برابري قائمیږي. څو ثروت د څو ګوتو په شمیر کسانو په منځ کې متمرکز نه شي؛ بلکې په نیاومنه توګه باید وویشلی شي. د صدقاتو، زکاة، عشر، مالیه او نور مالي مکلفیتونه د ټولنیز عدالت او د هر ډول توپیرونو د له منځه وړلو او مخنیوی په خاطر ټاکل شوي او فرض کړای شوي دي، د احتکار، سود، په ژوند کې له ناروا ګټو او اسراف څخه ممانعت او مخنیوی او د معاملاتو مشروعیت د ټولنیز عدالت د تامین په خاطر شوي دي.

د آزادۍ د رناوی، انساني کرامت ته په درنه کتل، د کار د حق تضمین تر هسکو درجاتو پوري د زده کړو عام والی، د معارف او طب په زده کړو کې توازن، له شرائطو سره سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهلیت او کفایت له په نظر کی نیولو سره هرچاته د کار او مسلک دانتخاب حق ورکول، داجباری کارونو تحریم دټولنیز عدالت ښکارندوی او څرګند دلیلونه او شواهد دی. دغه راز په محکمو کی دقاضیانو په وړاندې داسلام دټولنیز عدل داصل ددرناوی په خاطر مساوات په عملی توګه پلی کیږی او دعدالت په وړاندی مسلمان او غیر مسلمان یو شان برابر حقوق لری.[1]

د شیعه مذهب فقهاو هم د اسلامی عدالت په اړوند ډیر څه لیکلی دی چی دا دی زه یې د بیلګی په توګه نظریه په لنډیز سره وړاندی کوم:

په حقوق او اخلاقو کی عدالت د اسلام له خورا مهمو بنسټیونو څخه دی. له همدی کبله د اسلامی محققینو فقهاو او بیا په خاصه توګه شیعه فقهاؤ زیات ټینګار پرې کړی دی. ځکه چی پدی باره کی ډیر قرآنی آیاتونه اوزښت زیات احادیث مروی دی چی په هغوی کی په ټولنه کی د عدالت په پلی کولو په ډاګه حکم شوی دی.

د مسلمانو حقوق پوهانو له نظره د عدالت تعریف عبارت دی له «اعطاء کل ذی حق حقه» یعنی هر حقدار ته د هغه حق ورکول چی په همدی وجه په هر ځای کی چی حق موجود وی، عدالت هم هرو مرو هلته مطرح وی. او چیرته چی حق نه وی، عدالت هم وجود نه لری. او پردی باندی فلاسفه هم د اسلام ددی نظر تائید کوی چی عدالت د بشر له فطری حقوقو څخه دی. له همدی امله رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو مواردو کی له خپلو حقوقو څخه خلکو ته تیریده مګر د عدالت او قانون په تطبیق کی یې د هیچا پروانه کوله او نه یې د چا رعایت کاوه. او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په متابعت کی علی علیه السلام هم په خپله اووه دیرشمه (۳۷) خطبه کی فرمایلی دی:

---

۱- کشف الغمة دویم ټوک ۲۱٤ مخ، فصل فی ماجاء فی تاکید حق الجار، دمصر چاپ ۱۳۷۰هـ ۱۹۵۱م مصنف امام شعرانی مصری متوفی سنه ۱۰۱۲هـ ۱۶۳۵م

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اَلذَلِيْلُ عِنْدِي عَزِيْزٌ حَتّى آخُذَ اَلحَقَّ لَهُ وَالقَوِيُّ عِنْدِي ضَعِيْفٌ حَتّى آخُذَ اَلحَقَّ مِنْهُ.»[۱]
يعنې کمزوري زما په وړاندې عزتمن او پياوړي دي ترڅو زه دده حق ورته واخلم او پياوړي زما په وړاندې کمزوري دي ترڅو زه له ده څخه حق وترورم.

دغه راز علامه مجلسي په بحارالانوار کې له ابوسعيد خدري څخه روايت کړی دی چې هغه له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه د مهدي عليه السلام په اوصافو کې واوريدل چې ويې فرمايل:

«أبَشِّرُكُمْ بِالمَهْدِيِّ يُبْعَثُ فِي أُمَّتِي عَلى اخْتِلَافٍ مِنَ النَّاسِ وَ زَلَازِلَ يَمْلَأُ اَلأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَ جَوْرًا يَرْضى عَنْهُ سَاكِنُوا السَّمَاءِ وَ سَاكِنُوا اَلأَرْضِ يَقْسِمُ المَالَ صَحَاحاً. فَقَالَ رَجُلٌ: مَا صَحَاحاً؟ قَالَ بِالسَّوِيَّةِ بَيْنَ النَّاسِ.»[۲]

**ترجمه:** *زه تاسی ته پر مهدي زيري درکوم چې زما په امت کې به مبعوث کولی شي پداسې وخت کې چې د خلکو ترمنځ به اختلافات وي او زلزلې به ډيرې وي، مهدي به په خپل راتګ سره ځمکه له عدل او انصاف څخه داسې ډکه کړي لکه څومره چې دده له راتګ څخه دمخه له ظلم او تيري کولو څخه ډکه وي، خوشال به شي له ده څخه د آسمان او ځمکې اوسيدونکي. د خلکو ترمنځ به مالونه په سمه توګه وويشي، چا ورته وويل: صحاح څه معنا؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: صحاحا معنا دا ده چې په برابري سره به يې د خلکو په منځ کې وويشي...*

په اسلام کې د ژوند هيڅ داسې اړخ نه ميندل کيږي مګر دا چې په هغه کې د ټولنيز عدالت د تأمين خبره په نظر کې هرومرو نيولې شوې ده. اسلامي دولت دا دنده لري چې کله صدقات غونډ کړي نو پکار دي چې هغه په مشروع لارو چارو کې ولګوي. لکه چې د اسلام دويم خليفه د عراق د مفتوحه ځمکو په باره کې همدغه ډول چلن کړی و، او هغه يې

۱- المنجد ص ۵۵

۲- نظام القضاء في الشريعة الاسلامية ۷۵ مخ مصنف ډکتر عبدالکريم زيدان د مؤسسة الرسالة دويم چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاتحینو په منځ کې ونه ویشله او خلکو ته یې دا دلیل وړاندې کړ چې که چیرې دې دغه ځمکې تقسیم کړی نو د دولت مامورینو ته به تنخا څرنګ او له کومه ورکړی، لویې لارې او جادې به په څه شی او څرنګ جوړې کړي، روغتونونه او مدرسې به په څه شي جوړوی او • تولنیز عدالت به څرنګ تامینوی.

اسلام دخپلې ټولنې دوګړو ترمنځ ټولنیزې اړیکې پردوه بنسټونو عیاری کړی دی:

۱ – دمعنوی تړون او له یو بل سره دوروری احساس، چې خورا داسې کروړلی تړون دی چې دټولنې وګړی په خپل منځ کې سره نښلوی.

۲ – دحقوقو حفاظت، دیو بل دځان، مال او ناموس درناوی کول. نو هره هغه کړن لاره چې دغه اصل تر پښو لاندې کړی او یایې داغجنه کړی هغه داسلامی شریعت له نظره حرامه ده او تیری کوونکی یې تعقیب او مجازات کوی، او په عملی توګه داجتماعی عدالت داړخونو په تطبیق کې دحجرات دسورت له ۱۰ تر ۱۲ آیت پورې الله تعالی تفصیلی لارښودنه پکې کړی ده او داسې یې فرمایلی دی:

**«انَّمَا الْمُوْمِنُوْنَ اخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ * يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ وَ مَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ * يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ، اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ.»**

(دحجرات سورة – ۱۱ – ۱۲ آیاتونه ۲٦ سپاره ٤۹ سورت)

***ترجمه:*** *بیشکه چې مؤمنان ټول په دین کې سره ورونه دی، نو تاسې سوله او جوړښت کوی په منځ دورونو خپلو کې او له الله تعالی څخه وویریږئ او تقوی غوره کړئ ښائی چې درباندې رحم وکړی شی. ای مؤمنانو تیوکې او سپکاوی دې نه کوی هیڅ یو قوم له تاسې څخه په بل قوم باندې؛ ځکه*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*ښایي چې دغه مسخره کړی شوی به له مسخره کوونکیو څخه غوره وی دالله په نزد او نه دی ټوکې او مسخرې کوی د ښځو یو ټولی له تاسی څخه په نورو ښځو پوري ځکه ښایي مسخره کړی شوې ښځې دالله په نزد غوره وی له مسخره کوونکیو څخه، او مه عیب لټونه کوی ځینی د تاسی د ځینی نورو ځکه چې بیا د تاسی عیب جوئی هم کیږی. او مه بولئ تاسی یو تر بله په بدونومونو او القابو سره، بد دی دادری واړه خصلتونه: مسخری کول، تلمذکول او تنابز، دفاسقی له جهته له ایمان لرلو څخه وروسته، او هغه څوک چې توبه یې ونه ایستله نو دغه کسان همدوی ظالمان دی.*

*ای مؤمنانو! ځان وساتی تاسی له ډیرو بدګومانیو او تهمتونو لګولو څخه بیشکه ځینی بدګومانونه او تهمتونه ګناه ده. او مه لټوی تاسی پټ عیبونه د مسلمانانو او نه دې کوي غیبت ځینی ستاسی د ځینو نورو ایا خښوی تاسی دا چې د مړه شوی ورور غوښه و خوری پس بدګڼئ تاسی هغه نو همدرنګه بدوګڼئ د مسلمان ورو ړغیبت او عیب لټول. او تاسی له الله تعالی څخه وویریږی بیشکه الله تعالی ښه توبه قبلوونکی ډیر رحم والا دی.*

الله تعالی په لومړی یعنی یوولسم آیت کی ټول مسلمانان وروڼه سره ګڼلی دی څو د دینی ورورۍ او اخوت کروړلی ترون دوی په خپل منځ کی سره ونښلوی، او د دغه ګډون غوښتنه داده چې دوی په خپل منځ کی سره وروڼه او دوستان وی نه دا چې له یوبل څخه لرې والی غوره کړی، او دوی ته پکار دی چې له خپل منځي د ښمنی کولو څخه ډډه وکړی، سره یو شی او په یوصف کی وی، یو پر بل صله رحمي وکړی، خلکو ته د شوکی او قتل له پاره لاره ونه نیسی، د خلکو ترمنځ سوله او پخلاینه قائمه کړی.

یو د ډله په بلی ډلی ملنډې او پسخندونه کړی، د یوبل د عیبونو پلټنه ونه کړی، یو بل ته له ناوړه نومونو او القابو بللو څخه ډډه وکړی، د یوبل له جاسوسی کولو او د پټو عیبونو له جوتولو څخه پرهیز وکړی، د خلکو د عزت او ناموس درناوی وکړی، د هغو کافرانو ځان، مال او ناموس محترم وګڼی چې له اسلامی دولت سره یې د سولی ترون کړی وی.[۱]

۱- نهج البلاغه خطبه ۳۷، ص ۳۹، چاپ دوم تاریخ چاپ ۱۳۷۶، طبع انتشارات زرین، درامدی بر حقوق اسلامی، ص ۲۲۰-۲۳۱، تصنیف: سازمان تدوین کتب انسانی طبع بهمن قم ۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام غزالي رحمة الله علیه متوفی سنه ۵۰۵ هـ د تولنېز عدالت په هکله ځانګړی نظر لري.

او هغه د «أَنْ لَا تَطْغَوا فِي الْمِيزَانِ وَ أَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ» (دالرحمن سورة ۸-۹ ایاتونه ۲۷ سپاره ۵۵ سورت) په تفسیر کې داسي ویلي دي:

- ددې له پاره چې له اندازې څخه تیرنه شي نو تله او دهغې د تول وزن په عدل قائم کړئ، او هغه داچې که یو څوک واده کولو ته اړتیا لري، او دواده کولو وس هم لري مګر بیا هم واده ونه کړي، او یاداچې یو څوک غذا ددې له پاره وخوري چې ناروغ شي ترڅو کارونکړای شي، نو دغسې کول دوزن او دهغه عدالت نه قائمول دي پداسې ډول چې وزن له کمبوت او زیاتوالي څخه مستقر وګرځیږي. که څوک په شهوت او دغذايي موادو په لګښت کې اسراف وکړي نو دوزن په برابر ساتلو کې يې زیاتوالی کړی دی.

امام غزالي د تولنیز عدالت دزیات تحقق له پاره دالله تعالی مطلق مالکیت او ددولت نه زیرمه کول اصل او بنسټ ګرځولی دی او ویلي يې دي:

په زمکه او اسمانونو کې چې هر څه دي د ګردو مالک یوازې او یوازې یو الله دی، دا ځکه چې په خپله انسان هم دالله تعالی ملکیت دی، مګر انسان کولی شي چې دخپل کار کولو په ذریعه له هغه څه نه چې دالله تعالی ملکیت دی په استفاده کولو سره ځان ته مختص کړي. دمثال په ډول وکه په خپله نه شي کولی چې تولو خلکو ته میوه ورکړي، او دامنلی شوی حقیقت دی هغه څوک چې دوني تخم په ځمکه کې کیږدي، هغې ته بیا اوبه ورکوي او دمیوی ورکولو په تکل يې دهغې خدمت کړی وی نو له هر چا څخه زیات همدی ددی مستحق ګڼلی شي چې دهغې له میوې څخه استفاده وکړي.

انسان کله چې له اشیاو څخه استفاده کوي نو پرده باندی لازم دي چې په استعمال کې يې له اسراف کولو څخه ډډه وکړي، او له هر شي څخه دخپلې اړتیا او ضرورت په اندازه استفاده وکړي او دادامعنا نه لري چې بشري وګړي ثروت زیرمه کړي او له اړتیا څخه زیات له هغه څخه ګټه واخلي چې ترلاسه کړي يې دي او دهغو په زیرمه کولو او ثروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډولو اخته شي؛ بلکې پکار دا دي هغه څه چې له خپلې اړتیا اضافه مال ولري د الله تعالی په لاره کې د واجبو لګښتونو او مستحبو خیراتونو په بڼو کې په لګولو سره خلکو ته ورکړي.

غزالي زیاتوي:

له دې امله چې خلک د خپل راتلونکي په باره کې اندیښمن وي او له اندازې څخه زیات خپل شته له ځانو سره ساتي فقهاؤ د دې اجازه ورکړې ده، مګر د غه اجازه د دغه کار د حقانیت دلیل نه دی بلکې حق عدل دی، او عدل دا دی چې د الله تعالی بندګان د خپلې توښې او سورلۍ له اندازې څخه اضافه د الله تعالی له مال څخه وانخلي. له همدې کبله که چېرې څوک د خپلې اړتیا له اندازې څخه زیات مال ولري نو داسې شخص ظلم کړی دی او زیښناک کوونکی دی. (۱)

په دې توګه امام غزالي تکل کړی دی چې د ټولنیز عدالت تأمین د کمال د نګې څوکې ته ورسوي، او د هغه د غه پورتني نظر او رأیه قرآني استناد لري الله تعالی فرمایلي دي:

«وَ یَسْئَلُونَكَ مَاذَا یُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ» (دبقره سورت ۲۱۹ آیت دویمه سپاره ۲۷ رکوع)

**ترجمه:** *او دوی له تا څخه پوښتنه کوي ای پیغمبره چې دوی د الله تعالی په لاره کې خپل څومره مال ولګوي؟ دوی ته ووایه هغه چې ستاسې له حاجت څخه زیات وي.*

د دغه مبارک آیت په تفسیر کې مفسرینو ویلي دي:

زمونږ له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه خلکو داسې پوښتنې کړې وې چې د الله تعالی له پاره څومره مال صرف کړي شي؟ حکم وشو چې هغه مال د الله پاک په لاره کې صرف کړي چې ستاسې له مصارفو څخه زیات وي، ځکه څرنګ چې د اخرت فکر یو ضروري او حتمي کار دی، د دنیا فکر هم یو ضروري کار دی. (۲)

---

۱- بحار الانوار، ج ۵۱، ص ۹۲ نوی چاپ

۲- په اسلام کې حلال او حرام، مصنف: ډاکټر یوسف قرضاوي، مترجم ابوبکر حسن زاده له ۷۳ مخ څخه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام غزالي له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه مروي حديث نقل کړی دی چې فرمايلي يې دي:

**«اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ قُوْتَ آلِ مُحَمَّدٍ كَفَافاً.»** (۱)

**ژباړه:** *ای الله! د محمد صلى الله عليه وسلم د ټبر او کهول اقتصاد او روزي دا ړتيا د بس والي په اندول وګرځوه.*

په دغه حديث کې دا خبره په ډاګه څرګنده شوې ده چې په اسلام کې هر شي دا ړتيا په اندول او څه ناڅه لږ اضافه روا دي او پانګه والي او زيرمه کولو ته اجازه نه ورکوي. دغه راز له اړتيا څخه کم هم نه قبلوي، چې بې وزلي او موتازي ده، ځکه دغه دواړه صورتونه کولی شي انسان بې لارتيا ته راکاږي علامه عزبن عبدالسلام متوفي سنه ۷۹۲هـ ۱۴۱۵م ويلي دي:

د شريعت ټول احکام پر مصالحو او ګټو بناء دي، دا ځکه چې دغه احکام يا خود مفاسدو په غندنه او ردکولو کې دي او يا هم د ګټو په جلبولو کې دي. حافظ ابن القيم متوفي سنه ۷۵۱هـ ۱۳۷۴م ويلي دي:

د اسلامي شريعت بنسټ له حکمتونو او د بندګانو له مصالحو څخه جوړ شوی دی. دنيا او آخرت دواړه ورپکې دي، او ټول عدالت، انصاف، منفعت او حکمت دی. نو هره پيښه چې له عدالت څخه ظلم ته، له مهرباني څخه غصې ته، له حکمت څخه فساد ته او له مصلحت څخه چټياتو ته وغځولې شي. له اسلامي شريعت څخه نه ګڼلې کيږي، که څه هم تاويل پکې وکړای شي، د بندګانو په منځ کې الهي شريعت او عدالت د الله تعالى له پلوه د دوی له پاره مهرباني ده. (۲)

---

۱- نظريات اقتصادي امام غزالي. ترجمه مؤيد الدين محمد خوارزمي ۲۹ - ۳۰ مخونه د جمهوري خپرونو چاپ

۲- کابل تفسير لومړی ټوک ۱۷۳ مخ د مکي مکرمي چاپ پښتو نس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام او دبشر حقوق

حقوق دحق جمع ده او حق په لغت کی دباطل دضد او دیقین، عدالت، موجود والی، ثابت، نصیب، مال او ملک په معنا و سره هم راغلی دی.[۱]

انسان داسی عزتمند موجود دی، چی دځمکي پرمخ پرگردو موجوداتو حکومت کوی، او اللّه ده ته په وچه او سمندرونو کی دسرلوړی دنده ورکړی ده.

داسلام له نظره دغوره والی بنسټ او تادو تقوی گرځولی شوی دی او قرآن مجید دغه تقوی داسی انځوروی او فرمايي:

**«يَاأَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَّ أُنْثَى وَ جَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَ قَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَاللّهِ اَتْقَاكُمْ.»**

(دحجرات سورت ۱۳-آیت)

**ترجمه:** *ای خلکو! بیشکه مونږ تاسی پیدا کړی یاست له یوه نارینه او یوی ښځی څخه چی بابا آدم او بی بی حوا دی. او گرځولی یاست مونږ تاسی قومونه قومونه او ډیري قبیلی، ددی له پاره څو په خپل منځ کی سره وپیژنئ بیشکه غوره او عزتمند ستاسی دالله تعالی په نزد زیات تقوی لرونکی ستاسی دی.*

په دی اړه دقرآن مجید تفسیر: دغیبت، بدویلو، طعن او عیب لټونی سرچینه زیات کبر او ځان غوښتنه ده، ځکه کله چی کوم انسان خپل ځان لوی او نور سپک وگنی نو دغه ډول خبرو کولو ته اقدام کوی. له همدی کبله قرآن کریم داخبره مونږ ته رایادوی چی په حقیقت کی وړوکی او لوی، عزتمند او حقیر کیدل په کورنۍ او نسب پوري اړه نه لری؛ بیشکه یو

---

۱ – دامام غزالی اقتصادی نظریات ۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص چې هر څومره زيات پرهيزګار، نيک خويه او مؤدب وي، په هماغه اندازه د الله تعالی په نزد عزت مند او مکرم وي. د انسان حقيقت دا دی چې ګرد انسان د يو نارينه او يوې ښځې يعنی آدم او حواء اولاده ده. شيخ، سيد، مغل، افغان، صديقي، فاروقي، عثماني او انصاري او نور هر څوک چې وي، د دغو ګردو د نسب لړۍ په بابا آدم او حواء باندې ختميږي.

دغه بېلابېل بشري قومونه او کورنۍ الله تعالی يوازې د يو بل د پيژندګلوۍ په خاطر پيدا کړي دي. مګر الله تعالی د دوی له جملې څخه چې څوک عزتمند پيدا کړي هغه د ده موهوبي شرف وي، هغه ته نه ښايي چې وياړ او غوره والی پرې وکړي او هغه د فضيلت معيار وګرځوي، خپل ځان افضل او نور سپک وګڼي؛ بلکې ده ته ښايي چې د الله تعالی شکر او منته وکړي چې ماته يې زما له کسب او اختيار څخه پر ته ماته دغه نعمت عطاء کړ. او دا هم په شکر کې شميرل کيږي چې انسان له غرور او وياړ څخه لاس په سرشي، او دغه موهوبه نعمت په خپلو ناوړو او بدو خويونو سره ابته نه کړي. په هر حال د لوييې او عزت، فضيلت او شرف اصلي معيار نسب نه دی؛ بلکې تقوی او پاکي ده، نو پکار دا دی چې متقي بنيادم نور له خپل ځان څخه ټيټ و نه ګڼي.(۱)

امام بخاري روايت کړی دی چې يو ځل ابوذر او بلال چې دواړه له اولنيو سابقينو څخه وو يو بل ته سره په غصه شول او يو بل ته يې ستغې سپورې سره وکړې او د غصې په حالت کې ابوذر بلال ته وويل: ای د تورپوستې ښځې زويه. بلال رسول الله صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ. پيغمبر ابوذر ته وويل: آيا ته ده ته د ده د مور د تور والي پيغور ورکوې؟ په رښتيا هم ته هغه څوک او داسې سړی يې چې اوس هم په تا کې د جاهليت نښې لا پاتې دي.

---

۱ - کابلی تفسير دري د حجرات د ۱۳ - آيت د تفسير په اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه مروی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ده ته وفرمایل: خبردارشه چی ته له سورپوستی او تور پوستی څخه اوچت نه یې، مګر دا چی زیاته تقوی ولری. او بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسی ټول دیو آدم علیه السلام اولاد یاست او آدم علیه السلام له خاوری څخه پیدا کړی شوی دی.

اسلام پخپلو دغو قاطع او روښانه دساتیرو سره هیڅاته هم دا اجازه نه ورکوی او حرام یې ګڼی چی مسلمان دجاهلی تمایلاتو پر لاره او مسیر باند تګ وکړی او رهی شی، او پرخپل کهول، طائفه او نیکونو باندی ویاړ کول پرخلکو باندی وپلوري او وو ایي چی زه دفلانی زوی او دفلانۍ طائفی څخه یم او هغه فلانی له داسی طائفی څخه دی چی له ما څخه ښکته دی. او یا دا چی زه سپین یم او هاغه بل تور دی، او یا زه عرب یم او هاغه بل غیر عرب دی. ځکه چی دغه خبری کول دجاهلیت له خویونو او له اسلامی مساوات څخه خلاف دی. او ولی یوکس پربل په نسب او طائفه افتخار وکړی پداسی حال کی چی دټولو انسانانو اصل ایکی یو دی؟!!

همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «ستاسی کورنۍ او طائفه هیڅاته هم عـیب نه پیـدا کـوی، تاسی ټول دیو آدم اولاد یاست هیڅ یو له تاسی پر بل باندی فضیلت نه لری مګر په دین او تقوی سره.[۱]

او هم یې فرمایلی دی:

«خلک له آدم او حواء څخه پیدا شوی او دنیاته راغلی دی... دقیامت په ورځ کی الله تعالی ستاسی دشرافت او نسب پوښتنه نه درڅخه کوی دالله تعالی په نزد له ټولو څخه

---

۱ - المنجد ص ۱۳۹ پنځم چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات محترم ستاسي زيات تقوا لرونكي دي. » پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپله غصه او قهر په سختو، پريكړو او شرموونكو كليماتو كي دهغه چا له پاره څرګند او ښكاره كړ چي په خپلو پلرونو او نيكونو باندي وياړ كوي او ويې فرمايل: « هغه وګړي چي د خپلو پلرونو په توسه پرنوروباندي وياړ كوي او دهغوی پلرونه مړه شوي او اوس د جهنم سكاره ګرځيدلي دي، دوی ته پكار دي چي نور نو له دغه كار څخه لاس واخلي او كه نه نو دوی به له هغه غوباړي - ګونګټ څخه هم ناوړه وي چي په خپلي پوزي سره د غوشيانو غونډاري ګرداړي كشوي. الله تعالى له تاسي څخه، رنګ، خويونه او د جاهليت د زماني پرپلرونو اونيكونو ستاسي وياړ در څخه لري كړي دي، هر يو له تاسي څخه به يو له دغو دووحالاتو څخه هرو مرو لري: يا مسلمان پرهيزګار دي، او يا هم ګنهګار او ناسم، ټول خلک د آدم اولاد دي او آدم هم له خاوري څخه پيدا كړاي شوی دي.

دغه مبارک حديث نصيحت او پند هغو كسانو ته دي چي پر خپلو پخوانيو پلرونو او نيكونو له فرعونيانو د مصر او له اكاسره و، د ايران او نورو د جاهليت د دوره له عربو او عجمو څخه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم له قول سره سم د جهنم سكاره ګرځيدلي دي اوس هم وياړ پري كوي. هغوی ته پكار دي چي له دغه كار څخه لاس واخلي. په حجة الوداع كي په داسي حال كي چي د ذوالحجي په محترمه مياشت د مكي په محترم ښار كي د تشريق د ورځو په منځ كي په زرګونو مسلمانانو په خپلو حواسو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم الوداعي درخصتي خطبي او تقرير ته پاملرنه كوله. په دغه خطبه كي د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم له پلوه د هغو اسلامي بنسټيزو اصولو اعلانولو له جملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه یو هم دا و چې ویې فرمایل:

«ای خلکو! ستاسی معبود یو دی، عرب پر عجم او عجم پر عرب، سورپوستی پر تور پوستی او تور پوستی پر سور پوستی هیڅ فضیلت نه لری مګر په تقوی سره او د الله تعالی په وړاندې غوره له تاسی څخه زیات متقی ستاسی دی. (۱)

امیر المؤمنین ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خپل خلافت د شام امیر حضرت یزید بن معاویه رضی الله عنه ته یوه هدایت نامه ولیږله چې دوه دیرش مادی یې لرلی او په نهه ویشتمه ماده کی یې حکم ورته کړی وچې د جنګ په دوران کی د دښمن له مثله کولو څخه ډډه وکړی.» مثله کول د انسان د بدن د اندامونو جلا کولو، غوږونو او پوزې پرې کولو ته ویل کیږی چې په جنګ کی له وژلو څخه وروسته پر مقتول کولی شی، د اسلام مبین دین حکم کوی چې وژلی شوی دی په ځمکه کی دفن کړای شی، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «له مثله کولو څخه ډډه وکړئ که څه هم د لیونی سپی (?) وی.» او په دې هکله د اسلام په تاریخ کی ډیری ژوندی نمونی موجودې دي. (۲)

اسلام د انسانی کرامت د رعایت او د بشر حقوقوته د احترام په خاطر په جنګ کی چې ښځی او اتاریې هرو مرو پاتی کیږی تلپاتی هدایت او وصیتونه لری، چې د هغو له جملې څخه د دښمن د ښځو، ماشومانو، بوډاګانو، عبادت کوونکو، د جنګی تیپیانو، او د هغه چا چې وسله پر ځمکه کیږدی او یا د خپلو کورونو ورونه په ځان پسی بند کړی د دغو ټولو له وژلو څخه ممانعت کړی دی، او انسانی کرامت یې د هغوی په نظر کی نیولی دی.

۱- د بزاز په سند دا حدیث روایت شوی دی.

۲- ابن جریر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنبوت په ویاړلی عصر کی دانسانی کرامت رعایت او درناوی داسی پړاوته رسیدلی وچی دیهودی قبیلی بنو قریظه په غزوه کی چی دهجرت په پنځم کال کی واقع شوی وه، پدغه غزا کی دری کسان وژلی شوی وو، چی دیو وژلی شوی نوفل بن عبدالله بن مغیره مړی دمسلمانانو لاس ته ورغی او دښمنانو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وړاندیز وکړ چی ددوی دوژل شوی مړی جسد دوی ته دروپیو په اخیستلو سره دوی ته وسپاری. رسول الله صلی الله علیه وسلم دجسد خرخول رد کړل او ورته ویې فرمایل: مونږ مړی پلورونکی نه یو او دغه جسدته اړتیا نه لرو او نه یې دقیمت پرواگیریو او بیا یې دهغوی مړی ورته وسپاره.(۱)

یو ځل یوه جنازه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په مخه کی تیریدله په احترام کی یې پاڅیده، ورته وویل شو: ای دالله تعالی رسوله! دا جنازه خو دیو یهودی وه. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایا انسان نه دی؟»

پدی کی هیڅ شک نشته چی په اسلام کی هر انسان محترم دی او دغه احترام یې دده دانسانیت او شرافت په خاطر دی، او که چیری بیا اهل کتاب وی او بیا معاهد او اهل ذمه هم وی نو احترام یې بیاډیر زیات دی.

له دی څخه زیات احترام څرنگ وی چی دښمن دالله تعالی او دده درسول په مقابل کی توره وباسی، خو کله چی بیا همدغه دښمن ووژلی شی اسلام یې دمړی له مثله کولو او وندی کولو څخه ممانعت کوی. او یا داچی دیو یهودی جنازه دنبی کریم صلی الله علیه

۱- الحلال والحرام ۳۰۸ - ۳۱۰ مخونه، مصنف ډاکتر یوسف قرضاوی، فارسی ترجمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلم په مخه کې تیریږی او دی یې دانسانیت دمقام داحترام په خاطر ورته پاڅیږی او فرمایې چې: زه ده ته دانسانیت دمقام داحترام په خاطر پاڅیدم. انسان داسې یو موجود دی چې باید توهین او سپکاوی یې ونه کړای شی، او بی لامله زیان او تکلیف ورنه کړای شی.

داسلام دویم خلیفه یو یهودی سړی ولید چې درویزه کوی. خلیفه له یهودی څخه ددرویزی کولو سبب پوښتی، یهودی ورته وایې: جزیه راباندی حواله شوی ده. خلیفه هغه له لاسه ونیو او بیت المال ته یې بوته او پر هغه باندی چې کومه جزیه حواله وه هغه یې ورڅخه ساقطه کړه او ویې ویل: دا به انصاف نه وی چې دده له ځوانی څخه مو ګټه واخیسته او اوس چې زوړ شوی دی همداسی یې پر خپل حالت پریږدو، تر دی چې هغه یهودی ته یې له بیت المال څخه دهغه تر مرګه ځیره مقرره کړه.

داسلام دویم خلیفه دا خبره درک کړی وه چې درویزه کول دانسان دسپکاوی او ذلت سبب ده او له انسانی کرامت سره منافی ده.

همدا اوس دګردو اسلامی او غیر اسلامی هیوادونو که سوسیالستی دی او که کپیتالستی ددوی سیاسی قوانین او هم دبشر دحقوقو په اړوند جاری شوی اعلامیه چې په ځانګړو بابونو او فصلونو کی دمتعددو موادو په غونډولو چې یکی ځای په ځای شوی دی. چې که چیری ددغه منشور سریزه او دبشر دحقوقو دیرش مادی په دقیقه توګه وکتلی شی نو دانتیجه به ورڅخه واخلو په هغه صورت کی چې که پدغه اعلامیه کی داسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحقوقو په اړوند تعدیلات او تجدید نظر وکړای شي نو د دغه منشور په ډیرو مادو کې داسلام له مقدسو تعلمیاتو څخه اخذ شوي دي، دا ځکه چې دبشر دحقوقو احترام او رعایت داسلام دمبین دین دبرنامو په پیل کې واقع دي. وللّه الحمد اولاً وآخراً.

## په اسلام کې مدني او اقتصادي حقوق

مدني حقوق دهغو قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دي چې دمعاملې ددواړو خواو ترمنځ مالي مناسبات قائموي او ددواړو خواو ترمنځ دمالي روابطو دقائمولو له پاره ددرې عناصرو او یا ارکانو موجودیت ضروري وي او هغه ارکان دا دي:

**لومړی رکن:** دمالي او نغدي معاملې دواړه خواوې.

**دویم رکن:** پر کوم شي باندې چې معامله صورت مومي.

**دریم رکن:** دهغو احکامو او مقرراتو نچوړ چې دغه اړیکې تنظیم او ددغو احکامو په رڼا کې چې معامله صورت مومي، داسلام دمقدس دین له نظره کورنۍ حقوق دشریعت دځانګړو قواعدو تابع دي چې په اوسني عربي اصطلاح کې داحوال شخصیه دقوانینو په نوم یادیږي. [۱]

کورنۍ قانون په زیاتو حالاتو کې پخپله پر شرعي نصوصو متکي وي او ډیر لږ په هغو کې اجتهاد ته ضرورت لیدل کیږي، اویا په بل عبارت په اسلام کې دکورنۍ نظام دقانون نصوص له محکماتو څخه دي او هیڅ ډول تاویل او تفسیر نه قبولي. دمثال په توګه لکه میراث، طلاق او نکاح. داځکه چې کورنۍ قانون همدغه معنا افاده کوي، چې هغه له میراث، نکاح او له طلاق او هغو احکامو څخه عبارت دي چې په دوی پورې مربوط وي او

۱ – مبادی القانون جزء اول ۱۰۰-۱-۱۰۱ مخونه، مصنف ډاکتر عبدالرحمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره دامعنا نه ورکوي چې کورنی نظام د شريعت له نورو فقهي احکامو څخه مستفيد نه دی؛ بلکې د کورنی نظام گرد مدني، جزائي، حقوقي او نور د دنيا په ژوند پوري لمور د اسلام د مبين دين د شرع تابع دی. او د هغه له چوکاټ څخه وتلی نه شي. مگر له دې کبله چې د کورنۍ قانون پر محکمو نصوصو متکی دی او اجتهاد ډير لږ پکې ليدلی شي له ځانگړې ارزښت څخه برخمن دی.

مدني قانون د داخلي قانون برخه ده او که چيرې له يو داسې چا سره مدني دعوی منځته راشي چې هغه خارجي تبعه وي او دواړه د خپلې خپلې هستوگنې له محل څخه بهر وي نو په دغه صورت کې خبره بين المللي خصوصي قانون ته راجع کيږي، او که چيرې د دوه دولتونو ترمنځ دعوی پيښه شي بيا نو بايد د دوی دلانجې دغوڅولو له پاره د بين الدول عمومي قانون په نظر کې ونيولی شي. د مدني قوانينو د تطور او انکشاف په مرحله کې د ټولنيز عدالت د تامين په خاطر د کار قانون منځته راغی او د هغه اهميت له کبله چې دغه قانون يې لری په ځانگړې بڼه کې تنظيم کړای شو او د کار، کارگر او کافرما ترمنځ يې اړيکې قائمې کړې، او دا کوښښ يې وکړ چې کارگرانو او د هغوی کورنيو ته د هوسايني او سوکالي اسباب تهيه او رامنځته کړي.

دغه راز نور قوانين هم تدوين او د تطبيق په مرحله کې کيوتل. د مثال په ډول لکه د کرهنې قوانين چې د ځمکې د څښتن او اجاره نيونکي ترمنځ اړيکې قائموي، چې له همدې امله په مدني قانون کې ځينې سمون او تعديلات منځته راغلل، او د اسلوبو او مقاصدو په اړخونو کې د نظرنوی والی پکې راوستی شو. مگر مدني قانون د اصل او بنسټ په توگه يا د عمومي قانون په صفت د نورو برخو له پاره يې خپل مرکزيت حفظ کړ او بيا په خاصه توگه د مال د کسب د لیارو په تعريفاتو او تقسيماتو کې، او هم د حق په استعمال کې او هغه احکام چې حق پرې مرتب کيږي. سربيره پردی که چيرې په کوم حکم کې قوانين چپ پاتې کيږي نو پکار دی چې د هغه په هکله مدني قانون ته مراجعه وشي، او په هغه قضيه کې تطبيق کړای شي چې تر بحث لاندې وي. (۱)

---

۱ - تهذيب سيرة ابن هشام ۱٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ وينو چې دغه قوانين په وروستی نيمه پيړۍ کې داجراء مرحلې ته ننوځي او نوی والی لري او زياتره مادې يې له اسلامي فقهي څخه الهام اخيستلې دي، دا ځکه چې اسلامي فقه دکار، کارگر او کارفرما، دځمکې دڅښتن او اجاره کوونکي تر منځ داړيکو په تينگولو کې دڅوارلسو پيړيو لرغون والی او وړاندي والی لري ځکه چې پر اندلس اوسنی هسپانيه، منځنۍ آسيا، دهند په شبه قاره او داروپا په لويه برخه يې حکومت کاوه. لکه چې دکتور عبدالرزاق سنهوري رحمه الله په دې باره کې په پرتليز يعنې مقايسوي ډول په شپږ ټوکه کې کتاب ليکلی دی او مصادرالحق نوم يې پرې کيښودلی دی، او په هره موضوع کې يې غير اسلامي قانون له اسلامي قانون سره مقايسه کړې دی او داسلامي فقهي حقانيت يې هم دزماني وړاندي والي په لحاظ او هم دذاتي اصالت له نظره ثابت کړی او پر خپل ځان يې متکي گڼلې دی او دگردونږيوالو قوانينو اصل او مصدر يې گڼلې دی.

په اسلامي فقه يعنې قانون دښه پوهيدلو په تکل يو لړ زيات کوښښونه وشول او نوی اصطلاحات ورته وضع کړای شول او بيا دغه اصطلاحات چې خلکو ورځنی اړتياوی ورته لري په تفصيلي توگه بيان شوی دی چې دلته په لنډه توگه دهغوی يوې برخې ته يې په ساده او اسان ډول اشاره کولی شي.

## ځينې فقهي اصطلاحات:

**۱- ولايت:** دا يوه فقهي اصطلاح ده چې پلار، نيکه، غورنيکه پرماشوم باندې ولايت يعنې واکمنې لري او دکوچنی په نمايندگي دهغه په مال کې دشريعت له احکامو سره سمه نمايندگي کوی پدې باره کې دې دافغانستان دمدني قانون دوه څلويښتمه ۴۲ ماده وکتلې شي.

**۲- قواميت:** دپالني په معنا سره ده او هغه داسې چې دمحکمې له اړخه يو شخص دليونيانو دمال دسرپرستی له پاره ټاکلی کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- حجر:** دمحرومتیا او له تصرف څخه دمنع په معنا سره ده لکه مفلس پوروړی چې شته یې پورنه پوره کوي، دغه راز دماشوم په مال کې له تصرف څخه منع کول.

**٤- اذن:** داجازې په معنا سره او په اصطلاح کې ولي یا وصي چې له اووکلونو څخه دزیات عمر ماشوم ته دمعاملې کولو اجازه ورکړي. په دې باره کې دافغانستان دمدني قانون دوه پنځوسمه ۵۲ ماده وکتلی شي چې د ۱۳۵۵ هـ ش کال دمرغومي په پنځلسمه نیټه نافذ شوی و.

**۵- غیابت:** چې دیو غیر موجود شخص دمال دسرپرستۍ له پاره یو څوک وکیل مقرر شي.

اقتصادي حقوق:

داقتصادي هلوځلو دارزښت په هکله امام غزالي رحمه الله متوفی سنه ۵۰۵ هـ دخپل کتاب په پیل کې دقرآن کریم څو آیاتونه ذکر کړي دي او دا هغه آیاتونه دي چې په هغو کې الله تعالی بنیادم اقتصادي هلوځلو کولو ته هڅولی دی او پر ده یې احسان کړی دی چې ورغ یې دده داقتصادي فعالیت له پاره ټاکلې ده. او په بل آیت کې الله تعالی اقتصاد ته نعمت ویلی دی، او دده دشکرکولو غوښتنه یې کړې ده. او په بل ایت کې یې دا اجازه ورکړې ده چې حتی دحج په سفر کې هم کولی شي اقتصادي کاروبار وکړي. او په بل آیت کې یې مسلمانانو ته حکم کړی دی چې په بین المللي اقتصاد او اقتصادي فعالیت لاس پورې کړي او روزي لاس ته راوړي.

بیا له دې څخه وروسته امام غزالي هغه احادیث او روایات ذکر کړي دي چې داقتصادي فعالیتونو داهمیت په باره کې راغلي دي او ویلي یې دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دګناهونو یوه برخه دهغو فکرونو جزء ګرځوي چې دمعیشت په لټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي.
او فرمايلي يې دي: هغه سوداګران چې په راکړه ورکړه کې سم چلن کوي له صادقينو او شهيدانو سره به محشور شي. امام غزالي په خپل کتاب کې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه يوه قصه نقل کړي ده چې يوه ورځ له خپلو صحابه کرامو سره ناست و چې يو پياوړی ځوان يې وليد چې په اقتصادي کار اخته دی. د رسول الله صلی الله عليه وسلم ځينې يارانو د هغه ځوان په باره کې وويل: که چيرې د غه ځوان خپله ځواني د الله تعالی په عبادت کې مصرف کړې وای نو له اقتصادي فعاليت څخه به ورته غوره وای. نبي کريم صلی الله عليه وسلم دغو يارانو ته وفرمايل: داسې مه وایاست ځکه چې که دغه ځوان د دې له پاره کار کوي چې د نورو له احتياج څخه نجات ومومئ ياد دی له پاره کارکوي چې خپل ضعيف مور او پلار د اولاد او ټبر خپل اقتصادي ژوند تامين کړي، دا هم يو ډول د الله تعالی په لاره کې عبادت ګڼل کيږي، او که چيرې دی د دې له پاره دولت غونډوي چې شتمن شي او پرنورو باندې مالي لوړتيا ترلاسه کړي نو بيا د شيطان په لاره درومي.
امام غزالي د اياتونو او احاديثو له ذکر کولو څخه وروسته د اقتصادي هلو ځلو د ارزښت په باره کې د بزرګانو لکه لقمان، سلمان او نورو نظريات هم ذکر کړي دي او ويلي يې دي: که چيرې زه تا د معيشت په لټه کې وينم نو دا له دې څخه غوره ګڼم چې د جومات په کونج کې کښيني. (۱)
طاهر بن حسن خپل زوی عبدالله ته وصيت نامه وليکله چې د هغې په دريم بند کې يې د اعتدال او نيک ګومان کولو تر عنوان لاندې داسې ويلي دي:
پدې ښه پوه شه چې په ژوندون کې اعتدال او اقتصاد لرل عزت پيدا کوي او د ګناهونو د ارتکاب په مقابل کې محکم حجاب دی، او ته نه شې کولای چې د خپل نفس ژغورنه

---

۱- مبادئ القانون ۱۰۰-۱۰۱-۱۰۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکولی شي او خپل مقام وساتلی شي او ستا تولی چاري په سمه لاره برابري شي مگر داعتدال او اقتصاد تر سیوري لاندي. نو له همدي کبله ته په هر څه کي اعتدال کوه څو ستا تولی چاري په ښه توگه ترسره شي، قوت به دي زیات شي او ستا درعیت عام او خاص به اصلاح شي، او دالله تعالی په باره کي باید ستا گومان نیک وي څو ستا رعیت هم په سمه لاره رهي شي. اعتدال خپل خوي وگرځوه او کوښښ کوه چي اعتدال ستا دژوند په تولو چارو کي ستا لاربنود وي څو پر تا باندي دالله تعالی نعمتونه تداوم ومومي.[۱]

دنوموړي دغه وصیت قرآني استناد لري، ځکه چي الله تعالی په تول ژوند کي او بیا په خاصه توگه په خوراک څښاک کي اسراف غندلی دی، داعتدال او اقتصاد يې امر او توصیه فرمایلی ده.

لکه فرمایلی يې دی: **«كُلُوا وَاشْرَبُوا وَ لَا تُسْرِفُوا اِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ».**

(سوره اعراف آیت ۳۱)

**ترجمه:** *او خوري او څښي او اسراف مه کوئ تاسي، بیشکه چي الله تعالی مسرفان نه خوښوي.*

په مال کي اسراف هغه وخت تحقق مومي چي په حرامو چارو او شیانو کي لکه شراب، جواري، نشه يې څیزونه دسروزرو او سپینو زرو دظرفونو پر اخیستلو ولگولی شي. په حرام کار کي دمال لگول لږ وي او که ډیر اسراف گڼلی شي. دغه راز دمال او دولت ضائع کول که دځان له پاره وي او که دبل له پاره وي اسراف دی. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم دمال له ابته کولو څخه ممانعت کړی دی. پداسي امورو کي زیات لگښت کول چي ضرورت ورته نه وي او دمال څښتن ته چندان گټه هم نه لري اسراف دی. یعني هغه څه چي الله تعالی داغوستلو، څښلو او خوړلو له پاره عطاء کړی دی له هغو څخه گټه واخلئ خو پدي شرط چي اسراف ورپکی نه وي. داسراف معنا په یو شي کي له حد څخه تیریدل دی.

---

۱ - المدخل الی قیادة الاسلامیه ۲٤۷ مخ مصنف: شیخ ابو برهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا په څو ډوله دي: دمثال په ډول حلال حرام گرځول، حلال پرېښودل او له حرامو څخه گټه أخيستل، چټي او حريصانه او له توپير څخه پرته هر شي خوړل، له اشتهاء پرته خوراک کول، بې وخته خوړل، يا دومره لږ خوړل چې دجسماني روغتيا او دکارکولو دقوت له پاره بس والي نه کوي، يا داسې شي خوړل چې روغتيا ته زيانمن وي او داسې نور... داسراف دکليمې اطلاق او حکم پر دغو ټولو چارو باندې کولی شي. بې ځايه لگښت له دغو څخه يو توک دی. ځينې سلفو ددغه مبارک آيت دعمومي گټورتيا په باره کې ويلي دي: جمع الله الطب کله في نصف آية» يعنی الله تعالی دطب گرد علم ددغه آيت په نيمه برخه کې بيان او جمع کړی دی.

په اسلامي امت کې په اقتصادي علومو کې ستر متخصصين پوهان: فارابي متوفی سنه ۳۳۹هـ ۹۵۰م ابن مسکويه متوفی سنه ۴۲۱هـ ابن سينا متوفی ۴۲۸هـ ۱۰۳۷م، امام فخر رازي متوفی سنه ۶۰۶هـ ۱۲۰۹م، امام غزالي متوفی ۵۰۵هـ ۱۱۱۱م او خواجه نصير الدين طوسي متوفی سنه ۶۷۲هـ ښودلي شوي دي.

اقتصاد د هر مسلمان په ژوند کې دعزت او شرف سبب او وسيله ده، امام رازي په خپل تفسير کې دبقرې دسورت ددوه سوه نولسم ۲۱۹-آيت: ويسئلونک ماذا ينفقون قل العفوط» ترجمه: او دوی له تا څخه پوښتنه کوي چې دوی له خپل مال څخه دالله په لاره کې څومره نفقه کړي؟ ورته ووايه هغه چې ستا له ضرورت څخه اضافه وي. په تفسير کې ويلي دي:

الله تعالی په دغه مبارک آيت کې خلکو ته تعليم ورکړی دی او دنفقې په باره کې يې ښودنه ورته کړې ده او خپل پيغمبر ته يې فرمايلي دي:

**«وَ اٰتِ ذَا الْقُرْبٰی حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَ ابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ، اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْا اِخْوَانَ الشَّيَاطِيْنِ وَ كَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا»** (داسراء سورت ۲۶-۲۷ اياتونه، ۱۵ سپاره، ۱۷ سورت)

***ترجمه:*** *او ورکوه اې بنده! خاوند دخپلوی ته حق دهغه او مسکين بې وزلي ته او لاروی مسافر ته د*

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه حق ورکوه او اسراف مه کوه! په اسراف کولو سره بیشکه چې اسراف کوونکي دي دوی ورونه دشیطان.

او بیا یې یو آیت وروسته ورپسې فرمایلي دي:

**«وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوماً مَّحْسُوراً»**

(داسراء سورت ۲۹ - آیت ۱۵ سپاره - ۱۷ سورت)

*ترجمه: او مه نیسه لاس خپل تړلی شوی تر غاړې د تا پورې یعنې شومتیا مه کوه او مه یې غځوه په بیخي غځولو سره نو کښېنې به ته ملامت کړی شوی بې ماله پښېمانه شوی. یعنې اسراف مه کوه.*

همدارنګه الله تعالی د مسلمانانو ستاینه کړې او داسې یې فرمایلي دي:

**«وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا»**

(الفرقان سورت ٦٧ - آیت ۱۹ سپاره ۲۵ سورت)

*ترجمه: او د رحمن الله بندګان هغه کسان دي کله چې نفقه یعنې لګښت کوي د مال خپل نو نه اسراف کوي او نه تنګي شومتیا او وي د غه ورکړه د دوی په منځ د اسراف او تقصیر کې میانه حاله.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کله چې تاسې څه لرئ نو لومړی پخپله استفاده ورڅخه وکړئ بیا وروسته د خپلې پالنې لاندې وګړو، کهول او نژدې خپلوانو ته یې ورکړئ او په همدغه ترتیب سره هغه ولګوئ. (۱)

د غه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

بهترینه ورکړه او بخشش هغه دي چې د انسان د هغه له ورکړې وروسته بې حاجته پاتې شي. (۲)

له جابر بن عتبه رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چې ویلي یې دي:

---

۱ - المدخل الی قیادة الاسلامیه ۲٤۹ مخ

۲ - الحلال و الحرام، یوسف قرضاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چی ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کاوه یو سړی راغی او نبی صلی الله علیه وسلم ته یې د چرگی د هگۍ په اندازه سره زر راوړل او ویې ویل: ای د الله تعالی رسوله! دغه د صدقی په توگه له ما څخه قبوله کړه، په الله می دې قسم وی چی له دی څخه پرته نور هیڅ نه لرم. پیغمبر صلی الله علیه وسلم مخ ور څخه وگرځاوه، هغه سړی بیا مخې ته ورغی او په ټینگار سره یې ورته وویل: ای د الله رسوله! دا را څخه قبوله کړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ور څخه واخیست او داسی یې ایسته گوزار کړ چی که دی پرې لگیدلی وای نو ارومرو به یې خوږ کړی وای او بیا یې وفرمایل:

« له تاسی څخه یو شخص خپل ټول ما راوړی او خپل ځان ته هیڅ هم پری نږدی او بیا ناست وی له خلکو څخه مرسته غواړی. تاسی باید پوه شی چی بخشش او احسان پکار دی چی په غنا سره وکړای شی. دا خپل راوړی سره زر او چت کړه زه اړتیا ورته نه لرم. (۱)

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی دی چی د یو کال دا ذوقی زیرمه کولو اجازه یې کړی ده. حکما وویلی دی: له اړتیا څخه زیات هغه دی چی له افراط او تفریط څخه خالی وی، زیات بخشش کول اسراف او تبذیر دی، او لږ بخشش کول شومتیا او امساک، مگر منځومی حالت، رعایت، عدالت او فضیلت دی. او د الله تعالی د دی فرمان چی قل العفو مقصد هم همدغه حد وسط رعایت کول دی. د اسلامی شریعت مدار د دغه چلن په رعایت مبنی، او د یهودو د شریعت اساس او بنسټ پر سختی کولو او عدم بخشش کیښودل شوی دی، او د مسیح د شریعت تادو پر اسانتیاده او د اسلام د مبین دین پر منځومی حالت او اعتدال بناء دی.

د شیعه مذهب فقهاو او څیړونکو په اسلام کی د اقتصادی حق د ثبوت په باره کی تفصیلی لیکنی کړی دی چی یوه بیلگه یې دلته وړاندی کوم:

۱ - تفسیر معالم التنزیل ٦ ټوک ٥١ مخ مصنف امام رازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام کې د حقوقو د آزادي له جملې څخه يوه هم د اقتصادي آزادي حق دی. پدې معنا چې وګړي ټول د ځان له پاره د کار په انتخابولو د هستوګنې او مسکن په ټاکلو کې، د دولت او پنګې په لاس ته راوړلو او د هغې په لګښت کې آزاد دي. له همدې امله اسلام هيچا ته هم اجازه نه ورکوي چې د چا د اقتصادي ګټو او کار مزاحم شي او يا يې د داسې کار په کولو وګوماري چې دی له هغه څخه کرکه کوي، او په زړه کې مينه ورسره نه لري. او نه دا حق لري چې د چا په شتو او ګټلي مال کې د ځان له پاره ټاکلې ونډه مقرر کړي، او يا پر لګښت کې بنديز پرې ولګوي: مګر هغه چې اسلام پرې باندې مقرر کړې وي.
ګردو، وګړو ته د ښارو ځمکو په آبادولو کې اجازه ورکول، له انفالو او معادنو څخه د هرچا ګټه اخيستل په ډاګه ددې خبرې څرګند دليل دی چې اسلام هرچا ته اقتصادي آزادي ورکړې ده. مګر دغه آزادي له هغو ضوابطو او مقرراتو سره هيڅ منافات نه لري چې اسلام په اقتصادي ډګر کې د ګډوډۍ او هرج و مرج د مخنيوي په خاطر وضع کړي دي. او پدې هکله د پاملرنې وړ خبره دا ده چې په اقتصادي آزادي کې په اسلامي کې د نارينه او ښځې په منځ کې هيڅ توپير نشته بلکې ښځې هم په هماغه ډول په اقتصادي ډګر کې د مالکيت له ګردو حقوقو څخه په بشپړه آزادي سره ګټه اخيستلې شي، او د دوی ميړونه د دوی له اجازې څخه پرته د تصرف هيڅ حق نه لري او ښځه د خپل مال که د مهر وي که د وراثت وي او که په سوداګرۍ يې ګټلي وي په زيرمه کولو او لګولو کې بشپړه شرعي آزادي لري. پداسې حال کې چې په نورو اديانو کې يا خو ښځه بيخي له دغه حق څخه محرومه ده او يا هم محدوده آزادي ورته ورکړای شوې ده.
دغه راز د اسلام په حقوقي مکتب کې د کسب او کار کولو آزادي په رسميت پيژندلې شوې ده. هر څوک کولی شي په آزاده توګه ځان ته د خپلې خوښې کار او کسب وټاکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مشروع لارو چارو څخه خپلې اقتصادي اړتیاوې پوره او تأمین کړي، او هر کسب او کار چې اسلام ورته روا کړی دی کولی يې شي پرته له داسې چارو څخه چې ټا خو په ډاګه سره ټولنې ته زیانمن وي او یا په اسلام کې د هغه کول ممنوع وي.[۱]

## نتیجه

د قرآن مجید له هدایاتو او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم له احادیثو او د سلفو علماو او د اسلامي اقتصاد پوهانو له نظریاتو څخه دا خبره څرګندیږي چې د اسلام هدف اقتصاد او اعتدال دی او اسلام شومتیا، امساک او ددې ضد اسراف دژوند په ټولو چارو کې مردود ګڼلی دی، او پر داسې اقتصاد باندې ټینګار کوي چې په خپله د عدالت او اعتدال پر معنا دی.

# دانتقام په پرتله عفوه

### کوم خوند چې په ښښنه کې ده په انتقام کې نشته

عفو عربي کلیمه ده چې په لغت کې له ګناه څخه د تیریدلو او له مجازات څخه صرف نظر کولو په معنا دی. او د ښښنې په معنا هم راغلې ده.[۲]

د عفوې اصطلاحي معنا: د عفوې لغوي او اصطلاحي معناوې په خپل منځ کې تداخل سره لري. فرهنګ عمید د عفوې په لغوي او اصطلاحي معناوو کې پورتنۍ تعریف ته ورته

۱- د امام مسلم په روایت

۲- د طبراني، ابوداود او حاکم په روایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف کړی دی.

دقرآن مجید او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تلپاتی تعالیمو او د نیکو سلفو له کړنچاری او چلن څخه په ډاګه څرګندیږی چی د اسلام مبین دین بښنه له بدل اخیستلو څخه غوره ګڼلی ده او له تیریدنی او بښنی څخه په متعددو حالاتو کی استفاده شوی ده، که چیری داړتیا او مصلحت پر اساس کله ناکله انتقام أخیستلی شوی وی هغه عمومی جنبه نه لری په حدیث کی راغلی دی:

ترخومره چی کولی شئ د حدودو اجراء له مسلمانانو څخه وژغوری؛ ځکه د دې پرځای چی امام المسلمین او امیرالمؤمنین په سزاورکولو کی خطائی وکړی دا غوره ده چی په عفو کولو کی خطائی وکړي.

امام غزالی پدی اړوند ویلی دی: که چیری ګناه کوونکی بښنل کیږی پروانه لری مګر مهمه داده چی بی ګناه په ناحقه مجازات شی، یعنی سزاورکړای شی. په هر صورت له قرآنی ایاتونو، نبوی سنتو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کړنو څخه دا په ډاګه څرګندیږی چی عفو پر انتقام مقدمه ده چی دادی څو آیاتونه دنمونی په ډول دلته له قرآن مجید څخه راوړلی شی:

- «فَتَلَقَّى آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ.»

(دبقری سورت ۳۷ آیت - لومړی سپاره)

**ترجمه:** *پس زده کړی آدم له پروردګار خپل څو کلیمی پس رجوع وکړه الله تعالی پر هغه باندی په رحمت خپل سره.*

او فرمایلی یې دی:

- «ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ.»

(دبقری سوره ۲۵ آیت - لومړی سپاره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه:** بیا عفو وکړه مونږ له تاسي څخه وروسته د خوسي له دغه عبادت کولو څخه د پاره ددي چي تاسي شکر وکړئ.

او فرمايلي يې دي:

- «فَاعْفُوا وَ اصْفَحُوا حَتى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ.»

(دبقري سورة - ۱۰۹ آيت - لومړی سپاره)

**ترجمه:** پس عفوه وکړی دوی ته او مخ تری وګرځوئ ترهغه پوری چي راولیږی الله تعالی امر خپل، په جهاد یا په جزیه اخیستلو له دوی څخه.

او فرمايلي يې دي:

- «فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَ عَفَا عَنْكُمْ.»

(بقره ۱۸۷ آيت - دويمه سپاره)

**ترجمه:** پس رجوع يې په رحمت سره وکړه پر تاسي باندي او عفوه يې وکړه له تاسي څخه.

او فرمايلي يې دي:

- «وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَ الْعَافِينَ عَنَ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ.»

(د آل عمران سوره - ۱۳٤ آيت - ٤ سپاره)

**ترجمه:** او چي ځغمونکی د قهر دی سره له قدرته او عفوه کوونکی دی. له خلقو چي زیاتی او ظلم پری وکړی او الله خوښوی نیکی کوونکی.

او فرمايلي يې دي:

- «وَ لَقَدْ عَفَا عَنْهُمْ.»

(د آل عمران سورة - ۱۵۵ آيت - ٤ سپاره)

**ترجمه:** او خامخا په تحقیق عفوه کړی ده الله له دوی نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فرمایلی یې دی:

- «فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللهِ لِنْتَ لَهُمْ وَ لَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَا انْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَ اسْتَغْفِرْلَهُمْ وَ شَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ.»

(د آل عمران سورة - ۵۹ آیت - ٤ سپاره)

**ترجمه:** نو یوازی په سبب د رحمت د الله نرمی کوی ته دوی ته او که وی ای محمده! بدخوی سخت زړه لرونکی هرو مرو به خواره او تار په تار شوی وو دوی له چاپیره ستا څخه، نو عفوه وکړه له دوی نه او دوی ته له الله مغفرت وغواړه، او په او په ځینی کارونو کولو کی مشوره وغواړه له دوی نه.

او فرمایلی یې دی:

- «اِنْ تُبْدُوا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوهُ اَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ فَاِنَّ اللهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا.»

(د نساء سورة - ۱٤۹ آیت - ٦ سپاره - ٤ سورة)

**ترجمه:** که تاسی خیر ښکاره کوئ یا پټوی دغه خیر یا عفوه کوی له بدی څخه نو بیشکه الله هم دی ښه عفوه کوونکی ښه قادر.

او فرمایلی یې دی:

- «فَاعْفُ عَنْهُمْ وَ اصْفَحْ اِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ.»

(د مائده سورة ۱۰۱ - آیت ۷ سپاره - ۵ سورة)

**ترجمه:** پس عفوه وکړه له دوی نه او مخ وګرځوه د دوی له سزانه بیشکه چی الله خوښوی احسان کوونکی.

او فرمایلی یې دی:

- «عَفَا اللهُ عَنْهَا.»

(د مائده سورة - ۱۳ آیت - ٦ سپاره ۵ سورة)

**ترجمه:** عفوه کړی ده الله له هغو تیرو پوښتنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام کې عفوه پر انتقام مقدم ده او نور ډير آياتو نه هم په دې باره کې موجود دي چې عفوه له انتقام څخه غوره ده، او که په ځينې حالاتو کې عفوه او تيريدنه راغلې نه وي هغه هم د انتقام بنه نه لري، بلکې هغه د مصلحت غوښتنه ده. ځکه چې اسلام عفوې ته پر انتقام ترجيح ور کوي. او د اسلام دين د عفوې دين دی نه د انتقام اخيستلو.

## د انتقام په مقابل کې د عفوې په باره کې د پيغمبر «صلى اللّه عليه وسلم» سيرت

نبی کريم صلى اللّه عليه وسلم ښتـه زيات ته عفوه او تيريدنه لرله چې دادی دلته د هغه د عفوې څو نمونې د نورو د تعليم په خاطر وړاندی کولی شي:

هبار بن اسود د رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم لور حضرت زينب هغه مهال په نيزه وو هله چې هغې له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت کاوه، چې د هبار د دغو وهلو له امله بی بی زينب پداسې حال کې له اوښ څخه پر ځمکه پريوتله چې اولاد يې په نس و، او د غورځيدو په سبب يې زوی ضائع کړ، او د اولاد د زيان کولو له امله زښته ډيره وينه ور څخه لاړه چې د زياتې وينې تللو په سبب په خپله بی بی زينب رضي اللّه عنها هم شپږ کلونه وروسته وفات شوه.

رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم د هبار پدې عمل ډير په غصه شو او اعلان يې وکړ چا چې هبار ووازه وينه يې هدر ده. او ويې فرمايل: «هبار مو چې هر چيرته ونيوه په اور کې يې ژوندی وسوځوئ، مگر بيا يې وروسته وفرمايل: په اور يې مه سوځوئ ځکه چې د اور خالق اللّه دی او اللّه تعالى پر اور باندې سوځول کوي، مگر که چيری مو هغه ونيوه نو هرو مرو يې قتل کړئ.

خو هبار ونه نيول شو او د مکې له فتح څخه وروسته يې ايمان راووړ، او رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم هغه ته په خطاب کې وويل: «ای هباره! ځه ما ته وبښلې او معافي مې درته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او الله تعالی پرتا باندی احسان وکړ چی تا ته یې د اسلام په لاره د تللو هدایت وکړ. (۱) او بیا وروسی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مکی خلکو ته عمومی عفوه اعلان کړه.

د قدرت په مهال کی عفوه څومره ښه ده! څومره لویه ارواده چی د کینی او انتقام له حدودو څخه په تیریدو سره د انسانیت د کمال له مقام څخه هم هسکه لاړه. دا هغه قریش وچی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوژلو پریکړه یی کړی وه. او دا هغه قریش وو چی د یارلس کلونه یې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د ده یارانو ته تکلیفونه رسول. دا هغه قریش و چی په بدر، احد او احزاب کی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خلاف جنگ ته راغلی وو، او په غزوه خندق کی یې له خپلو یارانو سره کلا بند کړی و او د عربو ټول قبائل یې د ده په خلاف په دغه جنگ کی راغونډ کړی وو. دا هغه قریش و چی که وس یې رسیدلی وای چی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم قتل کړی او ټکړی ټکړی یې کړی نو داسی به یې هرو مرو کړی وای او یوه شیبه به یې هم ډیل نه وای کړی.

خو اوس د مکی د فتح په مهال په سنه ۸هـ ۶۳۱م کی ټول د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ولکه او اختیار کی دی، مرگ او ژوند یې د ده په فرمان پوری تړلی و د ده لس زره ځواکمن فوځ کولی شوای چی په یوه شیبه کی مکه ویجاړه او ټول هستوگنی یې له منځه یوسی. مگر محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر دی او د ده استاذی او رسول دی. او هغه داسی څوک نه و چی دښمنی کوونکی او غوښتونکی وی یا وغواړی چی د غه شومه او ناوړه مفکوره په خلکو کی تبارز وکړی، هغه ظالم او ځان غوښتونکی نه و. الله تعالی هغه ته پر دښمنانو برلاسی ورکړه مگر ده خپلو دښمنانو ته عفوه وکړه چی پدی توگه

---

۱ - حیات محمد (ص) ۵۷۲-۵۷۶ مخونه مصنف: محمد حسین هیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښیګړی، وفا او عظمت هغه مقام ته ورسیده چې هیڅ کس ورته رسیدلی نه شي.

دمکې په فتح کې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم صرف اوولس ۱۷ کسان له خپلې عفوې څخه محروم کړل او مکې ته دننوتو په مهال کې یې فرمان صادر کړی وچې مسلمانان په هر ځای کې هغوی بیا مومې که څه هم ځانونه یې د کعبې په پردو پورې ځوړند کړي وي باید قتل یې کړي. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دغه فرمان دغوصې او کینې له امله صادر کړی نه و، ځکه چې هغه کینه بیخي نه پیژندله، مګر دغه وګړي دخورا ستر خیانت مرتکب شوي وو چې وژل یې لازم ګڼل. مګر سره له دې هم دهغوی زیات شمیر یې معاف کړل.[1]

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم ددومة الجندل دپاچا اکیدرله جرم او ګناه څخه تیر یږی لکه چې نامتو اسلامي مؤرخ ابن اسحق ویلي دي:

حضرت خالد رضي الله عنه اکیدر د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته لاس تړلی وړاندې کړ، مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه له وژلو څخه صرف نظر وکړ او دجزیه په ورکولو سره یې له هغه سره سوله وکړه.[2]

دغه راز دخیبر په غزا کې په ۷هـ ۶۳۰م کې یوې یهودۍ ښځې چې زینب بنت حارث نومیده او دسلام ابن مشکم میرمن وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دپسه په غوښه کې زهر ګډ کړي ؤ، چې رسول الله صلی الله ونه خوړه، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه معاف کړه مګر په دغه میلمستیا کې ورسره ملګری یو جلیل القدر صحابي حضرت بشر بن براء ددغې زهرجنې غوښې دخوړلو له امله په دریمه ورځ شهید شو چې بیا

---

۱- وسائل الشیعه، ج ۱۲ ص ۳۹، مصنف: شیخ حر عاملي. په لنډیز سره

۲- تهذیب سیرت ابن هشام ۲۳۲ مخ، سنن ابی داود ج ۲ ص ۵٤٥ باب في اخذ الجزیة

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي كريم صلى الله عليه وسلم دهغه په قصاص كي زينب بنت حارث يهودۍ ووژله.[۱]
داسلامي امت له پخوانيو زعيمانو څخه يو هم دافغانستان نامتو زعيم احمد شاه باباؤ، پدى باندى تاريخ پوهان ټول متفق دي چي احمدشاه يو متقي او پرهيزگار حاكم تير شوى دى. نوموړى پر خپل نفس حاكم او له اخلاقي رذائلو څخه پاك و او دانسان وژنى مينه يې نه لرله.
دغه راز تاريخ پوهانو ويلي دي چي كله احمدشاه بابا لاهور ته لاړ نو هلته دمرهټيانو هندوانو يو شخص چي دملها روراكوله پلوه دملتان والي ټاكلى شوى و غازيانو ونيو او احمدشاه بابا ته يې څنځير زولانه وړاندى كړ، احمدشاه دراني چي يو جرم ښښونكى، او عيب پټوونكى ميړنى پاچاو نو د خپلي فطري ميړاني او ځوانمردي په مقتضاد نوموړى كافر له قتل كولو څخه تير شو او هغه يې روغ رمټ خپل هيواد ته وليږه او پخپله هم دخپلو امراو او دفوځونو دمشرانو په گډون دوآبه ته رهي شو لكه چي يو شاعر ويلي دي:

ز لاهور كَوسِ عزيمت نواخت    به سوى دوآبه علم بر افراخت[۲]

او دهمدغه كتاب له ۶۱۲ مخ څخه معلوميږى چي د نصير خان بلوڅ مور له خپلو رئيسانو او دبلوچستان له معتبرو سپين روبوسره د احمدشاه بابا حضورته دخپل زوى دپښيمانتيا داظهار له پاره دهغه له ندامت نامى سره راغله چي دهغى ندامت نامي څو بيتونه په لاندى كرښو كي وړآندى كولى شي:

گناهي كه كردم زنا داني است    سر انجام ناداني پشيماني است
همين دفعه بخشد گناهم اگر    زحكمش نه پيچم ازين بعد سر

---

۱ - تهذيب سيرت ابن هشام ۱۸۶ مخ، صحيح البخاري دويم ټوك كتاب المغازي باب غزوة خيبر ۶۱۰، قسطلاني او زركشي ويلي دي: دمړ شوى صحابي نوم براء بن معرورو، والله علم
۲ - افغانستان په وروستيو پنځو پيړيو كي دريم ټوك ۱۳۴ مخ مصنف محمد صديق فرهنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنم خدمت بندگانش مـــدام نیایم به اخـلاص کیـش قـیام

له دی کبله چی احمدشاه بابا درانی دخپلی فطری میړآنی په مقتضا هیڅوک هم له خپلی مهربانی څخه نه محروموول، او دهیله منو ناامیدی یې دمیړانی او مسلمانی خلاف گڼله دمیر محمد نصیر خان بلوڅ التماس یې قبول کړ او دهغه له تقصیر څخه تیر شو او دهغه جرمونه یې ورته معاف کړل او هم یې دهغه ټول استاذی وبښل او ټول یې دبلوڅی قلات کلا ته ولیږل او ټولو بلوڅو ته یې دپاچا له پلوه دځان او مال دامن زیری ورکړ.

# امنیت مصئونیت راولی

په کوم ځای کی چی امنیت قائم او ټینګ شی هلته بنستیز مصئونیت را درومی او مصئونیت تل دامنیت تابع وی؛ که چیری دامنیت ارکان ګډوډ شی مصئونیت هم په بی نظمی بدلیږی، له همدی کبله همدا امنیت دی چی داسلامی شریعت دپنځو مهمو اصولو دین، ځان، مال، شرف او ناموس او عقل مصئونیت منځته راوړی، او اسلام دهمدغو پنځو اصولو دساتنی او ژارنی کوشش کوی، دا ځکه چی ددغو پنځو اصولو ساتنه او څارنه په ژوند کی مصئونیت راولی. او ددین څارنه، ددین کلیمه دهغی په پراخه معنا سره ده چی دژوند ټولی چاری لکه تجارت، اقتصاد، فرهنګ او نوری ټولی ټولنیزی چاری پکی را درومی.

لکه څرنګه چی ما وویل مصئونیت دامنیت زیږنده ده ، دمجازاتو، حدودو او قصاص تطبیق دهمدغو پنځوګونو اصولو دساتنی په مبنا ولاړ دی، او په حدیث شریف کی راغلی دی چی له حضر موت څخه به ایکی یو سړی او یا ښځه کعبی ته راتلله طواف به یې وکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیر ته به هم تنها تلله او له هیڅ شی څخه به نه ویریده. او په بل حدیث کی راغلی دی چی یو سړی به د یمن له هیواد څخه حجاز ته یوازی ته او په داسی حال کی چی طواف به یې هم وکړ او هیڅ ویره او اندیښنه به یې نه کوله ځکه چی امنیت قائم و خپل دین، ځان، مال او ناموس یې مصئون وو، مګر که چیرې امنیت نه وی مصئونیت بیخی وجود نه لری. د اسلام د مبین دین شریعت د غو تعمیری اهدافو ته د رسیدو په خاطر یو لړ وسائل تجویز کړی دی ځو له هغو څخه په استفاده کولو سره د پنځوګونو اصولو ساتنه وکړای شی. (۱)

په همدی اساس جهاد، د دین د حفاظت له پاره، قصاص د نفس د حفاظت له پاره، د شرابو تحریم د عقل د سلامتی د تأمین په خاطر، د زنا او قذف د حدودو اجراء د آبرو د تحفظ په خاطر او د غلا د حد اجراء د مال د ساتنی او حراست په خاطر مشروع شوی دی. (۲)

او له دی امله چی امنیت او بیا ورپسی مصئونیت د سولی او جنګی متارکی له لاری کیدلی شی چی تامین شی. همدا وجه وه چی د اسلام دویم خلیفه امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه د حضرت عبیده بن جراح رضی الله عنه چی د ده والی و مرستی ته لاړ څو بیت المقدس د سولی له لاری فتح کړی، څو امنیت او مصئونیت بیرته هغه سیمی ته راولی. ځکه چی د بیت المقدس هستوګنو نصرانیانو د خلیفه نوموړی والی ته داوړاندیز وکړ چی تر څو په خپله خلیفه رانه شی له بل هیچا سره به هم مونږ د سولی تړون لاس لیک نه کوو، همداغه و چی په سنه ۱٦ هـ کی له سنه ٦۳۷ مسیحی کال سره سم په خپله حضرت عمر رضی الله عنه پر آس باندی سور فلسطین ته لاړ او د سولی تړون یې په خپله ورسره لاس لیک کړ او په هغه چاپیریال کی یې بیرته امنیت او مصئونیت اعاده کړ. د همدغو علتونو له مخی مونږ وینو چی د نړی د ګردو هیوادونو اسلامی وی او که غیر اسلامی

---

۱ - فی ظلال سورة التوبه ۱۱۰ مخ مصنف ډاکټر عبدالله عزام شهید
۲ - الوجیز فی اصول الفقه ۲۳٦ مخ د ډاکټر عبدالکریم زیدان تصنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګردو په اساسي قوانینو کې د دین د ساتنې او د مذهبي شعار اداء کولو، د نفس، مال، ناموس عقل او آبرو د خوندي ساتلو له پاره ځانګړې تدابیر وضع کړي دي، او د دوی د څارنې له پاره يې ډاګیزې قانوني مادې تجويز کړي دي. چې د هغو له جملې څخه کولی شو د مثال په ډول د افغانستان د سنه ۱۳٤۳ د تلې د میاشتې د نهمې نیټې د اساسي قانون او له هغه څخه د مخه د سنه ۱۳۱۰ هـ ش کال اصول اساسي، او د داود خان د عصر د ۱۳۵٦، په دغو ګردو کې د خلکو د اساسي حقوقو په فصلونو کې د دولتونو تضمینات موجود دي چې په هغو کې ویل شوي دي چې دولت د امنیت او مصئونیت د ساتنې ذمه وار دي.

او دا له دې کبله چې مصئونیت د امنیت له تأمین څخه پرته را تللی نه شي او امنیت هغه مهال د عمل په ډګر کې پیل کیږي چې خلک د سولې، پخولاینې او سوکالۍ په فضا کې ژوند وکړي.

حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه متوفی سنه ٦٧ هـ ٦٧۰ م یوځل له نبي کریم صلی اللّٰه علیه وسلم سره ناست ؤ چې دوه کسان نبي علیه الصلاة والسلام ته راغلل، یو تن له فقر او بې وزلۍ څخه شکایت وکړ او هغه بل له عدم امنیت څخه او د مصئونیت له فقدان څخه. حضرت عدي د دغه ډول خبرو له اوریدلو څخه زړه تنګی شو او له ځان سره وایي: د دغه دین چې مونږ يې پیروان یو د ښه والي او غوره والي څه اوصاف لري، پداسې حال کې چې ټول فقیران دي او نه شي کولای چې د مدینې امنیت تأمین کړي. رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم عدي ته وکتل او پوه شو ځکه چې د هغه ښه بدله شوې وه نو ورته ويې فرمایل: اې عدي؛ د حیره د سیمې په باره کې معلومات لرې؟ حضرت عدي په ځواب کې وویل: د حیره په باره کې مې اوریدلې دي مګر په خپلو سترګو مې لیدلې نه ده. نبي کریم صلی اللّٰه علیه وسلم ورته وفرمایل: که ژوندي وې او عمر دې اوږد شو، نو ډاډه او سه هرو مرو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ښځه ووینې چې ایکې یوازې به له حیره څخه راشي او له کعبې څخه به طواف وکړي، او په ټوله لاره کې به د سفر په اوږدو کې له الله تعالی څخه پرته له بل هیچا څخه نه ویرېږي.

حضرت عدي باور نه کاوه. نومړی وایي: له ځان سره مې وویل: چیرته به وی د طئ د قبیلې غله. هغه بدمرغه او تېټ فطرتي چې انسان د یو درهم له پاره چې په جیب کې یې وي وژني . او که پیسې ونه لري نو لباس او څپلۍ ورڅخه تروړي او خوشاله وي چې مال یې ترلاسه کړي دي. نو ما وویل: هغه مهال چې هاغه ښځه به له دومره لرې واټن څخه راځي او د کعبې له طواف کولو څخه به وروسته بیا یوازې ځي او له الله تعالی څخه پرته به له بل هیچا څخه هم نه ویرېږي نو غله او د لارې شوکماران به چیرته وي؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

او که چیرې ژوند وي نو وبه ګورې چې د ایران د پاچا کسرې خزانې به څرنګ د مسلمانانو په ولکه کې لوېږي؟ حضرت عدي وویل: د هرمز دزوی د کسرې خزانې؟!! ورته ویې فرمایل: هو د کسرې بن هرمز خزانې. هرومرو به د کسرې خزانې د مسلمانانو په ولکه کې راځي او د جهاد په لاره کې به مصرف کیږي، او که چیرې ته ژوندي پاتې شوې هرومرو به وګورې چې یو کس به خپل موټی له سروزرو یا سپینو زرو څخه ډک کړي وي او په خلکو کې به ناري وهي چې که د چا د غه مال ته اړتیا وي رادې شي چې زه یې ورکړم، مګر هیڅوک به هم نه پیدا کیږي.

حضرت عدي وایي: رښتیا هم بیا ما په خپل ژوند کې په خپلو سترګو ولیدل چې یوې ښځې ایکې یوازې د کعبې طواف کاوه او له الله تعالی څخه پرته له بل هیچا څخه نه ویریده. او زه په تاسې کې له هغو کسانو څخه یم چې مونږ د کسرې د خزانو ورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرانستل، او که تاسي ژوندي وئ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ریمه خبره به هم هرو مرو، ووینئ چي متحققه او ثابته شي.

دامیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه زمانه راغله او یو کس یې دافریقا په امارت وګوماره چي یحی بن سعید نومیده او دافریقا زکاة یې جمع کړ او بیا یې یوه میاشت پر له پسي اعلان کاوه چي که څوک پیسو ته اړتیا لري رادې شي او دغه مال دی واخلي، مګر هیڅوک هم داسي پیدا نه شو چي مسکین وی او مال ورڅخه واخلي، له همدی امله خلیفه خپل دافریقا والی ته ولیکل او حکم یې ورته وکړ چي په دغو روپیو مریونه واخلي او دالله په لاره کي یې ازاد کړي.

په پورتني بیان کي مونږ ښکاره ولیدل چي لیاري څرنګ په أمن وی، او دتلو راتلو مصئونیت یې منځته راوړی و او خلکو له اندیښني او سرخوګي پرته په سوکالي ژوند کاوه. او کله چي د سنه ۱۳۵٦ کال دافغانستان دجمهوری دولت أساسي قانون مطالعه کړای شي، په هغه کي دحکومت دوظائفو په پنځم فصل یو نوی یمه ۹۱ ماده کي لیکلي شوی دی: دعمومي امن او نظم دتأمین په خاطر لازم تدبیرونه ونیول. دغه راز په پنځم فصل کي یې راغلي دی: دقانون له احکامو سره سم دهرډول فساد دله منځه وړلو له پاره لازم او اغیزمن تدبیرونه نیول.

هر هیواد دخپلو خلکو دژوند په ټولو اړخونو کي دامنیت او مصئونیت دساتلو په خاطر لازم تدبیرونه نیسي، او داستخباراتي مراکزو پراخه تشکیلات او دملي امنیت دانجمنونو جوړول دکورني او بهرني مصئونیت دتأمین په خاطر وی، او له فساد سره دمبارزي په لاره کي غنتي بودیجي لګولي کیږي. له همدې کبله مونږ ګورو چي په اسلام کي قصاص خاص او ځان ګړی ارزښت لري لکه چي الله تعالی فرمایلي دی:

«وَ لَکُمْ فِیْ الْقِصَاصِ حَیَاةٌ یَا وْلِی الْاَلْبَابِ لَعَلَّکُمْ تَتَّقُوْنَ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دبقری سورة - ۱۷۹ آیت - دویمه سپاره)

**ترجمه:** *او تاسی ته په قصاص کی لوی ژوند دی ای عقلمندانو! ددی له پاره چی له ناحقه قتل څخه ځان وساتئ.*

که څه هم په ظاهره کی د قصاص حکم د روند معلومیږی مگر عقلمند وگړی پوهیږی چی په حقیقت کی دغه الهی حکم د لوی ژوندون سبب دی. دا ځکه چی د قصاص له ویری څخه خلک د یو بل له وژلو څخه ځان ژغوری چی پدی صورت کی قاتل او مقتول دواړه مأمون او مصئون پاتی کیږي او د قصاص له ویری څخه د معنوی ویری نه همړوینه سره نه تویوي او فساد نه کوی له یو بل څخه ډاډه او مصئون وی. د جاهلیت په زمانه کی به عربو تل د قاتل او غیر قاتل ترمنځ توپیر نه کاوه؛ بلکی د مقتول وارثانو ته به چی د قاتل د قبیلې هرڅوک په لاس ورغی هغه به قتل کاوه، او د یو قتل په وجه به له دواړو خواو څخه څوکسان تلف کیدل. پداسی حال کی چی که قاتل قصاص شی نو معلومه خبره ده چی دومره ډیر قتلان بیا نه کیږی او نفسونه، نه ابته کیږی. چی له همدی کبله دا معنا هم لری چی د قاتل په باره کی قصاص اخروی ژوند او تلپاتی ډاډ دی.

نو دا خبره په څرگنده توگه ثابته شوه چی قصاص د أمن د تامین او د ځان، او د خلکو د ژوندون د امان په خاطر مشروع شوی دی، او دغه قصاص د بدن په نورو اندامونو کی هم له هغو معیارونو سره سم د اجراء وړ دی چی فقهاؤ تاکلی دی. او د نورو هغو ادیانو په پرتله چی د بشر په لاسونو جوړ شوی دی د اسلام مقدس دین امنیت ته زیاته پاملرنه کړی ده او د هغه له پاره یې اصول او قواعد او ځانگړی اسالیب وضع کړی دی چی د هغو له بارزو نمونو څخه یوه هم له مکی څخه مدینی منوری ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت نیکمرغه نوښت دی.

کله چی مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د برنامی جوړولو مبادی ؤ او قواعدو مطالعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوو نو دې نتیجې ته رسیږو چې مونږ ته یې دا تعلیم راکړی او راته فرمایلي یې دي: چې مونږ باید په ژوند کې هیڅ قول او فعل له نخچې او برنامې پرته ونه کړو. او له نظم او نسق څخه سترګې پټې نه کړو، او بیا په خاصه توګه د ژوند له اسبابو او لوازمو څخه صرف نظر کول د اسلام په قاموس کې وجود نه لري. نو له همدې امله مقصد ته د رسیدو له پاره باید په اسبابو لاس پورې کړې شي، او د ژوند له خطرونو څخه په ډکه لاره په هوښیار تیا سره ګام کېښودلې شي. ځکه مونږ وینو چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره له دې چې د الله تعالی په نصرت معتقد او مؤمن و او دا کوټلی باور یې لاره چې الله تعالی یې یوازې نه پرېږدي او بریالی توب دده په برخه کوي مګر بیا یې هم پر اسبابو او لوازمو منګولې لګولې وې.

د مثال په ډول: کله چې د هجرت اذن ورته وشو نو د امنیت او مصئونیت په خاطر یې د سفر مهال په بشپړه توګه پټ وساته یوازې حضرت ابوبکر صدیق او حضرت علي رضی الله عنهما خبر وو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت د سفر وخت پټ ساتل او د هغه دا حکم چې «خپل حاجتونه په پټه او سرې توګه ترسره او پوره کوي» دا ثابتوي چې په ژوند کې د اسبابو توسل ضروري دی.

د شپې د ریمه برخه پاتې وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له کور څخه د هجرت په سفر ووت او له کور څخه د وتلو په مهال کې ابوبکر صدیق د خپل کور له عمومي دروازې څخه استفاده ونه کړه بلکې د کور شا ته یې چې کوم ، دریڅه او کړکۍ وه دواړه په هغې ووتل، څو هیڅوک هم د دوی په حرکت پوه او ورته متوجه نه شي او د خپل خوب په بستره یې حضرت علي څملاوه څو دده د کور محاصره کوونکي مشرکان دا ګومان وکړي چې پخپله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم موجود او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده دی، او له مکې څخه مدینې ته د حرکت لوري یې د مکې جنوب تثبیت شو نه په شمال لاړل او نه هم په لویدیځ پلو، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پتیلي وه چې که د شمال په اوږدو کې لاړ شي نو ښایي چې د ښمنان یې پیدا کړي ځکه چې د مکې لاره تر مدینې پورې له جنوب څخه تیریږي او هیڅ هم دا فکر نه کاوه چې یو نابلده مسافر به پردې لاره لاړ شي، او که چیرې قریش دده په لټیون کې پسې لاړ شي نو د شمال او لویدیځ لورې به تعقیبوي.

له مکې څخه په وتلو سره یې سم لاسي مدینې ته په سفر کولو بریدونه کړ بلکې د ثور د غره په سمڅه کې یې پناه واخیسته څو قریش هر لوري ته دده لټه وکړي. د پټیدو له پاره د ثور دغره د سمڅې انتخابول او په هغه کې الونیا کیدل یو عقلمندانه نوښت و. ځکه هغه ځای بیدیاوه او په هغه وخت کې ابادي پکې نه وه، او اوس هم په هماغه بڼه کې ده. او که یو زلمي وغواړي چې د ثور سمڅې ته وخیږي باید ډیر ربړونه وګالي، پداسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغې سمڅې ته د ختلو په مهال کې دري پنځوس ۵۳ کلن و. نبي کریم صلی الله علیه وسلم عبدالله بن ابی بکر ته استخباراتی دنده اوسپارله څو په مکه کې د قریشو له عکس العملونو څخه دوی ته رپوټ تیار کړي او بیا د شپې سمڅې ته راشي او دورځې تول جریان ورته ووایي: او په پرله پسې ډول دد ښمن له خبرونو او اقداماتو څخه خبر رسیږي، چې د هغوی د تیرې ددفع کولو له پاره تصمیم ونیسي.

او ددې له پاره چې د عبدالله بن ابوبکر رضی الله عنه په تلوراتلو د پښو د قدمونو خاپونه پاتې کیدل او له د ښمن سره یې په کشف کې مرسته کوله نو د ابوبکر صدیق د رمې شپون عامر بن فهیره ته یې حکم وکړ چې کله عبدالله بن ابوبکر د شپې له پلوه ووځي نو ورپسې ته خپلې رمې ته حرکت ورکوه څو د عبدالله د پلونو خاپونه ړنګ شي او پاتې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت اسماء بنت ابوبکر د طعام وروړلو دنده پرغاړه لرله. لارښودونکی یو بت پرست عبدالله بن اریقط ؤ چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې له مکی څخه مدینی ته لارښودنه کوله او دا چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ولی یو بت پرست لار بلدی د ځان له پاره وټاکه او خپل کوم صحابی یې تعین نه کړ، د دی په خاطر چی د هجرت راز یې پټ پاتی شی، او د ابوبکر صدیق د شپونکی عامر بن فهیره او د عبدالله بن اریقط ترمنځ اړیکی په دقیقه توګه سنجولی شوی وی، ځکه عادتاً شپونکیان کوشش کوی چی په خپل منځ کی سره کینی مجلس سره کوی او د یوبل له حالت څخه ځان خبروی، او د غه اړیکی شکمنی نه وی چی څه خطر ورڅخه وی، د غه راز د علی بن ابی طالب کردار او د عبدالله بن ابوبکر او اسماء بنت ابی بکر له کردارونو څخه توپیر لروکی وه د غه راز د عبدالله بن اریقط برخه اخیستل د عبدالله بن فهیره له برخی اخیستو سره، سره له دی چی دواړه شپانه وو توپیر لاره.[1]

له دغه جریان څخه دا نتیجه لاس ته راځی چی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دامنیت د ساتنی په خاطر او د خپل ځان د مصئونیت له پاره له خپل ځان سره ابوبکر صدیق ملګری کړ او په راتلونکی کی له اسلامی امت سره د مینی لرلو په نمط یی وکولی شو دامنیتی تدابیرو په نیولو سره اسلامی ټولنی ته له یو قریب الوقوع خطر څخه نجات ورکړی.

## پای

وصلی الله علی محمد و علی آله وصحبه و سلم

---

۱- مدخل الی قیادة اسلامیه ۸۷ مخ مصنف شیخ ابوبرهان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
5.72
AHM
9361
CAD-1

د سولې په نامه کتاب د اسلام د مقدس دین له نظره لومړنی څیړنیز، تحقیقي اثر ده چې د سولې او پیوستون لپاره د همکارۍ د ټولنې له خوا چاپ شوی. دا کتاب د دوو نومیالیو او مشهورو دیني عالمانو د هلو ځلو نتیجه ده چې په دوو ملي ژبو، پښتو او دری خپور شویدی. د یادونې وړ ده چې دا کتاب مخکې له دې چې چاپ شي د یو دری ورځنی ورکشاپ په لړ کې د افغاني پوهانو له خوا تر غور او څیړنې لاندې ونیول شو او هر اړخیز بحثونه پرې ترسره شول او د قبول وړ وګرځید.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**